د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## اتم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)




۱۳۹۸
هـ. ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پېرودل او پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## اتم ټولګی

**(د دیني مدارسو لپاره)**

۱۳۹۸
هـ.ش

## مؤلفین

- سر مؤلف، عبدالغیاث غوري (د تاریخ برخه)
- مؤلف عبدالمالک عابد (د تاریخ برخه)
- د مؤلف مرستیاله، ستورى سادات (د تاریخ برخه)
- سرمؤلف محمد رفیق مومند (د جغرافیې برخه)
- محمد فاروق عمرخیل (د مدني زده کړې برخه)
- مؤلف محمد انور مشفق (د مدني زده کړې برخه)
- سرمؤلف محمد افضل حضرتی (د مدني زده کړې برخه)

## مسلکي ایډیټ:

- پوهنمل زلمی هوتک (د تاریخ برخه)
- پوهاند غلام جیلاني عارض (د جغرافیې برخه)
- میر عبیدالله فاضل (د مدني زده کړو برخه)

## د ژبې ایډیټ:

- سرمؤلف امین الله نژند
- مؤلف اقا محمد گړندی
- مؤلف محمد قدوس ذکوخیل

## دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه:

- دکتور عبدالصبور فخري
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

## إشراف

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلېږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاوېدان
نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و آصحابه آجمعین، آما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیاکتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### قدرمنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!

د ديني مدارسو د اجتماعياتو درسي کتاب د افغاني ټولنې د اړتياوو، د معارف د محترم وزارت د پاليسي د نصاب د ليکنې فن او معاصرو معيارونو او درسي مفرداتو د افقي او عمودي تسلسل په پام کې نيولو سره ليکل شوی دی.

د ديني مدارسو د اجتماعياتو په مضمون کې پر تاريخي مطالبو سربېره د جغرافيې او مدني معلوماتو مفاهيم شتون لري. د تاريخ په برخه کې هڅه شوې چې د ديني مدرسو زده کوونکي د زده کړې په وخت د افغانستان او نړۍ له لرغوني تاريخ، منځنيو پيړيو، نوې پيړۍ او معاصرو پېښو سره پېژندګلوي او معلومات تر لاسه کړي او هم پدې پوه شي چې انسانانو په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې کوم تاريخي پړاوونه تير کړي دي او په راتلونکې کې ښايي څرنګه چلن وکړي.

د جغرافيې په برخه کې د علمي اړتياوو په پام کې نيولو سره علمي مطالب داسې توضيح شوي چې زده کوونکي د موقعيتونو، طول البلد، عرض البلد، غرونو، سيندونو، جهيلونو، بحرونو، کرنې، څارويو، معادنو، ځمکني، بحري او فضايي ترانسپورت، اوبو او هوا، نژاد، ژبو، مذهب، لويو وچو او هېوادونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې د ژوند په سمون کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

د مدني معلوماتو په برخه کې د بشري ټولنو، ارزښتونو، مقرراتو او قوانينو، اعتقاداتو، اقتصاد، سازمانونو، ټولنو، جوړښتونو او د مادي او معنوي اړتياوو په اړه لازمي او اړين مطالب توضيح شوي چې زده کوونکي په ورځنيز ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

د اجتماعياتو د مضمون د يوې بشپړې دورې (له اووم څخه تر دوولسم ټولګي پورې) له زدکړې وروسته تمه کېږي چې د ديني مدرسو زده کوونکي د ټولنيزو علومو په مباديو او اساساتو پوه شي، د دې علم له مهمو اصطلاحاتو سره آشنايي تر لاسه کړي. د هيواد او نړۍ د ورځنيو پېښو په خبرونو وپوهيږي، سياسي اقتصادي او ټولنيزې پيښې تجزيه او تحليل کړای شي او پايله ورڅخه واخيستلای شي او په دې توګه په ټولنه کې فعال غړي شي او د ديني او اجتماعي علومو په يو ځای کولو سره د خدای(ج) د دين ريښتيني او اغيزمن مبلغين ورڅخه جوړ شي.

هيله کېږي چې د دغه مضمون محتويات د ديني مدرسو د استادانو لپاره په زړه پورې او زده کوونکو ته يې د ټولنيزو معلوماتو يوه ګټوره منبع وګرځي.

و الله ولي التوفيق

# لړلیک

عنوانونه | مخونه

## لومړۍ برخه: تاریخ

## لومړی څپرکی(د اسلام د راتګ لومړي وختونه)


د اسلام د راتګ پر مهال د نړۍ حالت ته کتنه ........................................ ۱-۴
عربستان د اسلام د ظهور په درشل کې ........................................ ۵-۶
د عربستان په ټاپوو زمه کې د اسلام د سپیځلي دین د ظهور اړتیا ........................ ۷-۸
حضرت محمد ﷺ له زیږېدو تر بعثت پورې ........................................ ۹-۱۲
حضرت محمد ﷺ له بعثته تر هجرته پورې ........................................ ۱۳-۱۴
حضرت محمد ﷺ له هجرته تر رحلته پورې ........................................ ۱۵-۱۶
د حضرت محمد ﷺ مهمې غزاګانې او پیښې ........................................ ۱۷-۲۲


## دویم څپرکی(خلفای راشدین)


د خلافت معنا او مفهوم ........................................ ۲۳-۲۶
د خلافت د جوړېدو سریزه ........................................ ۲۷-۲۸
د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلافت ........................................ ۲۹-۳۰
دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه خلافت ........................................ ۳۱-۳۲
د حضرت عثمان رضي الله عنه خلافت ........................................ ۳۳-۳۴
د حضرت علي رضي الله عنه خلافت ........................................ ۳۵-۳۶


## دویمه برخه: جغرافیه

## لومړی څپرکی (اروپا)


د اروپا لویه وچه وپیژنئ ........................................ ۳۹-۴۰
د اروپا طبیعي جغرافیه ........................................ ۴۱-۴۲
د اروپا سیاسي جغرافیه ........................................ ۴۳-۴۴
د اروپا بشري جغرافیه ........................................ ۴۵-۴۶
د اروپا ژبې او نژادونه ........................................ ۴۷-۴۸
په اروپا کې دین او مذهب ........................................ ۴۹-۵۰
د اروپا اقتصادي جغرافیه ........................................ ۵۱-۵۲
د اروپا کانونه او صنایع ........................................ ۵۳-۵۴
د اروپا ترانسپورت ........................................ ۵۵-۵۶
هوایي کرښې ........................................ ۵۷-۵۸

## دویم څپرکی (د امریکا لویه وچه)


د امریکا د لویې وچې د جغرافیایي موقعیت په هکله څه پوهېږئ؟ ............ ٦٣-٦٤
امریکا څه وخت او د چا له خوا کشف شوه؟ ............ ٦٥-٦٦
د امریکا سیاسي جغرافیه ............ ٦٧-٦٨
د امریکا بشري جغرافیه ............ ٦٩-٧٠
د امریکا نفوس او مذهبونه ............ ٧١-٧٢
د امریکا اقتصادي جغرافیه ............ ٧٣-٧٤
لاتینه امریکا ............ ٧٥-٧٦
د امریکا مواصلاتي جغرافیه ............ ٧٧-٧٨
١- شمالي امریکا ............ ٧٧-٧٨
٢_ سوېلي امریکا ............ ٧٩-٨٠


## درېیمه برخه: مدني زده کړې

## لومړی څپرکی (اقتصاد)


ولې د اقتصاد علم زده کوو؟ ............ ٨٥-٨٦
د اقتصاد علم د کومو موضوعګانو په باره کې بحث کوي؟ ............ ٨٧-٨٨
د اقتصاد ارزښت ............ ٨٩-٩٠
د څیزونو او خدمتونو اقتصادي مفهوم ............ ٩١-٩٢
مصرفي او پانګه ییز څیزونه ............ ٩٣-٩٤
تولید، توزیع او مصرف ............ ٩٥-٩٦
عرضه او تقاضا ............ ٩٧-٩٨
د پیسو اهمیت او دندې ............ ٩٩-١٠٠


## دویم څپرکی (ښوونه او روزنه)


ښوونه او روزنه څه ته وایي؟ ............ ١٠٣-١٠٤
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې لنډ تاریخ ............ ١٠٥-١٠٦
په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ رول ............ ١٠٧-١٠٨
په ښوونه او روزنه کې د مدرسې ونډه ............ ١٠٩-١١٠
په ښوونه او روزنه کې د چاپیریال اغېزه ............ ١١١-١١٢
ټولنیزه او اخلاقي روزنه ............ ١١٣-١١٤
د اړینو پوهو او مهارتونو زده کول ............ ١١٥-١١٦
د نوښت د روحیې روزنه ............ ١١٧-١١٨

# د تاریخ برخه

## لومړی څپرکی



### د اسلام د راتګ لومړي وختونه

په دې څپرکي کې به د اسلام د راتګ پر مهال د نړۍ د حالت، د عربستان د ټاپووزمې، د اسلام د سپېڅلي پیغمبر حضرت محمد (صلي الله علیه وسلم) د ژوند او د اسلام د پیل د تاریخ په اړه په لنډ ډول بلدتیا پیدا کړئ.

# د څپرکي موخې

هیله کېږي چې زده کوونکي د دې څپرکي په پاي کې لاندې(پوهنیزو، مهارتي او ذهنیتي) موخو ته ورسېږي:

۱- د اسلام د سپېڅلي دین د را تګ پر مهال د نړۍ او د عربستان د ټاپووزمې له عقیدتي، سیاسي او ټولنیز حالت سره پېژندګلوي پیدا کړي.

۲ - د حضرت محمد ﷺ ، له ژوندانه سره پېژندګلوي پیدا کړي.

۳ - د هغه مهال پېښې تحلیل کړای شي.

٤ - د هغه مهال پېښې له یو بل سره پرتله کړای شي.

٥ - په عملي ژوند کې د اسلام له ښېګڼو څخه خوند واخلي.

٦ - له هغه هر څه چې د اسلام د سپېڅلي دین پر خلاف دي، لرې والي پیداکړي.

# د اسلام د راتګ پر مهال د نړۍ حالت ته کتنه

د اسلام د سپیڅلي دین د راتګ پر مهال د نړۍ حالت له سیاسي، عقیدتي، اقتصادي او ټولنیز پلوه ډېر کړکېچن او یو بنسټیز بدلون ته اړتیا وه. د اروپا وضعه د منځنیو پېړیو له پیل څخه د اسلام تر راتګه پورې د بېلګې په توګه په لنډ ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

## د منځنیو پېړیو له پیل څخه د اسلام تر راتګ پورې د اروپا سیاسي وضعه

اروپا د منځنیو پېړیو له پیل څخه تر اتمې او نهمې زېږدیزې پېړۍ پورې تل د بربر قومونو تر تېریو لاندې وه او دغو قومونو د روم پر خاوره تېری وکړ. په پایله کې د هغوی د پرله پسې یرغلونو له امله لوېدیځ روم په (۴۷۶) زېږدیز کال کې له منځه لاړ، یوازې ختیځ روم چې مرکز یې قسطنطنیه (استانبول) و، تر پنځلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې دوام وکړ او په(۱۴۵۳ زېږدیز ) کا ل کې د سلطان محمد فاتح له خوا فتح شو.

د منځنیو پېړیو لومړنی یرغل کوونکي دوې ډلې وې، یوه ډله یې (جرمنیان) او بله ډله یې (هونان).

د هالنډ، ډنمارک، د آلمان فدرالي جمهوریت، چکوسلواکیا( د چک او سلواک هېوادونه)، مجارستان (هنګري) اوسنی رومانیا په خاورو کې، کوچي قومونو د (جرمنیانو) په نوم ژوند درلود، چې تل به د دانیوب له سیند څخه تېرېدل، د لوېدیځ روم د امپراتورۍ او د هغوی د مدنیت د ستونزو لامل ګرځېدل.

هونانو هم چې اصلاً په مغلستان کې مېشت وو او خپل ژوند یې په ښکار او غلاکولو باندې پر مخ وړو، لږ لږ د لوېدیځ پر لور وړاندې لاړل او په (۳۵۰ زېږدیز) کال کې د کسپین (خزر) سمندرګي او سویلي روسیې ته ورسېدل. سر لښکر یې اتیلا نومېده، یو ظالم او غل سړی و، دې سړي د روم دولت له ماتې سره مخ کړ او تر یوې مودې پورې یې دوام وکړ. د روم امپراتوري هغه ته باج ورکاوه، خو په ( ۴۵۱ زېږدیز) کال کې یو ځل دا خراج بند شو. اتیلا بیا تېری وکړ خو ماته یې وخوړه.

نومړي بل کال له تازه دمو لښکرو سره ایټالیا ته پام واړاوه او د میلان ښار یې ونیو او د روم د نیولو په تکل یې حرکت وکړ خو پاپ د پیسو په ورکولو سره هغه له خپل عزم څخه واړولو. په پایله کې نومړي(اتیلا) د هنګري په ښار کې مړ او د روم دولت د هغه له شر څخه خلاص شو. له هغه څخه وروسته زامنو یې په خپلو منځو کې مخالفتونه وکړل او دغه ستر دولت تجزیه شو.

نورو قومونو لکه لومباردان او ویزیګوتان چې د الپ د حوزې او د پروس (لویدیځ (آلمان)) لومړنی ډله اوسېدونکي وو، په (۵۶۸ زېږدیز) کال کې د شمال له خوا په ایټالیا یرغل وکړ او د ایټالیا مرکزي او شمالي برخې یې تر ولکې لاندې راوستې او وروستنۍ ډلې پر اسپانیا او پرتګا ل چې په کلونو له تېریو څخه لرې وو، په (۴۰۹ زېږدیز) کال کې لکه د روم د امپراتورۍ د ډېرو برخو په شان، پر هغوی باندې یرغل وکړ.

له دوي سربېره د دوو نورو لویو قومونو څخه چې د فرانسې او انګلستان د سلطنتونو بنسټ یې کېښود، اړینه ده چې یادونه یې وکړو. له هغو څخه یو یې فرانکان دي چې د ژرمن له څو ډلو څخه یو ترکیب شوی قوم دی او پخوا یې د بالتیک په غاړو کې ژوند کاوه. هغوی د ډېرو جرمنیانو په شان ځواکمن او زړه ور خلک وو. د روم قیصر هغوی په خپل پوځ کې ځای پر ځای کړل. هغوي ډېر وخت د رومیانو تر فرمان لاندې پاتې شول. کله چې رومیان کمزوري شول، دوي واک لاس ته راوړ. تر هغه چې د هغوي سردار شیلیدریک د فرانکانو پادشاهی ته ورسېد. کلوویس د شیلیدریک زوي و چې د روم دولت د هغه پادشاهي په رسمیت وپېژندله. هغه د ژوند په وروستیو کلونو کې پاریس خپل مرکز وټاکه او د سنت پول او د سنت پیرکلیساګانې یې هلته جوړې کړې.

کلوویس د فرانسې د سلطنت بنسټ ایښودونکی دی چې په ( ۵۱۱ زېږدیز ) کال کې مړ شو، له هغه وروسته

په فرانسې کې یوه لړۍ منځ ته راغله چې د هغې د نیکه نوم ( مروه ) په مرو نژین شهرت پیدا کړ.
برتانیې ته د انګلوساکسونانو له راتګ څخه وړاندې، دغه هېواد د روم د نامتو ژول سزار له خوا نیول شوې و. د دې ټاپو خلکو تر هغه مهاله چې رومیان پر واک وو، عزتمند ژوند درلود او لندن له هماغه مهاله د سوداګرۍ مرکز و. د روم د دولت په کمزورتیا سره له برتانیې څخه د رومیانو پوځونه کم شول. د شمال او لویدیځ له خوا ایرلینډیانو او د سمندر له خوا سمندري غلو هغوی تر یرغل لاندې ونیول. په (۴۷۷زېږدیز ) کال کې ساکسونانو چې د جرمنیانو له جګړه مارو قبایلو څخه وو، انګلستان ته راغلل، اویا کاله وروسته له دوی څخه د جرمن بله طایفه چې د انګلانو په نامه وه، پر برتانیې تېری وکړ چې د انګلنډ او انګلیس کلمې د هغوی له نوم څخه اخیستل شوې دي . په پایله کې دا دوې طایفې سره یو ځای شوې او د انګلوساکسون په نوم یې سلطنت جوړ کړ، د انګلوساکسون له کورنۍ څخه وروسته، نورمانان په انګلستان کې واک ته ورسېدل چې لومړی ، دویم او دریم ادوارد له دې کورنۍ څخه دي.

## د اسلام د سپېڅلي دین د راتګ پر مهال د نړۍ دیني او عقیدتي وضعه

د اسلام د سپیڅلي دین له راتګ څخه وړاندې، یعنې په شپږمه زېږدیزه پیړۍ کې، په لسګونو دیني مذهبونه او مسلکونه وو او د ټولو مخالفتونو سرچینه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ژبني مفهوم او بې بنسټه خبرو جوړوله: د یهودو او نصاراوو غچ اخستنه اوج ته رسېدلې وه. مسیحیان هم په خپلمنځي اختلافاتو کې بوخت وو. د روم او فارس دوې ځواکمنې امپراتورۍ چې د عربستان د ټاپووزمې ( شبه جزیرې ) په ګاونډیتوب کې وې، له هر پلوه ورځ په ورځ کمزورې کېدلې. تر هغه پورې چې د اسلام سپېڅلي دین په عربستان کې منځ ته راغی.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېو یا پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د لاندنیو پوښتنو په اړه په خپلو منځو کې خبرې اترې وکړي:

- فرانسه څرنګه جوړه شوه؟
- د اسلام د سپېڅلي دین د راتګ پر مهال د نړۍ دیني او عقیدتي وضعه څرنګه وه؟

### پوښتنې

۱- اتیلا څوک و؟ د هغه په هکله لنډ معلومات وړاندې کړئ.
۲- جرمنیان څوک وو؟ د هغوی په هکله معلومات وړاندې کړئ.
۳- هونان څوک وو؟ د هغوی په هکله معلومات وړاندې کړئ.
۴- انګلوساکسونان څوک وو؟ د هغوی په هکله معلومات وړاندې کړئ.
۵- د پورتنیو پوښتنو په څېر تاسې پخپله دوې نورې پوښتنې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

### له ټولګي بهر فعالیت

د اسلام د راتګ پر مهال د نړۍ عقیدتي وضعې تر سرلیک لاندې مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو لږه نه وي.

# عربستان د اسلام د ظهور په درشل کې

په دې لوست کې به د اسلام د نازلېدو او څرګندېدو پر مهال د عربستان د خلکو د ټولنيزې او عقيدتي وضعې له څرنګوالي سره بلدتيا پيدا کړئ.

## د اسلام له ظهور وړاندې د عربستان د خلکو ژوند



عربستان د اسلام د ظهور په درشل کې

د عربستان خلک عرب ټبري وو او قبيلوي ژوند يې کاوه. هره قبيله له هغو کورنيو څخه جوړه وه، چې خلکو يې د عمر له پلوه تر ټولو لوی کس چې د شيخ په نوم يادېده، تر فرمان لاندې ژوند کاوه.

د عـــربو يـــوه ډېـــره مهمه قبيله د قريشو قبيله وه. د عربو ډېر شمېر خلکو په ډاګونو کې او لږ شمېر يې په ښارونو کې ژوند کاوه.

مکه، يثرب او طايف د عربستان له لويو ښارونو څخه وو، چې د حجاز په سيمه کې يې موقعيت درلود. د ښارونو ډېر شمېر وګړي په سوداګرۍ او د هغه وخت په اړوندو کارونو بوخت وو. هغوی هغه توکي چې له هند څخه يمن ته راوړل کېدل، شام (سوريې) ته د پلورلو په موخه وړل. د مکې او يثرب ښارونه د دغو سوداګريزو کاروانونو په لاره کې پراته وو. سره له دې چې د عربو ډېر شمېر وګړي د ښوعاداتو څښتنان وو خو اخلاقي فساد او ټولنيزې ناخوالې يې لوړې کچې ته رسېدلې وې. خلک له ټولنيز پلوه په دوو ډلو غلام او بادار وېشل شوي وو. له مريانو سره ناوړه انساني چلن کېده. د شرابو څښل، حق خوړل او اخلاقي فساد دود وو.

## له اسلام څخه وړاندې د جزيرة العرب ديني عقايد

د الله تعالی ﷻ له لومړنيو پيغمبرانو څخه حضرت هود(ع) او حضرت صالح(ع) په ترتيب سره د عربستان په سوېل او شمال کې رسالت ته مبعوث شول. حضرت هود(ع) د عاد قوم يې د ناوړه کړنو پرېښودو ته راوباله،

خو ځيني د هغه پر وړاندې په مخالفت راپورته شول، د هغه او پيروانو په ځورولو يې پيل وکړ. په پايله کې هغوی له الهي عذاب سره مخ شول او له منځه لاړل.

حضرت صالح(ع) د ثمود په قوم کې چې د عربستان په شمال کې يې ژوند کاوه، په پيغمبرۍ مبعوث شو. د ثمود قوم له يو شمېر وګړو څخه پرته، پاتې نور يې د تيري او بت لمانځنې پرېښودلو ته حاضر نه شول. له همدې امله هغوی هم په الهي عذاب اخته او له منځه لاړل.

له يو څه مهال وروسته نورو دينونو هم عربستان ته لاره پيداکړه چې تر ټولو مهم يې يهوديت، مسيحيت، زردشت او حنيفي وو.

د وخت په تېرېدو سره عربو بت لمانځنې ته مخه کړه. هغوی هغه بتان (تنديسونه) چې له ډبرو، لرګيو او له ځينو نورو شيانو جوړ شوي وو، لمانځل او ان د کعبې کور چې حضرت ابراهيم(ع) د الله ﷻ د لمانځنې ځای ګرځولی و، په بت خانې واړوو. نجونې يې د خپل ناوړه دود له مخې او يا د لوږې له ډاره ژوندۍ خښولې. په داسې شرايطو کې چې د اسلام سپيڅلی دين په عربستان کې منځته راغی، په ډېرو قبيلو کې ښځې د ميراث يوه برخه ګڼل کېدې. د سوداګرۍ او راکړې ورکړې له سود سره ګډې وې. قبايلو په خپل منځ کې کلک اختلافات درلودل او په شخړو به بوخت وو او کله به دغه رنګ جګړو د دوو قبيلو تر منځ له سلو کلونو زيات دوام کاوه.

**په ټولګي کې فعاليت**

په ډله ييزو کارونو کې د لاندې سرليکونو لنډيز وليکئ:

- له اسلام څخه د مخه د عربستان د خلکو عقايد،
- د اسلام د څرګندېدو په درشل کې د عربستان د خلکو د ژوند وضعيت.

**پوښتنې**

۱- له اسلام څخه د مخه په عربستان کې کوم دينونه وو؟
۲- له اسلام څخه د مخه د عربستان د خلکو ژوند څنګه وو؟
۳- د حضرت ابراهيم(ع) لارويانو ته يې څه ويل؟
۴- بت لمانځنه يعنې څه؟

**له ټولګي بهر فعاليت**

د خپل جومات امام ته لاړ شئ، د هغه په مرستې سره د اسلام دين ته د بشريت اړتيا په هکله يوه مقاله وليکئ.

# د عربستان په ټاپووزمه (شبه جزیره) کې د اسلام د سپیڅلي دین د پیدایښت اړتیا

په دې لوست کې به د عربستان په ټاپووزمه کې د اسلام د سپېڅلي دین د خپرېدو له لاملونو سره بلد شئ چې څرنګه د اسلام ځلانده لمر پر دې ځمکې ځرک وواهه.

د حضرت آدم (ع) له پیدایښت څخه وروسته، الله ﷻ د بشر د لارښوونې لپاره پېغمبران، استولي دي. له یوې خوا هیڅ داسې دوره نه وه چې په هغه کې پېغمبر مبعوث شوی نه وي، له بلې خوا څېړونکي او مؤرخین له اسلام څخه وړاندې پیر یې د بت لمانځنې، شرک او جادو د رواج او د ناوړو دودونو لمانځنه یادوي. د سومر خلکو د نوح(ع) یادداښتونه او د هغه رسالت یې له مخکنیو نسلونو څخه اورېدلي وو. ښکاره خبره ده چې د لومړنیو ټولنو خلک دیندار او خپلو دیني دودونو ته پابند وو، خو د هغوی عقاید له ناوړو دودونو سره ګډ وو. هغوی په بلې نړۍ کې ژوند ته عقیده درلودله، خو فکر یې کاوه چې انسان په قبر کې خوراک او پوښاک ته اړتیا لري، له همدې امله د جسدونو د ښخولو پر مهال یې، ځینې اړین توکي او خوراک د ژوند لپاره له هغوی سره په قبر کې ایښودل. ځینې داسې ټولنې هم وې چې خپل مړي یې په خپلو استوګنځیو کې ښخول. ډېرو لرغونو ټولنو، فکر کاوه چې آسماني ځواکونه د صاعقه، سیل، قحطۍ او ناروغیو لامل ګرځي او غیبي ځواکونه د بارانورېدو او د نعمت ډېروالي او د مړو د اسانتیا لامل ګرځي. په پایله کې د خپلو خدایانو د راضي ساتلو لپاره یې ځانګړي آداب او دودونه درلودل. ډېرو لومړنیو ټولنو (لرغونو ټولنو) خپل ځان د ښاریو له یوه نسل څخه ګاڼه، همدا رنګه لومړنیو ټولنو اور ته هم ډېر درناوی درلود.

انبیاء او پېغمبران چې له حضرت محمدﷺ څخه د مخه د الله ﷻ له خوا مبعوث شوي وو، د هغوی رسالت نړیوال نه و او همدارنګه صحیفې او آسماني کتابونه چې هغوی ته نازل شوي وو، بشپړ نه وو او یا دا چې له هغوی څخه وروسته تحریف شوي وو. له دې امله الله ﷻ د رسالت او دیانت د بشپړولو په موخه د بشریت لارښود حضرت محمدﷺ په پیغمبرۍ مبعوث او پر هغه یې بشپړ آسماني کتاب(قرآن مجید) نازل کړ چې په دې توګه رسالت او نبوت بشپړ شو.

همدا رنګه ځورونه، فساد، تبعیض، یرغل، انسان پلورل او انسان وژنه، انحصار، واک غوښتنه ځان غوښتنه، بت لمانځنه او د بېلابېلو خدایانو لمانځنه، ناوړه دودونه، بې عدالتي او حق خوړل، د نجونو

ژوندي خښول او هر هغه څه چې د دغه وخت وضعه يې کړکيچنه کړې وه، لامل شو چې په نړۍ کې د عدالت، رښتينوالی او خپلواکۍ ژغورنې لمر د راختلو پړاو رامنځ ته شي او د الله تعالیﷻ په حکم د اسلام سپېڅلي دين د عربستان په ټاپووزمه کې د نړۍ تر ټولو غوره بشر، حضرت محمدﷺ په وسيله راڅرګند شي.

### په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درې کسيزو او پنځه کسيزو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې په لاندې اصطلاحاتو او د هغو په هکله له يو بل سره خبرې اترې وکړي. فساد، بی عدالتی او خرافات.

### پوښتنې

۱- څو آسماني کتابونه پېژنئ؟ د هغو له جملې د بشپړ آسماني کتاب نوم واخلئ؟

۲- دلومړي پيغمبر نوم واخلئ.

۳- د اسلام تر سپېڅلي دين د مخه په نړۍ کې کوم دينونه دود وو، نومونه يې واخلئ او د هغوی لارويان ولې واوښتل؟ لنډ ځواب ورکړئ.

### له ټولګي بهر فعاليت

د اسلام د سپېڅلي دين تر سرليک لاندې مقاله وليکئ چې له ۸ کرښو لږ نه وي.

# د الله ﷻ وروستی پیغمبر، حضرت محمد ﷺ (له زیږېدو تر بعثت پورې)

په دې لوست کې هغه شوی ده چې زده کوونکي د اسلام د سپېڅلي دین له پیدایښت وړاندې د حضرت محمد ﷺ له ژوند سره په لنډه توگه بلد شي.

د حضرت محمد ﷺ نیکه عبدالمطلب و. عبدالله بن عبدالمطلب د حضرت محمد ﷺ له پیداکېدو څه موده د مخه په هغه سفرکې چې شام ته یې کړی و، وفات شو او هماغلته خاورو ته وسپارل شو.

حضرت محمد ﷺ په هغه کال چې په عام الفیل مشهور دی، د ربیع الاول د میاشتې په دوولسمه نېټه (په بل روایت اووه لسمه) نېټه د دوشنبې په شپه چې له (۵۷۰ ز) کال سره سمون لري، په مکه معظمه کې وزېږېد. هغه مهال د عربستان خلکو خپل ماشومان د روزنې او شیدو ورکولو لپاره دایه گانو ته ورکول. د حضرت محمد ﷺ مور بي بي امنې هم خپل زوی یوې ښځې ته، چې حلیمه سعدیه نومېده، وسپاره ترڅو هغه لوی او شیدې ورکړي. حضرت محمد ﷺ څلور کاله له بي بي حلیمې سره په دښته کې پاتې شو. د دښتې سخت ژوندانه، حضرت محمد ﷺ هم تکړه او پیاوړی کړ او هغه ته یې ساده او غریبانه ژوند هم ورزده کړ. کله چې زموږ ستر پیغمبر د شپږ وکالو شو، بي بي حلیمې هغه خپلې کورنۍ ته چې په یثرب کې وه، راستون کړ او د خپل پلار زیارت یې وکړ. کله چې له یثرب څخه بېرته راوگرځېدل، بي بي امنه سخته ناروغه شوه او په لاره کې یې ساه ورکړه. حضرت محمد ﷺ دخپلې مور د مړینې له کبله ډېر غمجن شو. له دې وروسته د حضرت محمد ﷺ پالنه او ساتنه د هغه نیکه، عبدالمطلب کوله. کله چې حضرت محمد ﷺ اته کلن شو، نیکه یې هم له نړۍ سترگې پټې کړې. له دې وروسته د حضرت محمد ﷺ پالنه او روزنه د هغه اکا (تره)، ابوطالب پر غاړه واخیسته. ابوطالب د سوداگرۍ په چارو بوخت و او په ځینو سفرونو کې به یې خپل وراره (حضرت محمد ﷺ هم له ځانه سره بووه.

حضرت محمد ﷺ دمکې له یو شمېر ځوانانو سره د بې وزلو د دفاع په موخه په مکه معظمه کې یو تړون رامنځته کړ. له دې امله چې دمکې ټولو خلکو د «حلف الفضول» په نوم ده په پاکوالي، امانت دارۍ او رښتنولۍ عقیده درلوده او امین یې باله. څرنگه چې د حجر الاسود د کېښودلو په اړه د اعرابو د بېلا بېلو قبایلو ترمنځ اختلاف پیدا شو، پرېکړه په دې وشوه چې هرسړی چې لومړی د کعبې له دروازې څخه را د ننه شي، د هغه حکم د منلو وړ دی. په دې وخت کې حضرت محمد ﷺ دننه شو او ټولو غږ وکړ چې (امین) راغی. حضرت محمد ﷺ په خپل ځانگړي تدبیر او درایت سره حجر الاسود په یوه څادر کې کېښوده او څنډې یې د قبیلو مشرانو ته ورکړې، په دې توگه د یوې سترې وینې تویدنې مخه ونیول شوه.

ډېر وپوهېږئ:


د قريش قبيله
قصی
زهره
عبدمناف
عبدمناف
وهب
بي بي آمنه
عبدشمس
هاشم (بني هاشم)
اميه (امويان)
عبدالمطلب
عبدالله
حمزه
عباس
ابوطالب
حضرت محمد ﷺ
بني عباس
حضرت علي رضی الله عنه


د حضرت محمد ﷺ کورنۍ
بي بي خديجه
بي بي ماريه قبطيه
ذکور
اناث
ابراهيم
قاسم
عبدالله
زينب
رقيه
ام کلثوم
فاطمه

حضرت محمدﷺ په ۲۵ کلنۍ کې د ابوطالب په وړانديز د بي بي خديجې په پانګې چې د قريشو د قبيلې يوه شتمنه ښځه وه، د سوداګرۍ په موخه شام ته لاړ. کله چې حضرت محمدﷺ له سوداګريز سفر څخه له ډيرې ګټې سره بېرته راستون شو او له بلې خوا د حضرت بي بي خديجې مريي ميسره د حضرت محمدﷺ د صداقت او امانت ستاينه وکړه، حضرت بي بي خديجې حضرت محمدﷺ د واده وړانديز لپاره مناسب وګاڼه او له هغه سره يې د واده ليوالتيا پيدا شوه، نو څکه د واده وړانديز يې حضرت محمدﷺ ته ورساوه. تر واده وروسته د دوی تر منځ نوی ژوند پيل شو. بي بي خديجه د حضرت محمد ﷺ لپاره ډېره مهربانه او سربښيندونکې ميرمن وه او له اسلام د منلو څخه وروسته يې بيا د اسلام د سپيڅلي دين لپاره ډير خدمتونه کړي، تر هغه چې خپله ټوله شتمني يې د اللهﷻ د رضا او اسلام د خپرېدو په لارکې ولګوله.

حضرت محمدﷺ د مکې د خلکو له بت نمانځنې ډېر خواشينی او اندېښمن وو. د حضرت محمدﷺ هيله دا وه چې يوه ورځ خلک له بت نمانځنې څخه خلاص شي او د يوه اللهﷻ عبادت او لمانځنه وکړي.

**د حضرت محمدﷺ د ژوند مهمې پېښې، له ۶ کلنۍ څخه تر څلوېښت کلنۍ پورې**

| | |
|---|---|
| ٦ کلنی | د پيغمبرﷺ د مور مړينه – د عبدالمطلب لخوا سرپرستي |
| ٨ کلنی | د عبدالمطلب مړينه- د ابوطالب لخوا سرپرستي |
| ځلميتوب | له غم ځپلو څخه د ملاتړ په ترون کې ګډون |
| ۲۵ کلنی | له حضرت بي بي خديجې سره واده |
| ٤٠ کلنی | بعثت |

## په ټولګي کې فعالیت

په ډله ییز کار کې دښي لاس لیکنې، د کیڼ لاس له لیکنو سره په خپلو کتابچو کې ونښلوئ او په ټولګي کې یې نورو ته وړاندې کړئ.

| | |
|---|---|
| - په ۵۷۰ ز کال کې | د رسول اکرم ﷺ پلار |
| - په ۶ کلنۍ کې | د رسول اکرم ﷺ نیکه |
| - په ۸ کلنۍ کې | د حضرت محمد ﷺ مور |
| - بي بي امنه | د حضرت محمد ﷺ دایه |
| - عبدالمطلب | د حضرت محمد ﷺ مور وفات شوه |
| - عبدالله | د حضرت محمد ﷺ نیکه عبدالمطلب وفات شو |
| - بي بي حلیمه | حضرت محمد ﷺ په مکه معظمه کې وزیږېد |

## پوښتنې

۱- آیا د حضرت محمد ﷺ د پلار، مور، دایې، اونیکه نومونه مو زده دي؟

۲- د دښتي ژوند په حضرت محمد ﷺ باندې څه اغیزه وکړه؟

۳- له عام الفیل څخه موخه څه ده؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

۴- د حضرت محمد ﷺ د زامنو نومونه واخلئ؟

۵- د حضرت آمنې د پلار او نیکه نومونه واخلئ؟

۶- د حضرت محمد ﷺ د لوڼو نومونه واخلئ؟

۷- سم عبارت د (ص) په توري او ناسم عبارت د(غ) په توري په خپلو کتابچو کې سره په نښه کړئ.

- حضرت علي رضي الله عنه د حضرت محمد ﷺ د تره زوی و ( )
- د امویانو نیکه هاشم نومېده ( )
- د بني هاشم نیکه امیه نومېده ( )

# د الله جل جلاله وروستی پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم (له بعثته څخه تر هجرته)

په دې لوست کې به په پيغمبرۍ باندې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له مبعوث کېدلو، له مکې معظمې څخه مدينې منورې ته د ده له هجرت او هم د اسلام د تاريخ پېيل (د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له وخته د حضرت علي رضی الله عنه تر شهادت پورې) سره اشنا شې.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به هر کال کې يوه مياشت د جبل النور غار ته چې (حرا) نومېده او مکې معظمې ته نږدې پروت دی، تلو او هلته به په عبادت کولو او فکر کولو بوختېده. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کراري او يوازيتوب خوښېدل. دی په څلوېښت کلنۍ کې د حرا په غار کې د الله جل جلاله لخوا په پېغمبرۍ مبعوث او مامور شو، تر څو د نړۍ ټولو خلکو ته د يوه الله جل جلاله د عبادت، له بت لمانځنې څخه لاس اخيستنې، د قيامت په ورځ ايمان او د خپلې پېغمبرۍ د منلو بلنه ورکړي.


د حرا غار

د الله جل جلاله له لوري د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په پېغمبري باندې ټاکلو ته، بعثت وايي. د نبوت تر اعلانولو وروسته له نارينه وو څخه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه، له ښځينه وو څخه بي بي خديجه رضی الله عنها او له ماشومانو څخه حضرت علي (کرم الله وجهه) لومړني کسان وو چې د اسلام دين يې ومانه. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به په لومړيو کې خلک په پټه د اسلام سپيڅلي دين ته را بلل. پدې ډول کارکولو سره ورو ورو يو شمېر غوربدلو خلکو او د مکې ځينو قومي مشرانو د اسلام دين ومانه. له دريو کالو څخه وروسته الله جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته حکم وکړ چې په ښرګند ډول خلک اسلام ته راوغواړي او له بت نمانځنې څخه يې منع کړي.

اسلام ورځ په ورځ پراختيا کوله او عادي خلکو له دې بلنې څخه ملاتړ کاوه. د مکې کافرانو د اسلام له زياتېدونکي نفوذ څخه د خطر احساس وکړ. هغوی داسې فکر کاوه که چېرې بت نمانځنه له منځه لاړه شي، هېڅکله نشي کولی چې پر خلکو واکمن پاتې شي. له دې امله راغونډ او د چارې په لټه کې شول. دوی لومړی داسې وړانديز وکړ چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د پيسو او مقام په ورکولو سره راضي کړي او د هغوی په آند د الله جل جلاله له لارې يې راوګرځوي، ترڅو د اسلام د دين د پرمختګ مخه ونيول شي. هغوی د الله جل جلاله پيغمبرته داسې وړانديز وکړ:

((که له دعوت څخه لاس واخلې، په بدل کې هر څه چې غواړې، تاسې ته به يې درکړو، که وغواړې خپله شتمني به ستاسې په واک کې درکړو او تاسې به خپل مشر وټاکو او که ناروغ ياست، ستاسو درملنه به وکړو.)).

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم يې په ځواب کې داسې وويل:(( په الله جل جلاله مې دې قسم وي که لمر مې په ښي لاس او سپوږمۍ مې په کيڼ لاس کې راکړئ، له دغې بلنې به لاس وا نه خلم. هېڅکله به داسې ونه کړم، ان تر دې که په دې لار کې خپل ځان هم له لاسه ورکړم.))

کله چې کافران وپوهېدل چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د اسلام له دعوت او بلنې څخه لاس نه اخلي، نو د ده او د ده د ملګرو په ځورونو يې لاس پورې کړ. بلال، ياسر او سُميه او د پيغمبر نورو يارانو د ډېرو کلکو شکنجو په وړاندې مقاومت وکړ او ځينو يې د شهادت جامونه وڅښل. تر دې پورې چې په خپله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم له دغو ځورونو څخه په امان کې پاتې نه شو. په لارو او کوڅو کې به يې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې بريدونه کول او په کاڼو به يې ويشته او ټپي کاوه به يې.

مشرکينو به پر ځاني ځورونو سر بېره د تبليغاتو او تومتونو په وسيله پيغمبر صلی الله علیه وسلم ځوراوه، آن تر دې چې له پيغمبر صلی الله علیه وسلم او له يارانو سره يې چې د پيغمبر صلی الله علیه وسلم ملاتړ به يې کاوه، د دريو کالو لپاره يې اړيکې پرېکړې او هغوی يې په اقتصادي کلابندۍ

کې راګیر کړل.

له دغو ټولو ستونزو سره سره، حضرت محمد ﷺ په خپل هوډ، عزم او اراده کې ټینګ و او د اسلام له بلنې او د الله ﷻ له نمانځنې څخه یې هیڅ لاس وانه خیست، ځکه چې د اسلام دین په لاندنیو ارزښتونو ولاړ دی.

۱- اسلام وروستی، بشپړ او الهي دین دی.

۲- اسلام له پیله تر اوسه د مسلمانانو په لارښوونه، سیادت او نیکمرغی کې په بالفعل او بالقوه ډول خپله ونډه حفظ ساتلې ده.

۳- اسلام یو ژوندی، نوښت راوړونکی، خوځښت رامنځ ته کوونکی، ژوند ورکوونکی او د ظلم پر وړاندې ودریدونکی دین دی.

قرآن مجید له اړتیا سره سم د الله ﷻ له لورې د جبریل(ع) په واسطه پر حضرت محمد ﷺ باندې نازل شو.

| | |
|---|---|
| د بعثت (۱) کال | بعثت – د پټې بلنې پیل |
| د بعثت (۴) کال | د ښکاره دعوت پیل – د مسلمانانو د ځورولو پیل |
| د بعثت (۵) کال | حبشې ته د یو شمیر مسلمانانو مهاجرت. |
| د بعثت (۷- تر ۱۰) کال | د مسلمانانو د دریو کالو په ترڅ کې اقتصادي کلابندي، د بي بي خدیجې او ابوطالب مړینه |
| د بعثت(۱۱) کال | د حج په مراسمو کې له یو شمیر خلکو سره د حضرت محمد ﷺ لیدنه. |
| د بعثت (۱۲- ۱۳) کال | په ډله ییزه توګه د یثرب خلک د پیغمبر ﷺ حضور ته راغلل او ورسره یې په دوو بېلا بېلو لیدنو کې تړون ولیکه. |
| د بعثت (۱۴) کال | یثرب ته د مسلمانانو او حضرت رسول اکرم ﷺ هجرت. |

### په ټولګي کې فعالیت

تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ:

- الله ﷻ د بعثت په دریم کال، حضرت محمد ﷺ ته دنده وسپارله.(...............................)
- د حضرت محمد ﷺ له ژوندانه څخه د بعثت په وخت کې زده کوو چې: (........................)
- اسلام څرنګه دین دی؟...................................................................................

### پوښتنې

۱- حضرت محمد ﷺ ولې د حرا غار ته تلو؟

۲- حضرت محمد ﷺ د بعثت په پیل کې اسلام دین ته خلک په څه ډول را بلل؟

۳- حضرت محمد ﷺ د مشرکینو د وړاندیز په ځواب کې څه وویل؟

۴- د اسلام پیغام موږ مسلمانانو ته څه دی؟ په لنډه ډول یې ووایئ.

### له ټولګي بهر فعالیت

د حضرت محمد ﷺ د بعثت په اړه د خپل کلي د جومات د امام په مرسته یوه مقاله ولیکئ.

# د خدای ﷻ وروستی پیغمبر حضرت محمد ﷺ
# (له هجرته تر رحلته)

په دې لوست کې کوښښ شوی چې ځینو پوښتنو ته لکه: کوم لاملونه د دې سبب شول چې حضرت محمد ﷺ او مسلمانان له مکې معظمې څخه حبشې او یثرب ته هجرت وکړي او څرنګه اسلام پراختیا وموندله؟ دغو پوښتنو ته په لنډه توګه ځوابونه ورکړل شوي دي.



د مسلمانانو مهاجرت

هرڅومره چې د مسلمانانو شمېر زیاتېده، په هماغه کچه د مشرکانو زور وهنې پر مسلمانانو باندې ډېرې شوې. کله چې د بت نمانځونکو او مشرکانو ځورونې او ربړونې ډېرې شوې، حضرت محمد ﷺ داسې لارښوونه وکړه یو شمېر مسلمانان چې په هغوی کې حضرت عثمان رضي الله عنه او مېرمن یې هم وه، د حضرت جعفر بن ابي طالب تر مشرۍ لاندې حبشې ته هجرت وکړي. کله چې مشرکین خبر شول، په غوسه شول او د اسلام پر خلاف یې خپلې مبارزې سختې کړې.

د قریشو کافرانو په خپل منځ کې تړون وکړ چې (د مسلمانانو او د هاشم او عبدالمطلب له زامنو سره خپلې اړیکې وشلوي او له هغوی سره راکړه ورکړه او واده ونه کړي). په دې هکله یې یو پرېکړه لیک ولیکه او په کعبه کې یې کېښود. له هغه وروسته پیغمبر ﷺ او یاران یې له مکې څخه د باندې د شعب ابوطالب په نامه دره کې استوګن شول. دوې درې کاله په ډېرې سختۍ سره په هغه دره کې اوسېدل، په داسې نا خوالو کې یو شمېر کسانو چې د سپېڅلو زړونو لرونکي وو، په خپل منځ کې ژمنه وکړه چې هغه تړون له منځه یوسي او خپل مسلمان هم ښاریان له بدمرغیو څخه وژغوري او له بلې خوا چې پیغمبر ﷺ د الله ﷻ له لورې خبر شو چې د کافرانو هغه پرېکړه لیک وینو (وینه ګانو) خوړلی دی، ابوطالب دغه خبر کافرانو ته ورکړ، له هغوی څخه یې وغوښتل چې هغه پرېکړه لیک راوړي. او همدارنګه ورته ویې ویل چې: که چېرې حضرت محمد ﷺ سم او رښتیا نه وای ویلي، نو هغه به تاسې ته وسپارم. کافران لاړل او ویې لیدل چې پیغمبر ﷺ رښتیا ویلي دي نو ځکه یې پیغمبر ﷺ او د هغه ملګرو ته(مسلمانانو) اجازه ورکړه چې بېرته مکې ته ور وګرځي. له هغې وروسته، حضرت محمد ﷺ له ډېرې لږ شپېې څخه هم، اسلام ته د خلکو د رابللو په لار کې ګټه پورته کوله. ده د حج د مراسمو د تر سره کولو په وخت کې چې زیات شمېر خلک به د کعبې شریفې د زیارت کولو لپاره هلته را تلل، هغوی به یې د اسلام له دین سره آشنا کول او د هغوی په وسیله به یې خپل دعوت د نورو قومونو او ښارونو د خلکو غوږونو ته رساوه.

د بعثت په یوولسم کال د هغو کسانو له ډلې څخه چې د حضرت محمد ﷺ دعوت یې ومنلو، ځینې یې د یثرب د اوس او خزرج له قبیلو څخه وو. له همدغه ځایه یثرب ته د مسلمانانو د هجرت لړۍ پیل شوه. هغو څو تنو د راستنېدلو په مهال د

حضرت محمد ﷺ د پیغمبری خبر خپلو ځایي اوسیدونکو ته ورساوه او یو شمېر نورو هم اسلام راوړ، بل کال د حج په مراسموکې دیثرب د نویو مسلمانانو شمېر دوولس تنو ته ورسېد او په راتلونکي کال کې د هغوی شمېر له (۸۰ )تنو څخه ډېر شو، نو هغه مهال یې د حضرت محمد ﷺ د دفاع تړون لاسلیک کړ. بت نمانځونکو د اسلام د پراختیا د مخنیوي په موخه پر ډول ډول کارونه لاس پورې کړ. له هغه وروسته چې د حضرت ﷺ ټولو یارانو یثرب ته هجرت وکړ، کافرانو پرېکړه وکړه چې د شپې له خوا حضرت محمد ﷺ په خپل کور کې ووژني. حضرت محمد ﷺ د خدای ﷻ له لوري د دوی له دغې پرېکړې څخه خبر شو. له همدې کبله و چې حضرت علی رضي الله عنه په دې شپه د ده په بستره کې ویده شو او په دې ډول د مشرکینو دسیسه شنډه شوه. حضرت محمد ﷺ په پټه له کوره ووت او د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په ملګرتیا د ( ثور غار ) ته لاړ او د درېو شپو له تېرېدو وروسته یې له هغه ځای څخه یثرب ته هجرت وکړ. وروسته له دې د یثرب نوم په «مدینې منورې» واوښت او د هغه ځای مسلمانانو ته یې انصار ویل.

د اسلام پیغمبر مدینې ته له راتګ سره سم، تر هر څه وړاندې د قبا د جومات بنسټ کېښود او د مدینې د بېلابېلو له اوسېدونکو سره یې تړون وکړ چې د مدینې د منشور په نوم نومول شوی دی چې په مدینې کې د یرغلګرو پر وړاندې ګډ عمل وکړي، د مسلمانانو ترمنځ یې د وروروليی او اسلامي نظام بنسټ کېښود.

له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته د حضرت محمد ﷺ هجرت د( ۶۲۲ زېږدیز) کال سره سمون لري او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کې پرېکړه وشوه چې همدغه نېټه د مسلمانانو د تاریخ پیل وګرځي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي په ۳ او یا ۵ کسیزو ډلو ووېشئ،

تر خبرواترو وروسته د یوې ډلې یو استازی دې دخبرو پایلې نورو ته ووایي.

- هجرت یعنې څه؟
- ولې یثرب په مدینې ونومول شو؟
- ولې هر څومره چې د مسلمانانو شمېر ډېرېده، په هماغه کچه د مسلمانانو په وړاندې د مشرکانو مخالفت ډېرېده.

## پوښتنې

۱- د مکې کفارو په خپل منځ کې څرنګه تړون وکړ؟ په دې اړه تبصره وکړئ.

۲- د مسلمانانو د تاریخ پیل له څه شي څخه اخیستل شوی دی؟ هغه نېټه په ګوته کړئ.

۳- لومړنی جومات چې حضرت محمد ﷺ یې بنسټ کېښود، څه نومېده؟

۴- د هجرت په وخت کې کوم صحابي د حضرت پیغمبر ﷺ په بستره کې ویده شو؟ په دې اړه تبصره وکړئ.

## له ټولګي بهر فعالیت

د مشرانو او د کلي جومات د امام په مرسته د هجرت په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د حضرت محمدﷺ مهمې غزاګانې، د هغه د ژوند وروستي کلونه او مهمې پېښې

په دې لوست کې هڅه شوې چې په لنډه توګه غزاګانو( غزا هغه جګړه ده چې مسلمانانو له کافرانو سره کړې ده او پیغمبرﷺ خپله په هغه کې ګډون کړی و) پېښو او د حضرت محمدﷺ د ژوند له وروستني کلونو سره بلد شئ.

## د بدر غزا



د بدر عزا

د بدر غزا د هجرت په دویم کال د بدر څاګانو ته نږدې د مسلمانانو او مشرکینو تر منځ پېښه شوه. پېښه داسې وه چې د مکې د خلکو سوداګریز کاروان چې له شام(سوریې) څخه مکې ته د ابوسفیان په مشرۍ روان و، مدینې منورې ته نږدې تېرېده. مشرکینو له دې ډاره چې کاروان د مسلمانانو لاسته ور نه شي، یو لښکر یې د هغه د ساتنې لپاره مدینې ته ولېږه. د مشرکینو کاروان د مدینې منورې له شاوخوا څخه لرې شو. خو د پیغمبرﷺ تر مشرۍ لاندې د مسلمانانو او د دغو لښکرو تر منځ جګړه ونښته. له دې امله چې مسلمانان په الله ﷻ باندې په ایمان سره او د غره په شان استواره ډګر ته راغلي وو. په داسې حال کې چې د هغوی شمېر( ۳۱۳ )تنه وو پر مشرکینو باندې چې شمېر یې (۹۵۰ ) تنو ته رسیده، بریالي شول او د مکې په مشرکینو ته یې سخت ګذارونه ورکړل او مشران یې له لاسه ورکړل. د اسلام د بریا اوازه په ټول عربستان کې خپره شوه او مشرکین په وېره کې شول.

## د اُحد غزا


د احد غر

د هجرت په درېیم کال د مکې مشرکینو د بدر جګړې د غچ اخیستلو په موخه له ډېرو تجهیزاتو سره د مدینې منورې په لور حرکت وکړ. حضرت محمدﷺ د هغوی پر وړاندې دمسلمانانو (۷۰۰ ) کسیز لښکر هغه ځای ته ولېږه چې د احد غره ته نږدې و. دواړه لوري له یو بل سره مخ شول. په سر کې کفار له ماتې سره مخ شول، خو وروسته له دې امله چې مسلمانانو د دښمنانو د ښارلو پر ځای د غنیمتونو په ټولولو پیل

وکړ، ان تر دې هغه مسلمانان چې د احد په کنډو کې د عبدالله بن جبیر په مشرۍ ګمارل شوي وو. تر څو د مسلمانانو جبهه د شا له خوا وساتي له څو تنو پرته نورو خپل ځای پرېښود، کفارو له وخت څخه په ګټې اخیستنې د شا له لوري د خالد بن ولید په قوماندانی په مسلمانانو یرغل وکړ. له دغه ناڅاپي یرغل سره وضعیت بدلون وموند. د اسلام د مبارک پیغمبر حضرت محمد ﷺ مبارک غاښ شهید او همدارنګه حضرت حمزه رضي الله عنه هم دشهادت لوړ مقام ته ورسېد او له مسلمانانو څخه(۷۰) اویا تنه په شهادت ورسېدل. دغه غزا مسلمانانو ته د عبرت درس و.



د احد غزا

## د خندق غزا (احزاب)

د هجرت په پنځم کال د مکې مشرکینو له یهودیانو سره هم تړون وکړ او تصمیم یې ونیو چې په مدینې منورې باندې یرغل وکړي. په دغه پوځي ټولنه کې د یهودو، مشرکینو او قریشو پوځ نږدې لس زره تنه د ابوسفیان په مشرۍ په دریو لښکرو کې راغونډ شوي وو.

حضرت محمد ﷺ چې کله له موضوع څخه خبر شو، د اصحابو کرامو او د خپل هم تړوني، بني خزاعه په مشورې یې شورا جوړه کړه چې د دفاع تر ټولو اغېزمنه لاره وټاکي.



د خندق غزا

پېغمبر ﷺ د سلمان فارسي نظر د دفاع لپاره د خندق په کېندلو کې تر ټولو غوره وګاڼه. او د خندق د کېندلو فرمان یې د مدینې په شمال کې صادر کړ او خپله یې د هغه په ټولو پړاوونو کې ګډون وکړ. کله چې مشرکین مدینې منورې ته ورسېدل، خپل مخکې یې یو خندق ولید چې تر هغه مهاله یې نه و لیدلی. هغوی د مدینې منورې دکلابندۍ او د خندق په هغو غاړه کې له دربدو څخه بله لاره نه درلوده، تر دې چې د قریشو یو شمېر نامتو جنګیالي له خندق څخه تېر شول. د هغوی د نامتو پهلوان عمرو بن عبدود له وژل کېدو وروسته، نورو تېښته وکړه. د هغوی یو شمېر له لوی او سخت طوفان سره مخ شول چې د مشرکینو خیمې یې ړنګې کړې. دغه کار چې د کلابندۍ د پای ته رسېدو او د مشرکینو د لښکر د خپل منځي ګډوډۍ لامل شو، هغوی پرته له کوم لړ پرمختګ څخه د مدینې له شاوخوا تیت شول. په دغه غزا کې د مسلمانانو پوځي ځواک په ټاپو وزمه کې په ډاګه شو. د شام او د مکې تر منځ د سوداګرۍ

د لارو امنیت ټینګ شو او تر ټولو مهمه د توحید فکر او د یو خدایﷻ عبادت، د شرک او بت لمانځنې د پرمختګ مخه ونیوله. او غزا د مسلمانانو په ګټه پای ته ورسېده. د خندق تر غزا وروسته حضرت پېغمبرﷺ له خپلو ځواکونو سره د بني قریظې د یهودو د پاکولو په موخه چې په ډېرو حساسو شېبو کې له دښمن سره یو ځای شوي وو، حرکت وکړ او د مدینې شاوخوا یې د هغوی له شتون څخه پاکه کړه.

## د حدیبیې سوله او د اسلام پراختیا

د هجرت په شپږم کال د مسلمانانو ځواک د اعرابو پر وړاندې ښکاره شو، څرنګه چې د مکې مشرکین له مسلمانانو سره سولې ته چمتو شول. په دې ترتیب، د حدیبې د سولې تړون رامنځ ته شو. د دې تړون پر بنسټ مشرکین ژمن شول چې تر لسو کلونو به له مسلمانانو سره جګړه نه کوي او هغوی ته به د خدایﷻ د کور د زیارت کولو اجازه ورکړي. د سولې د تړون په لاسلیک سره ، پېغمبرﷺ وکولای شو چې اسلامي تبلیغ په ازاده توګه وکړي او نه یوازې د عربستان خلک، بلکې د نورو هېوادونو وګړي هم اسلام ته راوبولي.

## د اسلام د بلنې نړیوال ابلاغ

د هجرت په اووم کال د اسلام پېغمبرﷺ خپل سفیران د عربستان تر ټولو دباندې ولېږل او خپل رسالت یې نړیوال کړ، د پېغمبرﷺ لیکونه د خدایﷻ له عبادت او توحید سره پیل کېدل او وروسته یې د هېوادونو مشران اسلام ته را بلل.

د نړۍ یو شمېر رهبران او مشران لکه: د حبشې پاچا، د هغه وخت د بحرین او عمان پاچاهانو د اسلام دین ته را وبلل شول.

## د خیبر غزا

د حدیبې د سولې له تړون څخه وروسته د اسلام دین ورځ په ورځ پراختیا وکړه او دښمنان یې هم په غوسه شول. له دغو دښمنانو څخه د خیبر د سیمې یهودیان وو چې مسلمانانو ته یې ستونزې رامنځ ته کولې. په همدې موخه پېغمبرﷺ د هجرت په اووم کال کې له هغوی سره مقابلې ته ور ودانګل او د هغوی کلا یې کلابنده کړه، په پایله کې مسلمانانو د هغوی کلاګانې فتحه او برې یې لاس ته راوړ.

## د موته غزا



د موتې غزا

د هجرت په اتم کال حضرت محمدﷺ خپل استازی د بصرې واکمن ته ( د سورېې په سویل کې د حوران په ولایت کې یو ښار دی) ولېږه، خو هغه استازی د لارې په اوږدو کې د موته په سیمه کې په شهادت ورسېد او دغه عمل په موته کې د مسلمانانو د جګړې لامل شو. چې د هغه په لړ کې د مسلمانانو درې سرداران جعفر بن ابي طالب، زید بن حارث او عبدالله بن رواحه په شهادت ورسېدل او غزا د خالد بن ولید د تدبیر له امله پای ته ورسېده.

## د مکې فتحه

د حدیبې له سولې څخه دوه کاله وروسته مشرکینو تړون مات کړ. له دې امله د اسلام پیغمبرﷺ د هجرت په اتم کال له یو لوی لښکر سره د مکې په لور حرکت وکړ او مکه له جګړې او وینې تویدنې پرته فتحه شوه. په دې توګه بتان له منځه یووړل شول او کعبه یو ځل بیا د یو خدایﷻ د عبادت ځای وګرځېد. په دې وخت کې ابوسفیان چې د اسلام د سر سختو دښمنانو څخه و، مسلمان شو. د مکې سوبې چې د حجاز تر ټولو لوی او مهم ښار او د عربو دیني او سوداګریز مرکز و، د اسلام د لوړتیا اوازه یې د عربستان ټولو خلکو ته ورسوله. تر هغې وروسته ډلې ډلې خلک راتلل او د اسلام په سپېڅلي دین مشرف کېدل.



مکې معظمې ته د اسلام د ځواکونو د راتګ لاره

## د حنین غزا

حضرت محمدﷺ د مکې له فتحې وروسته خبر تر لاسه کړ چې د هوازن قبیله د مالك بن عوف په مشرۍ او د ثقیف د کورنۍ په ملتیا د مسلمانانو پر وړاندې جګړې ته چمتو شوې دي. حضرت محمدﷺ له یو ځواك سره د حنین په دره کې د کفارو له لښکر سره مخ شو او هغه ته یې سخته ماتې ورکړه او ډېر غنیمتونه یې تر لاسه کړل.

## د تبوک غزا



د تبوك غزا

په شمالي پولو کې د روم د لښکرو د حرکت د خبر له خپرېدو سره سم حضرت محمدﷺ له ځنډ پرته د جهاد فرمان صادر کړ. په دې وخت کې هوا توده او د ځمکې د پيداوارو د اخيستلو وخت و. ځينې عوامل لکه زيات واټن، سخته لار او له رومي جګړه مارانو سره مقابله د دې لامل شول چې دغه جګړه د يو الهي ازمايښت په څېر د رښتينو مومنانو ليکه له ظاهري مسلمانانو څخه بېله کړي. خدایﷻ د توبې په سوره کې د دې پېښې يادونه کړې چې منافقينو په بېلا بېلو پلمو سره په دغې جګړې کې له ګډون څخه ډډه وکړه. که څه هم دغه لښکر اېستنه له روميانو سره په پوځي نښتې پای ته و نه رسېدله، خو د مسلمانانو د جهاد فکر ډېره پراختيا وموندله. دغه غزا د اسلام د پېغمبرﷺ وروستنۍ غزا وه چې د هجرت په نهم کال کې پېښه شوه.

لنډه دا چې حضرت محمدﷺ په ۲۸ غزاګانو کې ګډون درلود چې په ۹ غزاګانو کې جګړه پېښه شوې ده او پاتې نورې يې پرته له کومې جګړې سر ته رسېدلي دي. همدارنګه حضرت محمدﷺ له خپلو لارويانو څخه په لس ګونو استازي د جزيرة العرب په شاو خوا کې د دې لپاره ګمارلي وو چې د اسلام دښمنان وځپي، او د اسلام سپيځلي دين ته پراختيا ورکړي.

## د اسلام د پېغمبرﷺ د ژوند وروستي کلونه

حضرت محمدﷺ د الله ﷻ وروستنی پيغمبر ، د هجرت په يوولسم کال ( ۶۳۲ ز ) د ( ۶۳ ) کلونو په عمر په مدينه منوره کې له دې نړۍ څخه رحلت وکړ. هغه د عمر په اوږدو کې د عادي خلکو په شان ژوند کاوه. کور، خواړه او کالي يې ساده وو. هيڅ کله يې ځان له نورو څخه غوره نه ګاڼه. د الهي کلام (قرآن شريف) له احکامو سره سم له ملګرو او مومنانو سره مهربانه او د کافرانو او مشرکينو پر وړاندې سر سخت و. کوچنيانو سره يې زياته مينه درلودله. په ښځو او د خپل کور په نورو غړو مهربانه و. پيغمبرﷺ داسې يو شخصيت و چې قراني ارشاداتو د ده په ځان کې انعکاس موندلی و، ځکه د ده ژوند د مسلمانانو لپاره يوه بېلګه ګرځېدلې وه.

| | |
|---|---|
| د هجرت(۱) کال(۶۲۲ ز | په مدینې کې د اسلام ټینګښت، د قبا او نبوي جومات جوړول، د مسلمانانو تر منځ د ورور ولی ټینګښت او له یهودیانو سره د تړون لاسلیک. |
| د هجرت(۲) کال(۶۲۳ ز | د بدر غزا، د مسلمانانو بریالیتوبونه او په عربستان کې د اسلام د پراختیا اوازې. |
| د هجرت(۳) کال(۶۲۴ ز | د احد غزا، د یو شمېر مجاهدینو سرغړونه، د حضرت حمزه شهادت او د کفارو پرشا تګ. |
| د هجرت(۵) کال(۶۲۶ ز | د خندق غزا، د اسلام د دښمنانو یووالی، د خندق کېندل او د مسلمانانو بریا. |
| د هجرت(۶) کال(۶۲۷ ز | د حدیبیې سوله، اسلام ته د ګاونډیو هېوادنو د پاچاهانو بلنه او د اسلام پراختیا. |
| د هجرت(۷) کال(۶۲۸ ز | د خیبر فتحه. |
| د هجرت(۸) کال(۶۲۹ ز | د مکې فتحه- د بتانو ماتول. |
| د هجرت(۱۰) کال(۶۳۱ ز) | د پیغمبر ﷺ وروستی حج. |
| د هجرت(۱۱) کال(۶۳۲ ز) | د پیغمبر ﷺ رحلت. |

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېو یا پنځو کسیزو ډلو ووېشل شي د (۱-۱۰) کالونو مهمې پېښې او د هجرت ۱۱ کال دې له یو بل سره تکرار او لنډیز کړي.

## پوښتنې

۱- مسلمانانو کوم ځای ته هجرت وکړ، او ولې؟
۲- کفارو د مسلمانانو پر وړاندې په کوم تړون لاس پورې کړ؟
۳- غزا تعریف کړئ؟
۴- حضرت محمد ﷺ کومو پاچاهانو ته د اسلام بلنلیك واستاوه؟ کوم پاچا لیک او پیغام رسوونکي ته درناوی ونه کړ او څه پایله یې درلوده؟
۵- مکه معظمه څرنګه فتحه شوه؟
۶- د الهي وروستني پیغمبر حضرت محمد ﷺ د خوی او(اخلاقو) په هکله تبصره وکړئ.
۷- د پیغمبر ﷺ له ژوندانه څخه مو څه زده کړه وکړه؟
۸- د غزاګانو پیغام څه و؟

## له ټولګي بهر فعالیت

حضرت محمد ﷺ څرنګه ژوند کاوه، په دې هکله یو مطلب برابر او په ټولګي کې یې ووایئ.

# دويم ځپرکی

## خلفاي راشدين

په دې ځپرکي کې به د خلافت د مفهوم، د خلافت د رامنځ ته کېدو او د خلفاي راشدينو د دورې په هکله چې د اسلام د تاريخ په صدر کې شامليږي، معلومات تر لاسه کړو.

**د حضرت محمد ﷺ او د خلفای راشدينو د نسب شجره:**



# د څپرکي موخې

هیله کېږي چې زده کوونکي د دې څپرکي په پای کې لاندنیو(پوهنیزو، مهارتي او ذهنیتي) موخو ته ورسېږي.

۱- د خلافت په مفهوم او شرایطو باندې پوه شي.

۲- د خلفاي راشدینو (حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علی(کرم الله وجهه) خلافت ته د رسېدو له څرنګوالي سره به بلد شي.

۳- وکولای شي د خلفاي راشدینو کړنې د هغه وخت په شرایطو کې تحلیل کړي.

۴- وکولای شي د خلفاي راشدینو کړنې، خوی او خصلت د خپل ژوند تګلاره وګرځوي.

۵- په اسلامي حکومت او اسلامي اصولو باندې پوره باور پیدا کړي.

# د خلافت معنا او مفهوم

په دې لوست کې باید دغه پوښتنو ته ځواب ورکړو. خلافت څه ته وايي؟ د خلافت شرايط کوم دي؟

## د خلافت معنا او مفهوم څه دی؟

خلافت په لغت کې د نيابت په معنا وي او د شريعت په اصطلاح؛ د دين د اقامې لپاره عمومي رياست، د ديني علومو بيا ژوندي کول، د اسلام د ارکانو اقامه، جهاد، د عدالت ټينګول او د ظلم مخنيوی او د پېغمبرﷺ په نيابت امر بالمعروف او نهي عن المنکر د خلافت له اصولو څخه دي.

له دې امله خلافت د اسلامي نظام پر بنسټ يو جوړ شوی ځانګړی حکومت دی. د اسلام خليفه د شريعت د مقرراتو له مخې، د مسلمانانو ديني او دنيوي چارې د اسلام له پېغمبرﷺ وروسته د قرآن مجيد د احکامو او احاديثو په مطابق پر مخ وړي. د خليفه دنده يوازې په سياست او حکومت باندې پای ته نه رسيږي، بلکې د خليفه ډېره مهمه دنده د لوی خدایﷻ د بندګانو سمون، ارشاد او لارښوونه ده چې په دې اړه يې له ټولو شته امکاناتو څخه هر اړخيزه او ښه ګټه اخلي. ټولنيز عدالت يې رامنځ ته کړي او د خلکو د سوکالۍ لپاره يې هڅه کوي. همدارنګه دنده لري تر څو د اسلام سپېڅلي دين خپور او د اسلامي نظام لمن په نړۍ کې وغزوي. ځکه چې خليفه په دې نړۍ کې د مسلمانانو او په آخرت کې د خدای پاک پر وړاندې مسؤول او ځواب ورکوونکی دی.

د خلفاي راشدينو دوره، زرين عصر او د اسلام د صدر د دورې يوه برخه ده، په دې دوره کې يوازې عدالت، تقوا، رښتينولۍ او ديندارۍ حکومت کاوه. هر چا چې هر عمل تر سره کاوه، د حقيقت له مخې و، مؤرخين او پوهان، دغه دوره د اسلامي سياسي نظام ډېره ښه بېلګه ګڼي.

## د خلافت شرطونه

١- مسلمان وي
٢- عاقل وي
٣- بالغ وي
٤- نارينه وي
٥- پوهه ولري
٦- عدالت ولري

۷- اهلیت ولري
۸- خپلواک وي
۹- روحي او ځاني سلامتیا ولري

د خلفاي راشدینو په دوره کې، د خلافت موضوع د اسلام د غورو مشرانو په سلا او مشورې سره حل کېدله. څرنګه چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د اسلام د سترو مشرانو(مهاجرو او انصارو) له مشورې وروسته، حضرت عمر رضي الله عنه خپل ځایناستی وټاکه او حضرت عمر رضي الله عنه د هر ډول ګډوډیو د مخنیوي لپاره یو شمېر اصحاب دغه مقام ته نوماند کړل، تر څو د یو بل په مشورې سره خلیفه وټاکي او هېڅ یو هم د خلفای راشدینو څخه داسې نظر نه درلود چې خلافت ارثي کړي، ان تر دې چې حضرت عمر رضي الله عنه خپل زوی حضرت عبدالله د شورا پلاوي د غړي په توګه وټاکه، خو د خلافت لپاره یې د هغه له ټاکل کېدلو څخه خلک منعه کړل. په پای کې شورا حضرت عثمان رضي الله عنه وټاکه او د هغه له شهادت څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه پرته له هغه شان مراسمو خلافت ته ورسېد. په دغه مهال کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډېر زیات شمېر صحابه وو په مدینې منوره کې شتون نه درلود. د هغوی یو شمېر حضرت علي(کرم الله وجهه) ته بیعت وکړ او یو شمېر نورو له بیعت څخه ډډه وکړه.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درې یا پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي. د خلافت د شرطونو په اړه دې له یو بل سره خبرې اترې وکړي. د هغوی یو تن دې پایله نورو ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې

۱- خلافت یعنې څه؟
۲- د خلافت شرایط د تختې پر مخ ولیکئ.
۳- د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د خلفاي راشدینو عصر ته ولې زرینه دوره او د اسلام صدر وایي؟

## له ټولګي بهر فعالیت

د لوست په اړه د پورتنیو پوښتنو په څېر دوې دوې پوښتنې برابرې کړئ.

# د خلافت د جوړېدو سریزه

په دې لوست کې به د حضرت محمدﷺ له رحلت وروسته د خلافت د جوړېدو له څرنګوالي سره بلدتیا تر لاسه کړئ.

اسلامي دولت د هجرت په لومړي کال کې د حضرت محمدﷺ په وسیله په مدینې منوره کې رامنځ ته شو. هغه مهال مسلمانان یعني د پېغمبرﷺ د یارانو شمېر زرو تنو ته نه رسېده چې مهاجر او انصار په کې شامل وو. له هماغه پیل څخه دغو لږ شمېر کسانو، د خپل کار بنسټ په مرستې، وروروليٰ، برابرۍ او مشورو سره کېښود. پېغمبرﷺ د هغوی تر منځ د وروروليٰ (مواخات) تړون رامنځته کړ، تر هغې کچې پورې چې د هر مسلمان خیر او مصلحت په کې شامل و او د یویو تن خیر او مصلحت ټولیز مصلحت ګڼل کېده.

د همدې لپاره د جماعت لمونځ رامنځ ته شو چې دنیوي پایله یې یووالی او د لاربښوود اطاعت او د یوبل له حال څخه خبرېدل دي. زکات د اسلامي اقتصادي نظام او تشکیلاتو بنسټ و، یعني د زکات په رامنځ ته کېدو سره بیت المال رامنځ ته شو.

ښکاره ده چې هر دولت رژیم لري او هر یو له دغو رژیمو څخه د ځانګړو قوانینو او مقرراتو تابع دی. هرو مرو هر رژیم باید دوه موسسې ولري. دغه دوه موسسې له پوځ او شتمنۍ څخه عبارت دي، ځکه هېڅ دولت یا نظام له دغو دوو موسسو څخه پرته نشي کولای، خپل سیاسي او اقتصادي ژوند ته دوام ورکړي.

پېغمبرﷺ د خپل ژوند په مهال، د مسلمانانو د دیني او دنیوي چارو مشر و. خلافت چې د پېغمبرﷺ له رحلت وروسته منځ ته راغی، یو دیني او دنیوي منصب و، خلفاي راشدین هم د همدغه منصب او سمت درلودونکي وو، یعني د حضرت رسول اکرمﷺ کړنې یې کارولې.

د هغه حضرت له رحلت څخه وروسته د پېغمبرﷺ د ځای ناستي په اړه د مهاجرینو او انصارو تر منځ اختلافات رامنځ ته شول. مهاجرینو ویل موږ خپل خپلوان او هېواد پرېښود او له پېغمبرﷺ سره مدینې منورې ته راغلو، له نورو څخه موږ ډېر غوره یو او باید د پېغمبرﷺ ځایناستی له موږ څخه وي او په خپله پېغمبرﷺ له موږ څخه و، د انصارو څرګندونې دا وې که چېرې زموږ ملګرتیا نه وای، اسلام دومره پرمختګ نه کاوه. په دې لړ کې حضرت ابوبکر صدیقرضی الله عنه یو حدیث چې له پېغمبرﷺ څخه یې اوریدلی و، انصارو ته واوروه چې د هغه حدیث ژباړه دا ده: د مسلمانانو واکمن باید له قریشو څخه وي، انصارو چې دا واورېد، له خپلې غوښتنې څخه یې ډډه وکړه، خو د مهاجرینو په منځ کې ګډوډۍ رامنځته شوې چې له هغوی څخه به کوم یو خلیفه یا د پېغمبرﷺ (ځایناستی) وي او ورو ورو کار ستونز من کېده، په دغه مهال کې حضرت عمررضی الله عنه چې د اسلام له سترو مشرانو څخه و، له حضرت ابوبکر صدیقرضی الله عنه

سره يې بيعت وکړ. خلکو هم له هغه څخه ملاتړ وکړ او حضرت ابوبکر صديق ﷛ له دې امله چې هغه لومړی سړی و چې اسلام يې ومانه، هغه د عمر له پلوه تر ټولو مشر هم و او تر ټولو مهمه دا چې پيغمبر ﷺ د ناروغۍ پر مهال حضرت ابوبکر صديق ﷛ په خپل ځای جومات ته واستاوه تر څو د جماعت امامت وکړي، بيعت يې ور سره وکړ.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دريو يا پنځه کسيزو ډلو وويشل شي ، هره ډله دې د لوست لنډيز د يو بل په مرسته وليکي له هغو څخه دې يو تن نورو ته ووايي.

## پوښتنې

۱-د اسلام پيغمبر حضرت محمد ﷺ په مدينې منوره کې د څه شي بنسټ کېښود؟

۲- څرنګه خلافت رامنځ ته شو؟

۳- حضرت ابوبکر صديق ﷛ څرنګه خلافت ته ورسېد؟

## له ټولګي بهر فعاليت

خلافت يعنې څه؟ په دې اړه د سيمې د امام په مرسته يوه مقاله وليکئ چې له پنځو کرښو لږ نه وي.

# د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خلافت له (۱۱ تر ۱۳ هـ . ق کلونو پورې)

په دې لوست کې به د مسلمانانو د لومړني خلیفه، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خلافت ته د رسېدلو په څرنګوالي او د دوی له مهمو کارونو سره بلد شئ.

تاسو مخکې د حضرت محمد ﷺ د ژوند په هکله او د اسلام د پیدایښت او پراختیا له څرنګوالي سره د رسول اکرم ﷺ په زمانه کې اشنایي پیدا کړه. اوس د حضرت محمد ﷺ له رحلت څخه وروسته یعنې د خلفاي راشدینو د دورې د اسلامي ټولنې په حالاتو باندې خبرې وکړو.

## د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خلافت

د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ اصلي نوم عبدالله بن ابوقحافه په صدیق ملقب او کنیه یې ابوبکر دی. د عام الفیل له پېښې دوه کاله او څو میاشتې وروسته یې په مکې مکرمې کې نړۍ ته سترګې پرانیستلې.

د حضرت محمد ﷺ له رحلت څخه وروسته مهاجرین او انصار په یوه سیمه کې چې د سقیفه بني ساعده په نامه یادېږي، سره راټول شول چې د مسلمانانو د چارو د ښه سمون لپاره، یو ښه سړی د خلیفه په توګه وټاکي. له یو لړ خبرو اترو او مشورو وروسته د هجري قمري په یوولسم کال د ربیع الاول په میاشت کې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د خلیفه په توګه وټاکل شو او ټولو انصارو او مهاجرینو د زړه له کومې له هغه سره بیعت ((بیعت هغه تړون و چې د فرمان ورکوونکي او فرمان منونکي تر منځ تړل کیده او دویم د خپل د ژوندانه ټول واک یې لومړني ته ورکاوه او ژمنه به یې کوله چې د هغه فرمان په ټولو چارو کې چې له شریعت سره سمون ولري که د ده په ګټه یا زیان هم اوسي، مني)). له بیعت اخیستنې وروسته حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دا خطبه ولوستله چې ژباړه یې دا ده«ای خلکو! زه په تاسو مشر ټاکل شوی یم، خو له تاسو ښه نه یم. که نېک او سم کارونه مې وکړل، له ما سره مرسته وکړئ او که چېرې ناوړه کړه مې وکړل، سمې لارې ته مې راواړوئ. ای خلکو! ستاسو ځواکمن زما پر وړاندې کمزوری دی، تر هغه چې د خلکو حق ترې واخلم او ستاسې کمزوری زما پر وړاندې ځواکمن دی تر څو د ده حق له بل څخه واخلم د الله ﷻ په مرسته. ای خلکو! هېڅوک له تاسو باید له جهاد څخه لاس وانخلي. کوم خلک چې له جهاد څخه لاس واخلي، خوار او بې وزلي به شي. تر هغه وخته چې زه د خدای ﷻ او پیغمبر ﷺ فرمان منونکی یم، له ما څخه اطاعت وکړئ او که د خدای ﷻ نافرماني مې وکړه، زما لارویتوب مه کوئ».

د حضرت محمد ﷺ له رحلت وروسته هغه ځواکمن کسان چې د دوی نفوذ کم شوی و، له وخت څخه په ګټې اخیستنې سره یې د اسلام د سپېڅلي دین پر وړاندې مخالفت کاوه او په پایله کې د مکې مکرمې، مدینې منورې او د طایف خلکو په استثنا نور عرب قبایل له دین څخه واوښتل او غوښتل یې چې د اسلام دین له خطر سره مخ کړي چې د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د ښه تدبیر له مخې دغه ګواښ له منځه لاړ.

**تر ټولو مهم کارونه چې پدې وخت کې تر سره شول، عبارت دي له:**

- هغه کسان چې د زکات له ورکړې څخه يې سرغړونه کوله، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ډېر لوړ تدبير سره د اسلام دين ته متوجه کړل او مرتدانو ته يې د دوی د شومو کړنو سزا ورکړه.
- د قرآن شريف هغه مبارك آيتونه او سورتونه چې په بېلا بېلو پاڼو کې ليکل شوي وو، په صحيفو کې راټول کړای شول.
- د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په وخت کې د اسلام د خپرېدو لاري د حجاز (سعودي عربستان) ټولو سيمو او شام ته چې له (سوريې، لبنان، اردن او فلسطين) څخه عبارت دي او همدارنګه بين النهرين(عراق) ته، پرانيستل شوې.

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د هجري قمري په ديارلسم کال کې دوه کاله او درې مياشتو خلافت وروسته د(۶۳) کلنۍ په عمر وفات او په نبوي روضه کې خاورو ته وسپارل شو.

## په ټولګي کې فعاليت

په ډله ييز کارکې د لوست لنډيز خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړئ.

## پوښتنې

۱- حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څرنګه خلافت ته ورسيد؟
۲- د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې کوم کارونه تر سره شول؟
۳- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ، سمه جمله د (ص) او نا سمه جمله د(غ) په توري سره په نښه کړئ.

الف- حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ۱۲ هجري قمري کال کې خلافت ته ورسيد.( )
ب - حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د ۶۳ کلنۍ په عمر وفات شو.( )
ج - حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته له دې کبله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هره خبره به يې منله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له خوا ورته د (صديق) لقب ورکړل شو.( )

۴ - د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه له ژوند څخه مو څه زده کړل؟ تبصره پرې وکړې.

## له ټولګي بهر فعاليت

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خوی او خصلت تر سرليك لاندې يوه مقاله وليکئ چې له پنځو کرښو لږه نه وي.

# د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خلافت

## «د اسلام د خپرېدو ځلاند پېر له ١٣ تر ٢٣ هـ.ق. کلونو پورې»

په دې لوست کې به د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خلافت ته د رسېدو په څرنګوالي او د دوی له کړنو سره په لنډه توګه بلد شئ.




د خلفاي راشدینو په پېر کې د اسلام پرمختګ

حضرت عمر رضي الله عنه بن خطاب ملقب په فاروق ، په مکې معظمې کې د عام الفیل په ١٣ کال کې زېږېدلی دی. حضرت عمر رضي الله عنه د بعثت په شپږم کال په ښکاره ډول د اسلام په دین مشرف شو. دغه کار مشرکین سخت په وېره کې واچول.

هغه مهال چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه ناروغه شو، له ځینو اصحابو کرامو سره یې مشوره وکړه. د مشورې په پایله کې ټولو اصحابو د غې سپېڅلې او درنې دندې ته حضرت عمر رضي الله عنه وټاکلو.

کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه پدې هکله د خلکو خوښه تر لاسه کړه، او یو فرمان یې ولیکلو، تر څو هغه د ده له مړینې وروسته د مسلمانانو په وړاندې ولوستل شي. پدې ډول حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه له مړینې وروسته د هجرت په دیارلسم کال د خلافت درنده او سپېڅلې دنده پر غاړه واخیسته.

هغه ستر کارونه چې حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په اوږدو کې تر سره شول، عبارت دي له:

١- د اسلامي خلافت لمن په ختیځ کې د عراق او ایران لور ته ورسېده او په لویدیځ او شمال کې ټول شام، مصر او د افریقا شمالي برخې د هغه په ولکه کې راغلې.

٢- د خلافت په قلمرو کې د اداره کولو لپاره، منظم دفترونه منځته راغلل او د لومړي ځل لپاره بیت المال(خزانه) او مالیاتي اداره جوړه شوه.

٣- د چارو د تر سره کولو لپاره متقي او پرهیزګاره کسان وګمارل شول.

٤- د خلکو د ژوند د نېکمرغۍ او ښه کېدو لپاره لارې، پلونه، دیني مدرسې، جوماتونه او نوي ښارونه جوړ شول.

٥- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هجرت نېټه دمسلمانانو د تاریخ پیل(مبدا) وټاکل شوه.

٦- د لومړي ځل لپاره له بهرنیو سوداګرو څخه د مالیې(ټکس) اخېستل دود شول.

لنډه دا چې هر چا کولای شول په آسانۍ له دوی سره ووینې.د شپې له خوا به یې ګزمه کوله تر څو د خلکو له احوال څخه خبر شي. د قضاوت په هکله به یې د خپلو او پردیو تر منځ توپیر نه کاوه.

پر حضرت عمرؓ باندې د ذی الحجې د میاشتې په ۲۷ نېټه په داسې حال کې چې په نبوي جوماتکې د سهار په لمانځه ولاړ و، ناڅاپي د یو مجوسي(اتش پرست) مریي له خوا چې (ابولؤلؤ) نومېده، په زهر و لړلې توره ورسره وه، برید وشو چې د ټپي کېدو له کبله بې هوښه شو. کله چې په هوښ راغی نو ۶ کسه یې وټاکل چې د ده له شهادت وروسته یو له دوی څخه خلیفه وټاکي. حضرت عمر ؓ له لس کالو او پنځو میاشتو خلافت وروسته د هجرت په (۲۳) کال د ۶۳ کالو په عمر، د شهادت لوړ مقام ته ورسېد او د حضرت محمد ﷺ د زیارت تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

## په ډولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو او یا پنځه کسیزو ډلو ووېشل شي، د حضرت عمرؓ هغه کارونه چې د ده د خلافت په وخت کې تر سره شوي دي، خبرې اترې دې پرې وکړي او پایله دې د یو استازی لخوا نورو ته وویل شي.

## پوښتنې

- بیت المال څه وخت منځته راغی؟ د څه لپاره؟
- مالیاتي دفترونه د څه لپاره منځ ته راغلل؟
- د حضرت عمر فاروقؓ له ژوند څخه مو څه زده کړل؟ خبرې پرې وکړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د حضرت عمرؓ د شخصیت په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو څخه کمه نه وي.

# د حضرت عثمان رضی الله عنه خلافت له (۲۳ تر ۳۵ هـ.ق کلونو پورې)

په دې لوست کې دغو پوښتنو ته ځواب ورکول کېږي: حضرت عثمان رضی الله عنه څرنګه خلافت ته ورسېد؟ د دوی د خلافت دوره د اسلام د پراختیا او فتوحاتو له پلوه څرنګه وه؟ او د هغه په وخت کې کوم کارونه تر سره شول؟

حضرت عثمان رضی الله عنه بن عفان ملقب په ذوالنورین، پنځه کاله له عام الفیل څخه وروسته نړۍ ته راغی. دحضرت عمر رضی الله عنه له شهادت وروسته هماغه شپږ کسه (حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علي رضی الله عنه، حضرت طلحه رضی الله عنه، حضرت زبیر رضی الله عنه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه، او حضرت سعد بن وقاص رضی الله عنه د اسلامي شورا په نامه سره راټول شول. له درېو ورځو مشورو وروسته یې حضرت عثمان رضی الله عنه د خلیفه په توګه وټاکه.

هغه ستر کارونه چې په دې وخت کې سر ته رسېدلي، عبارت دي له:

- حضرت عثمان رضی الله عنه خپله ټوله شتمني د اسلام د دین د خپرېدو په لار کې په لګښت ورسوله.
- هغه بلوا ګانې چې د خلافت په ګوټ ګوټ کې یې سر راپورته کړی و، په دې وخت کې له منځه یووړل شوې.
- قرآن کریم چې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کې راټول او غونډ کړای شو، د حضرت عثمان رضی الله عنه په وخت کې په صحیفو کې ولیکل شو او اسلامي فتحه شوو سیمو ته ولېږدول شو.
- دوه ډوله سوبې د مسلمانانو په برخه شوې:

الف: د هغو سیمو دویم ځلي فتحه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې فتح شوې وې، خو د ده له شهادت وروسته یې بلواګانې کړې وې لکه: ری( تهران )، همدان، سکندریه او آذربایجان.

ب: د نوو ځمکو فتحه کول لکه: د کوچنۍ اسیا(ترکیه) او د شمالي افریقا ځینې سیمې، همدارنګه د قبرس ټاپو چې د رومیانو په لاس کې و، فتحه شو او د افغانستان ډېرې سیمې په دې زمانه کې د اسلام په سپېڅلي دین مشرفې شوې. سمندري ځواکونه په دې وخت کې منځته راغلل.

د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په وروستنیو کلونو کې ځینو کسانو د دوی له نرمۍ څخه ناوړه ګټه پورته کړه او هغوی د ګډوډیو رامنځته کېدو ته لمن ووهله، تر دې بریده چې مخالفان د دربیم خلیفه کورته ور پورته شول او هغه یې په داسې حال کې چې د قرآن عظیم الشان په تلاوت بوخت و، د ۸۴ کالو په عمر، په شهادت ورساوه.

حضرت عثمان رضی الله عنه دوولس کاله خلافت وکړ او د هجرت په(۳۵) کال یې خلافت پای ته ورسېد.

## په ټولګي کې فعالیت

په ډله ییز فعالیت کې هغه کارونه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې سر ته رسېدلي دي، په یوه چارټ کې برابر کړئ.

## پوښتنې

۱- د حضرت عثمان رضي الله عنه خلافت څو کاله و؟

۲- د افریقا کومې سیمې د درېیم خلیفه په مهال فتحه شوې؟

۳- حضرت عثمان رضي الله عنه څرنګه خلافت ته ورسېد؟

۴- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او سم عبارت د (ص) په توري او نا سم عبارت د (غ) په توري سره په نښه کړئ.

- حضرت عثمان رضي الله عنه له ۲۳ څخه تر ۳۵ هـ ق کلونو پورې خلافت وکړ ( )
- تهران، همدان او اذربایجان سیمې د دویم ځل لپاره د درېم خلیفه په زمانه کې فتحه شوې ( )
- حضرت عثمان رضي الله عنه ، ۱۲ کاله خلافت وکړ او په ۳۵ هـ ق کال په شهادت ورسېد( )

۵- د حضرت عثمان رضي الله عنه له ژوند څخه مو څه زده کړل؟ خبرې پرې وکړئ.

## له ټولګي بهر فعالیت

د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له شپږو کرښو لږه نه وي.

# د حضرت علي (کرم الله وجهه) خلافت (له ۳۵ تر ۴۰ هـ.ق کلونو پورې)

په دې لوست کې به موږ د حضرت علي کرم الله وجهه د خلافت له دورې سره آشنا شو، سر بېره پر دې د خلفای راشدین د پېر په ځرنګوالي چې د اسلام د صدر په نوم نومول شوی دی هم وپوهېږئ.

حضرت علي(کرم الله وجهه) د ابوطالب زوی د پېغمبر ﷺ د کاکا زوی او زوم و، په اسدالله ملقب، د حضرت عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته، مهاجرینو او انصارو له حضرت علي رضي الله عنه سره بیعت وکړ. حضرت علي(کرم الله وجهه) د خپل خلافت مرکز په عراق کې د کوفې ښار وټاکه. نوموړي د حضرت محمد ﷺ او دنورو خلفای راشدینو په څېر ساده ژوند خوښاوه.

د حضرت علي(کرم الله وجهه) د خلافت په دوره کې له شام(سورېې) ځخه پرته، ټولو اسلامي هېوادونو د هغه پیروي کوله. په هغه زمانه کې حضرت معاویه رضي الله عنه د ابوسفیان زوی د شام حاکم و. حضرت علي(کرم الله وجهه) هغه ته له مرکزي اسلامي حکومت سره د یو ځای کېدو بلنه ورکړه. حضرت معاویه رضي الله عنه د هغه دعوت ونه مانه، حضرت علي رضي الله عنه هغه د شام له حکومت ځخه لرې کړ. معاویه د هغه له امر ځخه سر غړونه وکړه. همدارنګه حضرت بي بي عایشه رضي الله عنها ، طلحه رضي الله عنه ، زبیر رضي الله عنه او معاویه رضي الله عنه غوښتل هغه کسان چې حضرت عثمان رضي الله عنه یې په شهادت رسولی و، ژر قصاص شي. خو حضرت علي(کرم الله وجهه) وویل کله چې وضعه ارامه شي، نو د حضرت عثمان رضي الله عنه قاتلانو ته به سزا ورکړای شي. ددغو اختلافاتو له امله و چې د جمل جګړه ونښته او د حضرت علي(کرم الله وجهه) په ګټه پای ته ورسېده.

همدارنګه د حضرت علي( کرم الله وجهه) او معاویه رضي الله عنه تر منځ په صفین کې جګړه ونښته. ځرنګه چې د حضرت علي(کرم الله وجهه) د پلویانو بری حتمي و، حضرت معاویه رضي الله عنه د عمرو بن عاص رضي الله عنه ځخه وغوښتل چې یوه لاره ولټوي. د عمرو عاص په وړاندیز، د معاویه لښکرو ټولو د قرآن کریم پاڼې اوچتې کړې او نارې یې کړې«موږ ټول د دغه کتاب پیروان یو نو ځکه باید چې په خپلو منځو کې سره ونه جنګېږو.» له دې کبله پرېکړه وشوه چې له هر لوري ځخه دې پلاوي وټاکل شي هر څه چې هغوی وویل، حضرت علي(کرم الله وجهه) او حضرت معاویه رضي الله عنه دې ومني. د حضرت معاویه رضي الله عنه پلاوی عمرو بن عاص د حضرت علي رضي الله عنه پلاوی ابو موسی اشعری دوکه کړ او هغه ته یې وویل چې دواړه له خلافت ځخه لرې کوو او ابو موسی ور سره ومنله. لومړی ابو موسی له خلافت ځخه د حضرت علي(کرم الله وجهه) د ګوښه کېدو اعلان کړ، خو عمرو بن عاص د خپلې ژمنې خلاف داسې اعلان وکړ چې حضرت معاویه رضي الله عنه د مسلمانانو خلیفه دی.

په دې وخت کې د حضرت علي(کرم الله وجهه) یو شمېر پلویانو له ده ځخه سرغړونه وکړه او حضرت معاویه رضي الله عنه یې هم په خلافت ونه منلو. دغو خلکو ته خوارج وایي. دوی د مسلمانانو په وژلو لاس پورې کړ. حضرت علي(کرم الله وجهه) اړ شو چې له هغوی سره په نهروان کې مقابله وکړي. د خوارجو له ماتې ځخه وروسته، له دوی ځخه درې کسانو په خپل منځ کې تړون وکړ چې په یوه ورځ کې حضرت علي(کرم الله وجهه)، حضرت معاویه رضي الله عنه او عمرو بن عاص ووژني. له دې درې کسانو ځخه، یوازې عبدالرحمن بن ملجم چې د حضرت علي(کرم الله وجهه) په وژنو مامور شوی و، د روژې د میاشتې په ۱۹ نېټه سهار یې چې د هجرت له (۴۰) کال سره سمون خوري د کوفې په جومات کې د لمانځه کولو په حال کې په حضرت علي(کرم الله وجهه) په

زهرو ککړې توري سره وار وکړ چې له همدې ټپ څخه دوې ورځې وروسته د ۶۴ کلنی په عمر په شهادت ورسېد. د ده د خلافت دوري کابو پنځه کاله دوام وکړ. حضرت علي(کرم الله وجهه) د پوهې، تقوا، قناعت، ښو او لوړو اخلاقو څښتن و. د ده د خلافت موده سر تر پایه مبارزه وه. خو له دې سره سره یې وکړای شول چې په دغه موده کې د نورو خلفاوو په شان عدالت پلی کړي او د ظلم په وړاندې په ټینګه مبارزه وکړي.

## د خلفاې راشدینو پیر ته لنډه کتنه

د حضرت علي رضي الله عنه له شهادت وروسته د خلفاې راشدینو د خلافت زرینه دوره پای ته ورسېده. لنډ دا چې د خلفاې راشدینو دوره د الهي احکامو پر بنسټ، د حضرت محمد ﷺ پر سنت او پرهیزګارۍ ولاړه وه او په عدالت یې پراخوالی وموند. خلفا په ساده ژوند راغلل او بېرته لاړل، د دوی په دوره کې خلافت ډېر روحاني مقاماتو ته ورته و، دولتي او پاچایي شان او شوکت یې نه درلود. خلفاې راشدینو خمتا کالي اغوستل، د خرما(کجوري) پوستکی نالی په ښو کولې او د عادي خلکو غوندې یې په کوڅو او بازارونو کې تګ او راتګ کاوه. د خلفاې راشدینو په واکمنی کې تقوا، پرهېزګاري او عدالت موجود و، د اسلامي حکومتونو لپاره یوه بېلګه وه. دوی له خلکو سره ښه رویه درلوده. څکه له خلکو سره ښه رویه د اسلام د سپیڅلې دین له اصولو څخه ګڼل کېده. د خلفاوو خوراک د ټولو بې وزلو خلکو په شان و.

### په ټولګي کې فعالیت

د ډله ییزو کارونو په واسطه د لاندنیو مطالبو په اړه سره بحث وکړئ. د بحث پایله په ټولګي کې له یو بل سره شریکه کړئ.

- د جمل جګړه - د صفین جګړه
- څنګه د خلافت پلازمېنه له مدینې منورې څخه کوفې ته ولېږدول شوه؟

### پوښتنې

۱- حضرت علي(کرم الله وجهه) څرنګه خلافت ته ورسېد؟
۲- خوارج څوک وو؟ او ولې دوی ته خوارج ویل کېدل؟
۳- حضرت علي(کرم الله وجهه) څرنګه په شهادت ورسېد؟
۴- د پورتنی پوښتنې په شان هر زده کوونکی دې دوه دوه پوښتنې چمتو کړئ.
۵- د حضرت علي(کرم الله وجهه) له ژوند څخه څه پوهېږئ؟ خبرې پرې وکړئ.
۶- د خلفاې راشدینو له لوستونو څخه مو څه زده کړل؟

### له ټولګي بهر فعالیت

د خلفای راشدینو تر سر لیک لاندې یو مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو څخه لږه نه وي.

# د جغرافيې برخه

## لومړی څپرکی

# اروپـــــا

**په دې څپرکي کې لاندې موضوعات لولو.**




د اروپا لويه وچه وپیژنئ

جغرافيايي موقعيت او څلور خواوې
طبيعي جغرافيه
سياسي جغرافيه
بشري جغرافيه
اقتصادي جغرافيه
مواصلاتي جغرافيه

# د څپرکي موخې

**گرانو زده کوونکو: په دی څپرکي کې لاندنیو علمي موخو سره آشنا شئ:**

ـ د اروپا د لویې وچې جغرافیایي موقعیت

ـ د اروپا د لویې وچې مهم غرونه

ـ د اروپا د لویې وچې سیاسي جغرافیه (سرحدونه او هېوادونه)

ـ د اروپا د لویې وچې بشري جغرافیه (نفوس، نژاد، ژبې او دین)

ـ د اروپا د لویې وچې اقتصادي جغرافیه (کرنه، صنعت، سوداګري او اړیکي)

ـ د اروپا مواصلاتي جغرافیه (ځمکني، سمندري او هوایي ټرانسپورټ)

**ګران زده کوونکي کولای شي لاندې مهارتونه سرته ورسوي.**

ـ د اروپا د لويې وچې نقشې رسمول او د سیاسي پولو پېژندل.

ـ د اروپا د نقشې پر مخ د سیندونو او غرونو تشخیص کول.

ـ د اروپا د لویې وچې د سیاسي واحدونو پېژندل

ـ د اروپا د لویې وچې د نقشې پر مخ د مهمو کرنیزو تولیداتو پېژندل.

ـ د اروپا د لویې وچې د نقشې پر مخ د غوره کانونو پېژندل.

ـ د اروپا د لویې وچې د نقشې پر مخ د غوره بندرونو پېژندل.

# د اروپا لویه وچه وپېژنئ




د اروپایي جغرافیایي موقعیت

**پورتنۍ نقشې ته وګورئ کوم سمندرونو او سمندرګیو اروپا را چاپېره کړې ده؟**

## جغرافیایي موقعیت او ځلور خواوې:

اروپا د نړۍ د کوچنیو لویو وچو له ډلې څخه ده چې په معتدله اقلیمي سیمه کې پرته ده. ددې لویې وچې شمال خواته شمالي کنګل سمندر، جنوب خواته یې د مدیترانې سمندرګې، ختیځ ته یې د اسیا پراخه لویه وچه، چې د اورال غرونو، د اورال سیند، دکسپین سمندرګې، د قفقاز غرونو او تور سمندرګي په وسیله له اروپا څخه بیله شوې او لویدیځ ته یې د اطلس اقیانوس (اتلانتیک سمندر) دی. (٤١ مخ نقشې ته دې مراجعه وشي).

آیا د اروپا لویه وچه (براعظم) بیله وچه ده؟

اروپا د اسیا له لویې او پراخې وچې سره نښتې ده او له همدې سببه یو شمیر جغرافیه پوهان آسیا او اروپا یوه لویه وچه ګڼي او د یوروشیا په نامه یې یادوي.

د اروپا د لویې وچې پراخوالی ١٠ میلیونه کیلومتره مربع او په ٢٠١٧م کال کې یې د وګړو شمیر ٨٢٢,٧ میلیونو تنوته رسیده. ځینې مشهور صنعتي هیوادونه په دې لویه وچه کې پراته دي.

د اروپا په قاره کې څو ټاپو وزمې شته، آیا کولای شئ هغه په نقشه کې پیداکړئ او نومونه یې واخلئ؟

د پاڼې د بل مخ په نقشه کې د اروپا ټاپو وزمې کتلای شئ.

د اروپا لویه وچه د ماتو سواحلو، زیاتو سمندرگیو او خلیجونو د شته والي له امله چې په وچه کې ننوتي، زیات شمیر ټاپو وزمې رامنځته کړې دي چې موږ یې دلته د ځینو لویو ټاپووزمو نومونه اخلو:

- د اسکاندیناویا ټاپووزمه، چې په هغې کې د ناروې او سویډن هیوادونه پراته دي.
- د بالکان ټاپووزمه چې په هغې کې د البانیا، بلغاریا، بوسینیا او هرزگووینا، صربستان، کرواسي او مونتینګرو هیوادونه موقعیت لري.
- د ایبرې ټاپووزمه چې په هغې کې د اسپانیې او پرتگال هیوادونه پراته دي.
- د اپنین ټاپووزمه چې په هغې کې د ایټالیې هیواد پروت دی .




د اروپا د ټاپووزمو نقشه

## په ټولگي کې فعالیت

ښوونکی دې زده کوونکي په ډلو وویشي او هره ډله دې د لوست د مهم مطلب په هکله بحث او خبرې وکړي او د بحث پایله دې د ډلې استازي ټولگیوالو ته ووایي. همدارنگه دې د پورتنۍ نقشې له مخې د ټاپو وزمو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## پوښتنې

متن ولولئ او لاندنیو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱- د یوروشیا له اصطلاح څخه هدف څه دی؟

۲- د اروپا لویه وچه په کومه اقلیمي سیمه کې موقعیت لري؟

۳- کوم غرونه د آسیا او اروپا د لویو وچو ترمنځ بېلوونکي طبیعي پوله پېژندل شوې ده؟

## له ټولگي بهر فعالیت

د اروپا بې لیکنې نقشه رسمه کړئ په هغې کې جغرافیایي موقعیت، څلور خوا وې او ټاپو وزمې په گوته کړئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې په ټولگي کې وواياست.

# د اروپا طبیعي جغرافیه




د اروپا د سیندونو نقشه

په پورتني شکل کې د اروپا طبیعي نقشي ته وګورئ.

**الف - د اروپا د لویې وچې غرونه:**

د اروپا لویه وچه، که څه هم ډېره پراخه نه ده، خو بیاهم د جغرافیایي بېلابېلو جوړښتونو او د سواحلو د ننوتو له امله د نړۍ له ټولو وچو څخه اوبوته زیاتې لار ې لري.

د اروپا په لویه وچه کې بیابانونه او بې اوبو او بې وښو دښتې نشته، خو د هغو پرځای ډېر هېوادونه د غرونو لویو او کوچنیو لړیو پوښلي دي، چې ځینې یې د جیولوجي (ځمکې پیژندنې) د لومړۍ دورې پورې اړه لري.

د اروپا د لویې وچې غرونه اولوړې ژورې په څو برخو وېشل شوي دي؟

د اروپا د لویې وچې په شمالي برخوکې غرونه د ځمکې پېژندنې د علم له نظره زاړه او پخواني دي. لوړ نه دي او ګنبځې ډوله ښوکې لري. په دغو سیموکې پراخه چمنونه او ډېر جهیلونه هم لیدل کېږي. د اروپا دې سیمې ته چې په ډېره اوږده دوره کې سولیدلې، لوړوالي یې له منځه تللی او پرځایې لږې لوړې او ژورې منځته راغلې دي د ځمکې پېژندنې له نظره ورته پخوانۍ اروپا ویل کېږي، لکه د فرانسې د ماسیف سنټرال Massif Central د غرونو لړۍ چې د زړو غرونو په نوم شهرت لري.

د اروپا په سوېلي سیموکې د ګونځې لرونکو لوړو غرونو لړۍ لیدل کېږي. په دغو سیموکې په واورو او کنګلونو پټې او تېرې ښوکې شته. د غرونو لمنې ډېر سخت ځوړې لري. د الپ اوپیرنې غرونه په دې

سیمه کې پراته دي. د دې غرونو په منځ کې ډېر ځړوبي او له اوبو څخه ډک سیندونه شته دی .د دغو سیندونو له پاسه د برېښنا لوی بندونه او دستګاوې جوړې شوې، چې له انرژۍ څخه يې په صنعت او د اوبو څخه يې په کرنه کې ګټه اخیستل کېږي.

سوېلي سيمې، چې په هغې کې ګونځې لرونکي لوړ غرونه شته او اورغورځونې او زلزلې هم په هغې کې منځ ته راځي، د اروپا دې برخې ته ځوانه اروپا ویل کېږي.



ځواني لوړې ژورې د الپ له تېرو څوکو سره



د اروپا زړې اوسولېدلی لوړې ژورې

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لوست مهمو موضوعګانو په هکله بحث او خبرې وکړي او د ډلې استازي دې هغه په ټولګي کې ټولګیوالوته وړاندې کړي.




## پوښتنې

۱- د الپ او د پیرنې د غرونو لړۍ د اروپا د لوېې وچې په کومه برخه کې پرتې دي؟

۲- د اوبو د برېښنا لويې دستګاوې او بندونه د اروپا د کومو غرونو په لړیو کې جوړې شوي دي؟

۳- اروپا ولې بیابانونه او دښتې نه لري.

## له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا سپینه (بې لیکنې) نقشه وګورئ، او په هغې کې د دووغرونو لړۍ، یو سمندر او د یوې آبناء نوم، چې د پوښتنې په نښې سره په ګوته شوي، ولیکئ .

شپاړسم لوست

# داروپا سياسي جغرافيه




د اوروپا د لويې وچې د هېوادونو سياسي نقشه

اروپا د پخوانۍ نړۍ له دريو لويو وچو څخه ده، چې د شمالي نيمې کرې د شمالي عرض البلد د ۳۵ او ۸۰ درجو او د ختيځ طول البلد د ٦۰ درجو او د لوېديځ طول البلد د ۲۵ درجو ترمنځ موقعيت لري. ختيځه ليرې نقطه يې د اورال غرونه اود اورال سيند ، لوېديځه ليرې نقطه يې د ايسلينډ لوېديځه برخه، شمالي ليرې نقطه يې د ناروې هېواد شمالي برخه او سوېلي ليرې نقطه يې د کريت ټاپو دی. اوږدوالی يې له شمال څخه تر جنوب پورې ٦٤۰۰ کيلومتره او سور يې له ختيځه تر لوېديځه پورې ٤٨۰۰ کيلومتره دی.

**پولې** (**سرحدونه**):

اروپا له دريو خواوو څخه د نړۍ د اوبو په واسطه را چاپيره شوې او د اسيا د لويې وچې په پرتله کوچنۍ ټاپو وزمه ده، چې د شمال لخوا په شمالي کنګل سمندر، د جنوب لخوا د مديترانې په سمندرګي، تورسمندرګي، د قفقاز غرونو، کسپين سمندرګي اود ختيځ لخوا د آسيا په لويې وچې پورې، چې د اورال سيند او اورال غر دا دواړه وچې سره بېلوي، نښتې ده.

د اروپا د لويې وچې د سياسي واحدونو شمېر ٤٧ هېوادونو ته رسېږي. له هغو څخه ۹ هېوادونه يې په وچه کې پراته دي او اوبوته لاره نه لري.

لکه د سویس، لوکزمبورک، سلوینیا، سربستان،مقدونیه، اتریش، هنګري، سلواک او چک هېوادونه.
همدارنګه په دې لویه وچه کې د خاورې د پراخوالي له پلوه ۹ کوچني هېوادونه، لکه: لوکزمبورک،مالټا، لختن شتین، اندورا، مونتینګرو، سلوینیا، سان مرینو، موناکو او واتیکان دي .

د اروپا سیاسي واحدونه کولای شو په لاندې ډول ووېشو:

- د شمالي اروپا هېوادونه، لکه: سویډن، ناروې، فینلنډ، ایسلینډ او ډنمارک.
- د سوېلي اروپا هېوادونه، لکه: ایټالیا، یونان، اسپانیه، پرتګال او نور.
- د ختیځې اروپا هېوادونه، لکه: روسیه، سپینه روسیه، اوکراین او نور.
- د لوېدیځې اروپا هېوادونه، لکه: المان، فرانسه، انګلستان، هالنډ، بلجیم او نور.
- د منځنۍ اروپا هېوادونه، لکه: اتریش، چک، پولینډ، او نور.




د اروپا دلویې وچې په دې برخه کې د هېوادونو ترمنځ ګمرکي پولې نشته او سیاسي اړیکې د یوه تړون له لارې، چې د اروپا اتحادیه یې بولې، سرته رسېږي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لوست په مهمو ټکو بحث وکړي او د بحث پایلې دې ټولګي والوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

د لوست د متن څخه په ګټې اخیستنې سره لاندې پوښتنې بشپړې کړئ.

۱- اروپا د نړۍ یوه. له.......... ..... پخوانیو......... څخه ده؟

۲- اروپا د شمالي عرض البلد د ............ او د................ درجو ترمنځ پرته ده؟

۳- د اروپا ختیځه لیرې نقطه.........، لویدیځه لیرې نقطه یې..........، شمالي لیرې نقطه یې.......... او سوېلي لیرې نقطه یې ................... ده.

## له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا سیاسي نقشه رسمه کړئ اوپه هغې کې د هېوادونو او د هغو د پلازمینو نومونه ولیکئ.

# د اروپا بشري جغرافيه




په اروپاکې د نفوسو د وېش نقشه

د اروپا په لويه وچه کې د طبيعي ښو شرايطو، يعنې پراخو ځړ ځايونو، د اوبو ډکو سيندونو، معتدل اقليم او پوره اورښت د شتوالي له امله د صنعت او پوهې پراختيا، د اقتصادي فعاليتونو او کارونو امکانات ښه برابر شوي دي، نو په همدې دليل د اروپا په ډېرو برخوکې زيات وګړی ميشت شوي دي خوبياهم د اميشته کېدل د اروپا د لويې وچې په ټولو برخوکې يو ډول نه دي.

د اروپا په شمالي سيمو لکه روسيه کې د هوا د سوړوالی له امله لږ وګړي ژوند کوي. په داسې حال کې چې د مديترانې په سمندرګي او همدارنګه منځنی او لوېديځه اروپاکې ډېر خلک ژوند کوي.

د اروپا ډېر خلک په کومو سيموکې ميشته شوي دي؟ او ولې؟

۱- د اروپا له وګړو ډکې برخې د مهمو سيندونو پرغاړو، د صنعتي مرکزونو په شاوخوا اوکرنيزو ښو ځمکوکې ليدل کېږي.

۲- سره له دې چې د اروپا لويه وچه د نړۍ له ډېرو نفوسو لرونکو لويو وچو څخه ده، خو د نفوسو وده يې لږه ده، ځکه چې ډېرې کورنۍ، په ځانګړی ډول په صنعتي هېوادونوکې د زياتو اولادونو د

درلودلو سره مینه نه لري، نو ځکه په اروپايي ځینو هېوادونو، لکه: المان او ایټالیا کې د نفوسو وده په ډېرې چټکۍ سره مخ په لږېدو ده.

### د خلکو ډلې

د اروپا د خلکو ډېره ستره ډله روسان دي، چې د اروپا د خلکو لویه ټولنه جوړوي. له روسانو څخه وروسته په اروپا کې د خلکو بله لویه او مهمه ډله جرمنیان دي، چې ډېر په منځنۍ اروپا (آلمان، اتریش او سویس) کې استوګنه لري او وروسته بیا په ترتیب سره لاتین، فرانسوي او انګلوساکسون ډلې دي چې هره یوه یې د اروپا د خلکو ډېره برخه جوړوي.

#### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د نفوسو د ویش او د خلکو د ډلو په هکله بحث او خبرې وکړي او پایله دې د ډلې استازی، ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

#### پوښتنې

د سم ځواب په مخ کې د (ص )توری او د ناسم ځواب په مخ کې د (غ ) توری ولیکئ.

۱- د اروپا د وګړو زیاته برخه د سیندونو په غاړو، صنعتي مرکزونو او کرنیزو برخو کې استوګنه کوي. (   )

۲- د اروپا په ټولو برخو کې د خلکو استوګنه، د طبیعي ښو شرایطو، له اوبو څخه د ډکو سیندونو، معتدل اقلیم د صنعت او علم د پراختیا له امله یو شانته ده. (   )

۳- د اروپا د لویې وچې د خلکو مهمه او لویه ډله روسان دي. (   )

#### له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا د لویې وچې له لیکنې پرته نقشه رسم کړئ او په هغې کې د وګړو ویش او ګڼوالی په ځانګړي رنګ سره وښیئ.

# د اروپا ژبې او نژادونه




## آيا پوهېږئ چې د اروپا خلک له کوم نژاد څخه دي؟

د اروپا د لويې وچې د وګړو ډېره برخه سپين پوستکي جوړوي. سپين نژاد په دې لاندې دريولويو ډلو وېشل کېږي:

### ۱- سوېلي قومونه

سوېلي قومونه له يوناني يا لاتيني څخه عبارت دی، چې د خيرې رنګ يې غنم رنګه دی. دا قومونه د ايټاليا په جنوب لويديځ کې د بالکان په ټاپو وزمې، هسپانيې، پرتګال او بلجيم هېوادونو کې استوګن دي.

### ۲- جرمني قومونه

دا قومونه ډېر په منځنی او شمال لويديځه اروپا کې استوګن دي او په انګلستان کې انګلوساکسون په بلجيم کې فلامند اوسېږي. هالنديان، المانيان، سويډنيان، ناروېژيان، ډنمارکيان او د سويسيانو يوه برخه هم له دې جملې څخه ګڼل کېږي.

### ۳- ختيځ قومونه يا سلاويان

دا قومونه ډېر سپين رنګ او طلايي ويښتان لري او ډېر په ختيځه اروپاکې استوګنه کوي چې د پولېنډيانو، چکيانو، سلواکيانو، سربيانو او کرواتيانو (پخوانی يوګوسلاويا) څخه عبارت دی، چې ډېر

يې د ختيځې اروپا اوسېدونكي دي. دا خلك د هنګري خاورې له شمال څخه جنوب ته تېرشوي او منځنۍ اروپا ته يې لاره موندلې ده. پر پورتنيو درې ګونو قومونو سربېره چې ورځنۍ يادونه وشوه، كوچني پخواني قومونه هم شته، چې له هغو څخه ايبريان د اروپا په غرنيو سيمو، سلتيان په ايرلينډ، سكاټلنډ او په بريتانيا كې او د يهوديانو ډلې په روسيې او پولينډ كې دي.

### ژبې

د اروپا د خلكو د ژبو اصلي څانګه كومه ژبه تشكيلوي؟

په اروپا كې په بېلابېلو ژبو خبرې كېږي او د دغو ژبو ډولونه دومره ډېر دي، چې د يو څانګړي نژاد يا ډلې د خلكو هره برخه هم په يوه ځانګړې ژبه خبرې كوي . د اروپا د خلكو ژبې د ژبنۍ ريښې له پلوه په عمومي توګه په درېيو برخو وېشل كېږي: ځينې لكه: الماني او انګليسي جرمني ريښه او ځينې نورې لكه روسي او پولنډي سلاوي ريښه لري.

د اروپايي ټولنې زيات وګړي، چې په يوه ځانګړې ژبه خبرې كوي هغه روسان دي. البته ځينې مذهبي لږه كۍ (اقليتونه) لكه مسلمانان او يهوديان او ځينې نژادي لږه كۍ هم د هغو هېوادونو، چې په كې اوسېږي په مروجو او دوديزو ژبو خبرې كوي.

### په ټولګي كې فعاليت

زده كوونكي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې په لاندې مطلبونو بحث او خبرې وكړي.

الف- نژاد په اروپا كې ب- ژبې په اروپا كې

### پوښتنې

سم ځواب غوره كړئ.

۱- اروپايان له كوم نژاد څخه دي؟

الف، تورپوستكي ب، ژېړ پوستكي ج، سپين پوستكي د، سره پوستكي

۲- د سوېلي اروپا د خلكو نژادي ځانګړتياوې كومې دي؟

الف، سپين رنګې ب، طلايي وېښتان ج، غنم رنګه د، ګرګوتي وېښتان

لنډ ځواب وركړئ:

۱- سلاويان ډېر په كومو اروپايي هېوادونو كې استوګنه كوي.

۲- د اروپايي خلكو د ژبو د مهمو څانګو نومونه واخلئ.

### له ټولګي بهر فعاليت

لاندې جدول د وركړشوي متن څخه په ګټې اخيستنې او اړوندو استوګنو قومونو ته په پاملرنې په خپلو كتابچو كې د هېوادونو په نومونو بشپړ كړئ.

| سوېلي قومونه | جرمني قومونه | ختيځ قومونه |
|---|---|---|
| | | |
| | | |

# په اروپا کې دین او مذهب




په اروپا کې د بېلا بېلو دینونو نقشه

د اروپا زیاتره خلك (د اروپایي ترکیې، د روسیې د یو شمیرو وګړو او دبالکان د ټاپوزمې د هېوادونو په ځانګړې ډول له پخوانۍ یوګوسلاوی څخه پرته د عیسوي دین پیروان دي. چې حضرت عیسی (ع) خپل پیغمبر ګڼي، د دوی په ګمان عیسوي دین په دریو لویو مذهبونو وېشل شوې دی، چې هغه دادي:

## ۱- کاتولیک (Catholic)

د عیسویت ددین د لارویانو ډېره برخه کاتولیکان جوړوي. د دې مذهب لارښوود او مشر يې لوی پاپ دی. دا مذهب په لومړۍ درجه ډېر د اروپا په لوېدیځ او جنوب یعنی د بلجیم، فرانسې، اسپانیې، پرتګال او په ځانګړې ډول د ایټالیې د لاتینو قومونو او همدارنګه په دویمه درجه د اتریش، لهستان(پولینډ) مجارستان، چک او سلواک د خلکو په منځ کې رواج لري. د نړۍ د کاتولیکانو د لارښوود استوګنځی د ایټالیا د هېواد په پلازمینه د دروم په ښار کې دی، چې واتیکان نومېږي.

## ۲- پروتیستانت (Protestant):

د پروتیستانت مذهب د کاتولیک له مذهب څخه وروسته ډېر اهمیت لري. پروتیستانت د حضرت عیسی(ع) څخه د زدکړو د پیروۍ له پلوه د دوی په نظر د کاتولیکانو سره اختلاف لري. هغوی د مارتین لوتر

په نامه د يوه الماني پخواني روحاني مشر د لارښوونو پيروي کوي. په اروپاکې د جرمني قومونو د پروتستانت د مذهب ګڼ شمير لارويان جوړوي. دا مذهب په سويډن، ناروې، ډنمارک، انګلستان، هالنډ، آلمان او اتريش په هېوادونو او د سويس د هېواد په يوه برخه کې ډېر رواج لري.



د بالکان په ټاپو وزمه کې يو جومات

### ۳- د ارتودوکس مذهب (Orthodox):

د اروپا د لويې وچې دريم مهم مذهب دی چې ډېر په ختيځې او جنوب ختيځې اروپاکې رواج لري. د روسيې، رومانيې، يونان او بلغاريې د هېوادونو او په عمومي توګه د سلاو د نژاد ډېری وګړي د هغه لارويان دي.(د يادونې وړ ده چې د الله تعالی په نزد يوازينی دين د اسلام سپڅلی دين دی او بس).

پرعيسوي دين سربيره مسلمانان هم په ټوله اروپاکې تيت او خپاره شوي دي چې ډېر شمير يې د بالکان په ټاپو وزمې البانيا، بوسنيا او هرزګووينيا، بلغاريې او اروپايي ترکيې کې استوګنه لري. په دی هېوادونو کې لرغوني او له برم څخه ډک جوماتونه شته دي. همدارنګه د اروپا په بېلابېلو هېوادونو، په ځانګړې ډول روسيې او پولينډ کې يو شمير يهوديان هم ژوند کوي.



په واتيکان کې د سن پتر شاهي ماڼۍ يا کليسا

### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په ډلو وويشل شي او هره ډله دې د اروپا د دينونو په نقشه کې د بېلابېلو دينونو او مذهبونو ساحې معلومې او په نښه کړي.




### پوښتنې

۱- د عيسوي دين څانګې وليکئ.

۲- د کاتوليک مذهب ډېر د اروپا په کومو برخو کې رواج لري؟

۳- پروتيستانت د کوم سرې لارويان دي او هغه د کوم ځای و؟

٤- د اروپا د کومې برخې خلک د ارتودوکس پر مذهب عقيده لري؟

۵- مسلمانان ډېر د اروپا په کومو برخو کې استوګنه لري؟

### له ټولګي بهر فعاليت

زده کوونکي دې د اروپا له ليکنې پرته نقشه کاپي او يا انځور کړي، د مذهبونو مروجه ځايونه دې په نښه کړي او د جغرافيې په راتلونکي لوست کې دې يې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

# د اروپا اقتصادي جغرافيه




د اروپا اقتصادي نقشه

## ولې د اروپا اقتصاد پرمختللی دی؟

اروپا له صنعتي لويو سيمو څخه ده او ډېر پرمختللی اقتصاد لري. دا لويه وچه تر ځمكې لاندې زېرمې، لكه د ډبرو سكاره او نفت (د شمال په سمندرګي) كې لري. خو دا زېرمې نشي كولای د دې لويې وچې د لويو صنايعو اړتياوې پوره كړي، نو ځكه د خپلوصنايعو دكار د دوام لپاره د نړۍ د نورو هېوادونو كاني لومړنيو موادوته اړتيا لري او ددې توكو واردوونكې ده. نن ورځ اروپا له نوې پوهنې او تخنيك څخه په ګټې اخستنې سره توانېدلې ده چې لويه صنعتي سيمه واوسي. د آلمان، انګلستان او فرانسې صنعتي توكي ټولې نړۍ ته صادرېږي.

### كرنه او مالداري

د اروپا لويې وچې د معتدله اقليم او پوره اورښت د لرلو له امله د كرنې او مالدارۍ د ودې لپاره ښې لارې چارې برابرې كړي دي. كرنه څه ناڅه په ټوله اروپا كې رواج لري او د عصري ماشين الاتو او علمي لاروچارو په كارولو ترسره كېږي. سره له دې هم ددغې لويې وچې هېوادونه خپل د اړتيا وړ د خوراكي توكو $\frac{1}{5}$ برخه برابروی، خو هالنډ د خپلو كورنيو اړتياوو له پوره كولوسره يوه اندازه خواړه بهرته هم استوي . په دغه هېواد كې كرنه او مالداري په علمي توګه ترسره كېږي. د لبنياتو او د

غوښو د محصولاتو تولید په کې هم زیات دی او ددغو محصولاتو زیاته برخه بهر ته لېږي.
په اروپا کې غوره کرنیزې برخې دادي:
۱- د مدیترانې د سمندرګې شاوخوا سیمې ۲- د لوېدیځې اروپا برخې ۳- د ختیځې اروپا برخې
د اروپا په جنوب کې مدیترانه يي اقلیم د دې سبب شوی چې په دغه سیمه کې غلو او دانو، لکه غنمو، جوارو، اوربشو، وریجو او صنعتي نباتاتو، همدارنګه مېوو، لکه بادامو، لیموو، زیتونو او انارو کرلو ته زمینه برابره شي اوپه څر ځایونو کې يې د حیواناتو لکه وزو او پسونو روزنه ترسره کېږي.
لوېدیځه اروپا طبیعي حاصل خېزه ځمکې لري، چې د کرنې ترڅنګ په کې د حیواناتو روزنې هم ښه پرمختیا کړېده. غوره کرنیزه محصولات يې، غنم، اوربشې، جوار، چغندر او کچالو دي. د بلجیم، هالنډ، جرمني او ډنمارك هېوادونو حیواني فارمونه زیاته اندازه لبنیات، لکه شیدې، کوچ او پنیر تولیدوي او له غوره صادراتي توکو څخه يې ګڼل کېږي. ختیځه اروپا هم طبیعي حاصل خېزې ځمکې لري، او ډېر غوره محصولات يې غنم، اوربشې، جوار او کتان دي. د دغو ځمکو زیاته برخه په روسیه کې پرته ده او د غرونو لمنو د حیواناتو د روزنې لپاره ښې لارې چارې برابرې کړې دي.
اوبه هم د اروپایانو لپاره د خوراکي توکو د تولید یوه سرچینه ګڼل کېږي او د کبانو د ښکار صنعت پکې ښه پرمختګ کړی دی. د کبانو نیول د اروپایانو مهمه بوختیا ده. ناروې او آیسلېنډ هغه هېوادونه دي چې د هغو اقتصاد د کبانو پر صنعت ولاړ دی او په دې برخه کې په نړۍ کې لومړی مقام لري.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېیو ډلو وویشل شي. د لاندې موضوعاتو په هکله دې بحث وکړي او پایلې دې ټولګیوالوته وړاندې کړي:
الف -د مدیترانې د شاوخوا کرنیزې سیمې
ب -د لویدیځې اروپا کرنیزې سیمې
ج -د اروپا ختیځې کرنیزې سیمې

## پوښتنې

۱- د درېیو اروپایي هېوادونو نومونه واخلئ چې د صنعتي توکو صادرونکي دي.
۲- د اروپا کرنه ولې پرمختللې ده؟
۳- د اروپا د کرنیزو برخو نومونه واخلئ؟
٤- کوم اروپایي هېوادونه په نړۍ کې د کب نیولو په صنعت کې لومړی مقام لري؟
٥- اروپایان د خپلو صنایعو د دوام لپاره کومو منابعو ته اړتیا لري.

## له ټولګي بهر فعالیت

زده کوونکي دې د یوه اروپایي صنعتي هېواد په هکله، چې پرمختللی اقتصاد لري، یو مطلب برابر او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې دې ټولګیوالوته وړاندې کړي.

# د اروپا کانونه او صنایع



په شمال سمندرگي کې د نفتو راايستنې عمليه

## ولې اروپا د صنعتي اومو توکو وارداوونکې ده؟

### الف- کانونه

د اروپا تر ځمکې لاندې زېرمې دومره شتمنې نه وې او دا حالت د اروپايي هېوادونو له خوا د درېيمې نړۍ د هېوادونو د استعمار او ښکېلاک يو عامل و. اروپايي هېوادونو پخوا د خپلو اړتياوو د لرې کولو لپاره د نورو لويو وچو مستعمره کولو ته مخه کوله او همدارنګه د اروپا د لويې وچې پرمختيا د نورو هېوادونو، له هغې ډلې د آسيايي او افريقايي هېوادونو د زېرمو د لوټولو څخه پرته ناشونې وه.

نفت د اروپا په ځينو برخو کې شته دي، خو د شمال سمندرگي د نفتي زېرمو له کشف وړاندې يې اندازه ډېره لږه وه، چې د صنايعو په پراختيا اوپه ځانګړې ډول د نقليه وسيلو څخه په ډېرې ګټې اخيستنې سره نشي کولای د دغو هېوادونو اړتياوې پوره کړي. د لوېديځې اروپا د هېوادونو ډېره پاملرنه د شمال سمندرګي د نفت اوګاز زېرمو ته ده. چې اوس د انګلستان او د سيمې د ځينو نورو هېوادونو اړتياوې تر يوه حده پوره کوي. اروپا د اوسپنې او ډېرو سکرو د کانونو له پلوه شتمنه ده او د انګلستان، روسيې، فرانسې، بلجيم، آلمان او پولنډ هېوادونه د نومړو کانونو غوره توليدونکي دي.اوسپنه د سويډن له شمالي برخې څخه د بېړيو په وسيله د اروپا صنعتي سيموته وړل کېږي.

### ب- صنايع

۱- **لاسي صنايع**: له صنعتي انقلاب وړاندې د اروپا صنايع، لاسي اوکارګاهي وې چې کولای

شو په ایټالیې کې د ښیښې جوړولو، په اسپانیې کې د چاقوګانو او تورو جوړولو، په سویس کې د ساعت جوړولو، په هالنډ کې د چیني لوښو جوړولو او په ایرلنډ کې د کتاني ټوکرانو د اوبدلو یادونه وکړو.

### ۲-ماشیني صنایع

اروپا د ډېرو سکرو د زېرمو او د ښه حمل او نقل په درلودلو سره په نړۍ کې لویه صنعتي سیمه ده. د اروپا درنې صنایع او لوېې صنعتي کارخانې د کانونو ترڅنګ جوړې شوي دي. همدارنګه د اروپا صنعتي لوی ښارونه او بندرونه هم د سمندرونو او سیندونو په غاړو منځته راغلي دی، ځکه د بندرونو له لارې د اومو موادو او تولیدي توکو وړل او راوړل ډېر ارزانه سرته رسېږي. د اروپا له مهمو بندرونو څخه یو هم د امستردام د بېړیو چلولو د کانال په غاړه د شمال سمندرګي په ساحل کې د روټردام په نوم بندر دی. او د اوروپا بل صنعتي لوی بندر په ایټالیا کې د جینوا بندر دی.

د اروپا مهمې صنایع د فلزاتو ویلي کول، الکترونیکي سامان آلات، د ماشیني وسایلو تولید، بېړۍ جوړول، موټر جوړول او داسې نورې دي.

### ج- توریزم

د اروپا په اقتصاد کې د توریزم صنعت هم د ارزښت وړدی. په اروپا کې توریزم د ډېرو تاریخي او کلتوري مرکزونو، لکه موزیمونو، کلیساوو، پوهنتونونو او د اروپایي هېوادونو د طبیعي ښوسیمو د شته والي له امله له یو هیواد څخه بل هېواد ته د سفرونو اسانتیاوو، په اروپا کې سیاحت او ګرځندوی ته وده ورکړېده.

د اروپا سوېلي غاړې د مدیترانې د سمندرګي ترڅنګ چې د لمریزې اروپا په نوم شهرت لري، د اروپا د نورو سیموو وګړي ځان ته رابولي. د الپ غرونه د غروختونکو او د ژمنیو لوبو لپاره له لیرې او نږدې هېوادونو څخه ډېر مینه وال لري. د اوبو سپورتونه، په ځینو اروپایي هیوادونوکې جشنونه او مراسم، قصرونه، تاریخي او د معمارۍ هنري اثار د اروپا د توریزم نورې ساحې ګڼل کېږي.

#### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریبو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې په لاندې مطلبونو بحث او خبرې اترې وکړي، او د بحث پایله دې ټولګیوالوته ووایي.

الف: د اروپا کانونه ب : د اروپا صنایع ج : د اروپا توریزم

#### پوښتنې

۱- د اروپا د سپکو یا لاسي صنایعو تولیدات کوم دي، نومونه یې ووایئ؟

۲- د اروپا صنعتي مرکزونه زیاتره چیرې جوړ شوي دي، او ولې ؟

۳- د اروپا درنې صنایع کومې دي؟ لست یې ولیکئ.

#### له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا بې لیکنې نقشه رسم یا کاپي کړئ او د اروپا د مهمو صنعتي هېوادونو نومونه په ټاکلو ځایونو کې ولیکئ، او د جغرافیې په راتلونکي لوست کې یې ټولګیوالوته وړاندې کړئ.

# د اروپا ترانسپورټ



د اروپا د چټکو کرښو شبکه

**پخوا خلکو د مسافرینو او مالونو د وړلو او راوړلو لپاره د ټرانسپورټ له کوم ډول شخه ګټه اخیستله؟**

**ټرانسپورټ** Transports

له یوځای څخه بل ځای ته د سوداګرۍ د مالونو او انسانانو له وړلو او راوړلو څخه عبارت دی، چې دا عمل د ریل، موټر، بېړۍ، الوتکې او پایپ لین په وسیله ترسره کېږي.

وړل او راوړل (حمل او نقل) په بېلابېلو لارو چارو سرته رسېږي چې په لنډ ډول یې مطالعه کوو.

### الف- سړک یا لویه لار



په اروپا کې د ښو سړکونو او لویولارو جوړول په لومړۍ پړاو کې د نظامي او سوداګریزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره منځته راغلل. د روم امپراتوري خپلو لښکرو ته د چټک حرکت او لېږدونې لپاره د سړکونو لومړني جوړوونکې وه.

ناپلیون او هېټلر هم د همدغې موخې لپاره سړکونه جوړ کړل. په ورستیو کلونو کې د زیاتو موټرونو تولید هم د سړکونو د جوړولو سبب شو. اوس کولای شو د هالنډ په شمال کې له امستردام څخه د ایټالیې تر جنوب پورې د لویو نښلوونکو سړکونو له لارې لاړشو. له غرنیو سیمو څخه د تېرېدو لپاره تونلونه جوړ شوي، چې ډېر مهم تونل یې د مونټ بلان (Month Blaine Tunnels) په نوم دی، چې ۱۲ کیلومتره اوږد والی لري او فرانسه او ایټالیه سره نښلوي. له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د ګرځندیو موټرو شمیر مخ په زیاتیدو دی لکه، د بیلګې په توګه په سویډن کې د هرو څلورو تنو لپاره یو موټر شته دی، خو د ختیځې اروپا په هېوادونوکې د ګرځندیو موټرو شمیر ډېر لږ دی. د ډنمارک او هالنډ په هېوادونو کې د بایسکلونو لپاره هم ځانګړې لارې جوړې شوې دي.

### ب- د اوسپنې لارې

د اوسپنو د لارو (د ریل کرښې) جوړونه له اروپا څخه پیل شوې ده. په ۱۸۰۴ م کال کې لومړنی د براس لوکوموتیف د انګلستان په ویلز کې د مالونو او مسافرو د وړلو لپاره پکار واچول شو.

لومړنۍ د اوسپنو لاره په ۱۸۲۵ م کال کې د ستوکتن (Stockton) او درلینګتون (Darlington) د ښارونو ترمنځ د عمومي وړلو او راوړلو لپاره جوړه شوه او بیا ورو ورو د اوسپنې کرښې په اروپا کې پراختیا ومونده. اوس دا لویه وچه د نړۍ له ګڼه ګوڼې څخه ډکې لارې لري. د اروپا د چټکو ریلونو کرښې د ډېرو چټکو او هوسا ریلونو څخه ګټه اخلي. دا کرښې د اروپا لوی ښارونه سره نښلوي. نن ورځ د اوسپنو لارو د اروپا د مسافرینو او مالونو په وړلو او راوړلو کې مهم رول لوبوي.

#### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې تنظیم شي او هره ډله دې د لویې لارې یا سړک او د ریل کرښو په هکله له یوبل سره سلامشوره وکړي او پایلې دې د ډلې د استازي په وسیله خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

#### پوښتنې

۱- ټرانسپورټ تعریف کړئ؟
۲- ولې رومیانو د سړکونو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه درلوده؟
۳- لومړی ځل ریل چېرې او د کومې موخې لپاره په کار واچول شو؟
٤- د اوسپنو لومړنۍ کرښې د اروپا کوم ښارونه سره نښلولي وو؟
۵- د اوسپنو له کرښو څخه ډېر د کومو موخو لپاره ګټه اخیستل کېږي؟

#### له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا د لویې وچې په اقتصادي پرمختګ کې داوسپنو د کرښو د رول په هکله مطلب ولیکئ او خپلو ټولګیوالوته یې وړاندې کړئ.

# هوايي کرښې:



د اروپا هوايي ډګر

**آیا پوهېږئ چې د انرژۍ د مصرف له پلوه په نړۍ کې د ډېر لګښت لرونکي ټرانسپورټي وسیله کومه ده؟**

په ۱۸ ز. پېړۍ کې په فرانسه کې هواته د لومړني بالون په الوتلو سره د هوايي چلن تاریخ پیل شو په ۱۹۱۹ ز. کال کې د سوداګرۍ لومړنۍ هوايي کرښه په هالنډ کې منځته راغله. هوایي کرښې د اروپا لوی ښارونه او بهرني هېوادونه سره نښلوي او د مسافرو او د هغوی د سوداګرۍ مالونو د وړلو راوړلو لپاره چې درانه نه وي او ارزښت یې زیات وي، ګټه اخیستل کېږي.

## د اوبو لارې:

ایا پوهېږئ چې په نړۍ کې ډېره ارزانه ټرانسپورټي لار کومه ده؟

له لرغونو زمانو څخه د اوبو لارې د مالونو او مسافرانو په وړلو او راوړلو کې ارزښت لري. د اروپا د دانیوب او راین سیندونو د تاریخ په اوږدو کې په وړلو او راوړلو کې غوره رول لوبولی دی. د راین له سیند څخه رومیانو ګټه اخیستله او د سیند خوله (مصب) به یې کنټرولوله. د راین او دانیوب له سیندونو څخه په نړیواله توګه ګټه اخیستل کېږي. د دانیوب سیند ډېر اوږد او ډېر هېوادونه سره نښلوي. د اروپا یي هېوادونو د کرنیزو سیمو څخه تېرېږي او په توره بحیره کې توېږي. د راین سیند د اروپا په صنعتي سیمو کې ډېر ارزښت لري. د هالنډ د روتردام لوی بندر د نړۍ له بل هر سیندي او سمندري بندر څخه زیات مالونه لېږدوي .

د اروپا ډېر سیندونه، لکه د آلمان الب او اودر او د فرانسې د سن او لوار د سیندونو په څیر د کانالونو په وسیله سره نښلول شوي دي. دا سیندونه په اروپا کې د اوسپنې لارې له پراختیا د مخه نښلول شویدی. په انګلستان کې هم کانالونه شته چې اوس خپل پخوانی ارزښت نلري. اوس کولای شو د همدغو کانالونو اوسیندونو په وسیله د شمال سمندرګي څخه د مدیترانې د سمندرګي په غاړه د مارسې بندر ته سفر وکړو. د اروپا سواحل چې ځینې د بېړیو چلولو لپاره برابر دي، د لویو سوداګریزو بندرونو د منځته راتګ سبب شوي او ډېره ارزانه ټرانسپورټي لاره ګڼل کېږي. د اروپا څه ناڅه ټول ښارونه له مادرید څخه پرته نور ټول د سیندونو، سمندرګیو او د اتلانتیک د سمندر په غاړو جوړ شوي دي. همدارنګه د پایپ لین له حمل او نقل څخه د نفتو، ګازو او اوبو د وړلو لپاره په پراخه اندازه ګټه اخیستل کېږي.



د آلمان د برمن په بندر کې د مالونو وړلو او راوړلو فعالیت

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې وویشل شي او هره ډله دې دلاندې پوښتنو په هکله بحث وکړي او دهغو پایلې دې د ډلې استازی، ټولګي والوته وړاندې کړي.

الف -له هوايي ټرانسپورټ څخه زیاتره د کومو موخو لپاره ګټه اخیستل کېږي او ولې؟

ب - د اوبو ټرانسپورټ په کوم دلیل د نړۍ ډېره ارزانه ترانسپورتي لاره ده؟

ج - د پایپ لین څخه زیاتره د کومو اهدافو لپاره ګټه اخیستل کېږي؟

### پوښتنې

۱- د نړۍ د سوداګرۍ لومړنۍ هوايي کرښې په کوم هېواد کې په فعالیت پیل کړی و؟

۲- له هوايي کرښو څخه ډېر د کومو شیانو د وړلو لپاره ګټه اخیستل کېږي؟

۳- ډېر لرغونی ټرانسپورټ کوم یو دی؟

٤- د اروپا د بېړۍ چلولو ډېر اوږد سیند کوم یو دی؟

۵- د اروپا د سوداګرۍ ډېر لوی سیند او سمندري بندر کوم دی؟

### له ټولګي بهر فعالیت

د اروپا د اوبو د لارو د پراخوالي د لاملونو تر سرلیک لاندې یو مطلب ولیکئ او ټولګیوالوته یې وړاندې کړئ.

## جدول: د اورپايي هېوادونو جغرافيايي ځانګړتياوې (د مطالعې لپاره)

| ګڼه | هېوادونه | عمومیات | | | | په ۲۰۰۱ م . کال کې په مختلفو برخوکې د نفوسو د بوختيا سلنې | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلازمېنه | پرخوالی په کيلو متر مربع سره | په ۲۰۰٦ م کال کې د نفوسو شمېر | په یو کيلو متر مربع کې د نفوسو شمېر | کرنه | صنعت | خدمتونه |
| ۱ | البانيا | تيرانا | ۲۸,۷۴۸ | ۳,۵۸۱,۶۵۵ | ۱۲۵ | ۵۴,۷ | ۲۳,۱ | ۲۲,۲ |
| ۲ | بلجيم | بروکسل | ۳۳,۰۰۰ | ۱۰,۳۷۹,۰۶۷ | ۳۱۵ | ۲,۶ | ۲۷,۲ | ۷۰,۳ |
| ۳ | بوسنيا او هرزګووينا | سارايوو | ۵۱,۱۲۹ | ۴,۴۹۸,۹۷۶ | ۸۸ | ۱۱,۷ | ۴۷,۵ | ۴۰,۸ |
| ۴ | بلغاريا | صوفيا | ۱۱۰,۹۱۲ | ۷,۳۸۵,۳۶۷ | ۶۷ | ۲۵,۷ | ۳۰,۸ | ۴۳,۵ |
| ۵ | ډنمارك | کوپن هاګن | ۴۳,۰۹۴ | ۵,۴۵۰,۶۶۱ | ۱۲۶ | ۳,۶ | ۲۶,۸ | ۶۹,۶ |
| ۶ | المان | برلين | ۳۵۷,۰۲۲ | ۸۲,۴۲۲,۲۹۹ | ۲۳۱ | ۲,۶ | ۳۴,۶ | ۶۲,۹ |
| ۷ | استوني | تالين | ۴۵,۱۰۰ | ۱,۳۲۴,۳۳۳ | ۲۹ | ۹,۰ | ۳۱,۷ | ۵۹,۳ |
| ۸ | فنلنډ | هلسنکی | ۳۳۸,۱۴۵ | ۵,۲۳۱,۳۷۲ | ۱۵ | ۶,۱ | ۲۷,۵ | ۶۶,۴ |
| ۹ | فرانسه | پاريس | ۵۵۰,۱۰۰ | ۶۰,۸۷۶,۱۳۶ | ۱۱۱ | ۱,۵ | ۲۵,۱ | ۷۳,۴ |
| ۱۰ | يونان | اتن | ۱۳۱,۹۹۰ | ۱۰,۶۸۸,۰۵۸ | ۸۱ | ۱۷,۵ | ۲۲,۵ | ۵۹,۹ |
| ۱۱ | هنګري | بوداپست | ۹۳,۰۳۲ | ۹,۹۸۱,۳۳۴ | ۱۰۷ | ۶,۸ | ۳۴,۴ | ۵۸,۸ |
| ۱۲ | ايرلنډ | دوبلين | ۷۰,۲۸۴ | ۴,۰۶۲,۲۳۵ | ۵۸ | ۸,۵ | ۳۰,۰ | ۶۱,۵ |
| ۱۳ | ايسلنډ | ريکجاويک | ۱۰۳,۰۰۰ | ۲۹۹,۳۸۸ | ۳ | ۸,۶ | ۲۵,۲ | ۶۶,۲ |
| ۱۴ | ايټاليا | روم | ۳۰۱,۲۶۸ | ۵۸,۱۳۳,۵۰۹ | ۱۹۳ | ۵,۶ | ۳۲,۱ | ۶۲,۳ |
| ۱۵ | کرواتي | زاګرب | ۵۶,۵۳۸ | ۴,۴۹۴,۷۴۹ | ۷۹ | ۱۶,۴ | ۳۰,۹ | ۵۲,۶ |
| ۱۶ | لاتويا | ريګا | ۶۴,۶۰۰ | ۲,۲۷۴,۷۳۵ | ۳۵ | ۱۵,۵ | ۲۶,۴ | ۵۸,۱ |
| ۱۷ | ليتواني | ويلنيوس | ۶۵,۲۰۰ | ۳,۵۸۵,۹۰۶ | ۵۵ | ۲۰,۲ | ۳۶,۴ | ۴۳,۵ |
| ۱۸ | لوکزامبورګ | لوکزامبورګ | ۲,۵۸۶ | ۴۷۴,۴۱۳ | ۱۸۳ | ۳,۰ | ۲۸,۰ | ۶۹ |
| ۱۹ | مقدونيه | سکوپيه | ۲۵,۷۱۳ | ۲,۰۵۰,۵۵۴ | ۸۰ | ۲۱,۸ | ۴۰,۴ | ۳۷,۸ |
| ۲۰ | مالټا | واليتا | ۳۱۶ | ۴۰۰,۲۱۴ | ۱,۲۶۷ | ۲,۰ | ۲۶,۰ | ۷۲,۰ |
| ۲۱ | مولداوي | کيشی نف | ۳۳,۷۰۰ | ۴,۴۶۶,۷۰۶ | ۱۳۳ | ۴۵,۷ | ۱۴,۶ | ۳۹,۷ |
| ۲۲ | مونتينګرو | پدګوريکا | ۱۳,۸۱۲ | ۶۳۰,۵۴۸ | ۴۶ | ۲,۰ | ۳۰,۰ | ۶۸,۰ |
| ۲۳ | هالنډ | امستردام | ۴۱,۵۲۶ | ۱۶,۴۹۱,۴۶۱ | ۳۹۷ | ۳,۲ | ۲۲,۰ | ۷۴,۸ |
| ۲۴ | ناروي | اوسلو | ۳۲۳,۸۷۷ | ۴,۶۱۰,۸۲۰ | ۱۴ | ۴,۱ | ۲۱,۸ | ۷۴,۰ |

| گڼه | هېوادونه | عمومیات | | | | په ۲۰۰۱ م. کال کې په مختلفو برخو کې د نفوسو د بوختیا سلنې | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلازمېنه | پرخوالي په کیلو متر مربع سره | په ۲۰۰٦م کال کې د نفوسو شمېر | په یو کیلو متر مربع کې د نفوسو تراکم | کرنه | صنعت | خدمتونه |
| ۲۵ | اوکراین | کیف | ۶۰۳,۷۰۰ | ۴۶,۷۱۰,۸۱۶ | ۷۷ | ۲۶,۱ | ۲۷,۴ | ۴۶,۵ |
| ۲۶ | اتریش | ویانا | ۸۳,۸۵۹ | ۸,۱۹۲,۸۱۸ | ۹۸ | ۶,۴ | ۳۱,۳ | ۶۲,۳ |
| ۲۷ | پولنډ | وارسا | ۳۲۳,۲۵۰ | ۳۸,۵۳۶,۸۶۹ | ۱۱۹ | ۱۹,۰ | ۳۱,۷ | ۴۹,۳ |
| ۲۸ | پرتگال | لزبون | ۹۱,۹۸۲ | ۱۰,۶۰۵,۸۱۷ | ۱۱۵ | ۱۲,۳ | ۳۵,۲ | ۵۲,۵ |
| ۲۹ | رومانیه | بوخارست | ۲۳۸,۳۹۱ | ۲۲,۳۰۳,۵۵۲ | ۹۴ | ۴۱,۷ | ۲۸,۱ | ۳۰,۲ |
| ۳۰ | روسیه | مسکو | ۱۷,۰۷۵,۴۰۰ | ۱۴۲,۸۹۳,۵۴۰ | ۸ | ۱۱,۶ | ۲۹,۶ | ۵۸,۸ |
| ۳۱ | صربیا | بلګراد | ۸۸,۳۶۱ | ۹,۳۹۴,۴۱۱ | ۱۰۶ | ۲۹,۷ | ۳۲,۹ | ۳۷,۴ |
| ۳۲ | سلووینیا | لیوبلیانا | ۲۰,۲۵۶ | ۲,۰۱۰,۳۴۷ | ۹۹ | ۱۱,۰ | ۳۷,۶ | ۵۱,۴ |
| ۳۳ | سلواک | براتیسلاوا | ۴۹,۰۱۲ | ۵,۴۳۹,۴۴۸ | ۱۱۱ | ۷,۶ | ۳۸,۰ | ۵۴,۴ |
| ۳۴ | اسپانیا | مادرید | ۵۰۵,۹۹۲ | ۴۰,۳۹۷,۸۴۲ | ۸۰ | ۶,۹ | ۳۰,۹ | ۶۲,۲ |
| ۳۵ | چک | پراګ | ۷۸,۸۶۴ | ۱۰,۲۳۵,۴۵۵ | ۱۳۰ | ۵,۱ | ۳۹,۱ | ۵۵,۹ |
| ۳۶ | بریتانیا | لندن | ۲۴۴,۱۰۱ | ۶۰,۶۰۹,۱۵۳ | ۲۴۸ | ۱,۶ | ۲۵,۴ | ۷۳,۱ |
| ۳۷ | سپینه روسیه | مینسک | ۲۰۷,۶۰۰ | ۱۰,۲۹۳,۰۱۱ | ۵۰ | ۱۹,۷ | ۴۰,۶ | ۳۹,۷ |
| ۳۸ | سویډن | ستکهلم | ۴۴۹,۹۶۴ | ۹,۰۱۶,۵۹۶ | ۲۰ | ۲,۶ | ۲۵,۵ | ۷۱,۹ |
| ۳۹ | سویس | برن | ۴۱,۲۸۴ | ۷,۵۲۳,۹۳۴ | ۱۸۲ | ۴,۶ | ۲۶,۷ | ۶۸,۷ |
| ۴۰ | سان مرینو | سان مرینو | ۶۱ | ۳۰۲۰۰ | ۴۶۷,۲ | | | |
| ۴۱ | اندورا | اندورا لاولا | ۴۵۳ | ۶۹۸۶۵ | ۱۵۴ | | | |
| ۴۲ | موناکو | موناکو | ۱,۹۵ | ۳۲۸۰۰ | ۱۶۱,۳ | | | |
| ۴۳ | لختن شبتن | وادوز | ۱۶۰ | ۳۵۱۰۰ | ۲۱۲,۹ | | | |
| ۴۴ | واتیکان | واتیکان سیتی | ۰,۴۴ | ۹۲۰ | ۲۰۴ | | | |
| ۴۵ | آذربایجان | باکو | ۸۶۶۰۰ | ۸۴۷۴۰۰ | ۹۴,۵ | | | |
| ۴۶ | ارمنستان | ایروان | ۲۹۸۰۰ | ۲۹۷۶۰۰۰ | ۱۱۱,۹ | | | |
| ۴۷ | ګرجستان | تفلیس | ۶۹۷۰۰ | ۴۴۷۴۰۰۰ | ۷۱,۶ | | | |

# دویم څپرکی

## د امریکا لویه وچه

**په دې ځپرکي کې لاندې موضوعات لولو:**

الف ـ موقعیت

ب ـ د امریکا کشف

ـ طبیعي جغرافیه

ـ سیاسي جغرافیه

ـ بشري جغرافیه

ـ اقتصادي جغرافیه

ـ مواصلاتي جغرافیه

# د دویم څپرکي موخې

**ګرانو زده کوونکو! د دې څپرکي له لاندنیو علمي موخو (هدفونو) سره آشنا شئ:**

ـ د امریکا د لویې وچې له جغرافیایي موقعیت سره .

ـ د امریکا دلویې وچې د کشف له څرنګوالي سره.

ـ د امریکا د لویې وچې له سیاسي جغرافیې سره.

ـ د امریکا د لویې وچې له اقتصادي جغرافیې سره (کرنه، صنعت، سوداګری او لېږد رالېږد).

**ـ زده کوونکي دې د دې څپرکي په لوستلو سره لاندې مهارتونه حاصل کړي:**

ـ د نقشې پر مخ د امریکا د لویې وچې موقعیت معلومول.

ـ د نقشې پر مخ د مهمو غرونو، سیندونو، سمندرګیو او جهیلونو معلومول.

ـ د نقشې پر مخ د امریکا د لویې وچې د هېوادونو معلومول.

ـ د انسانانو په ژوند کې د حمل و نقل د ارزښت د پایلو توضیح کول.

# د امریکا د لویې وچې د جغرافیایي موقعیت په هکله څه پوهیږئ؟



د امریکا لویه وچه د نړۍ په نقشه کې

**د امریکا د لویې وچې څخه کوم سمندرونه چاپیر شوي دي؟**

**موقعیت**: د امریکا لویه وچه د ۳۰ درجو او ۱۷۰ درجو لویدیځو طول البلدونو او د ۸٤ درجو شمالي عرض البلد او د ۵۵ درجو سویلي عرض البلد ترمنځ موقعیت لري.

دا لویه وچه د شمال لخوا په شمالي کنګل سمندر، د جنوب لخوا د Drak Passage دریک په سمندري لارې (چې د انترکتیکا او د سویلي امریکا ترمنځ بېلوونکې پوله ده)، په ختیځ کې د اطلس په سمندر چې د اروپا او افریقا لویې وچې یې د امریکا د لویې وچې څخه بیلې کړي او په لویدیځ کې د آرام سمندر (بحرالکاهل) او د بیرنګ له آبنا سره چې د ۸۵ کیلومترو په واټن الاسکا له روسیې څخه بیلوي نښتي ده.

پرخوالی (مساحت) یې ۴۲.۳میلیون کیلومتره مربع دی . د امریکا د لویې وچې ډېره لیرې شمالي نقطه شمالي قطب او سویلي ډیره لېرې نقطه یې د کپ هارن Cape-Horn دماغه ده. اوږدوالی یې له شمال څخه جنوب ته ۱۵۰۰۰ کیلومتره دی او سوریې له ختیځ څخه لویدیځ ته په مختلفو برخوکې سره توپیر لري.

## د امریکا د لویې وچې ویش

د امریکا لویه وچه له شمال څخه جنوب لورته په دریو برخو ویشل شویده چې له شمالي امریکا، منځنۍ امریکا او سویلي امریکا څخه عبارت ده. د امریکا لویه وچه له شمال څخه جنوب لورته اوږده پرته ده. په

شمالي امريکا کې دوه هېوادونه کاناډا او د امریکا متحده ایالتونه موقعیت لري چې له شمالي قطب څخه تر مکسیکو پورې غزېدلې ده. منځنۍ امریکا د شمالي امریکا او سوېلي امریکا ترمنځ پرته ده، منځنۍ امریکا د شمال لخوا د امریکا په متحده ایالاتو او په جنوب کې د سوېلي امریکا سره ګډه پوله لري او د پانامې کانال د کارابین سمندرګی له آرام سمندرسره نښلوي او منځنۍ امریکا له سوېلي امریکا څخه بېلوي. سوېلي امریکا په سوېلي نیمه کره کې د شمالي عرض البلد له ۱۲ درجو څخه د سوېلي عرض البلد تر ۵۵ درجو پورې موقعیت لري. او په شمالي نیمه کره کې یې ډېره لږه برخه پرته ده. سوېلي امریکا د منځنۍ امریکا په جنوب کې د مثلث په بڼه موقعیت لري، چې راس یې د دریک سمندري لارې په لوري او قاعده یې د کارابین په سمندرګي او په منځنۍ امریکا کې موقعیت لري.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د ورکړ شوي نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره دې د امریکا د لویې وچې موقعیت د طول البلدونو او عرض البلدونو پر بنسټ وټاکي او تمرین دې کړي.

## پوښتنې




د امریکا سیاسي نقشه

لاندې جملې بشپړې کړئ

۱- د امریکا لویه وچه ............. کیلومتره مربع پراخوالي لري؟

۲- د ............. آبناء سوېلي امریکا د انتارکتیکا له لویې وچې څخه بېلوي؟

۳- د امریکا د لویې وچې او د آسیا د لویې وچې ترمنځ ................. بېلونکي حد تشکیلوي.

٤- د امریکا او اروپا د لویې وچې ترمنځ ............... بېلونکی سرحد تشکیلوي.

## له ټولګي بهر فعالیت

د ورکړشوې نقشې له مخې د شمالي، منځنۍ او سوېلي امریکا د هېوادونو نومونه بېل بېل لست کړئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې، په ټولګي کې ولولئ.

# امريکا څه وخت او د چا له خوا کشف شوه؟



د کرستف کولمب انځور

## آيا د امريکا د لويې وچې کشف کوونکی پېژنئ؟

کرستف کولمب ايټالوی بېړۍ چلوونکی ته د څمکې د کرويت په هکله د مسلمانانو د لکينو پرېنسټ په ۱۴۹۲ م کال کې د اسپانيې د پاچا لخوا دنده ورکړل شوه ترڅو، د لويديځ پرلور، هندوستان ته سفر وکړي او کومه شتمني چې هلته وه، لاس ته راوړي. خو کولمب خپل سفر پيل کړ هغه ځای ته ورسيد چې هغه يې د غرب الهند په نامه ياد کړ، او لومړنی سيمه چې هلته پلې شو، هغه يې د سان سالوا دور (مقدس نجات ورکوونکي) په نامه ياده کړه ( چې د بهاما د ټاپوګانو له ډلې څخه وه). کولمب فکر کاوه چې اسيا او هند ته رسېدلی دی او خپلو ملګروته يې هدايت ورکړ چې د ټاپو ګانو په پلټنه پيل وکړي. کلمب درې ځلې نورهم د امريکا نوي وچې ته سفر وکړ.

له کلمب ورسته بل بېړۍ چلوونکی د امريکو سپوچي په نوم د کولمب لارې ته دوام ورکړ او د سوېلي عرض البلد تر ۲۵ درجو پورې د برازيل د هېواد غاړوته نږدې پرمخ لاړ. دې بېړۍ چلوونکي د خپل سفر په هکله يوه مقاله وليکله او هغه يې خپره کړه. وروسته بيا په ۱۵۰۲ م کال کې يو جغرافيه پوه يو کتاب وليکه او په هغه کې يې د امريکو سپو چي مقالې ته د خپل اثر په سريزه کې ځای ورکړ او چاپ يې کړ. په ۱۵۰۷ م کال کې نوموړی کتاب په لاتيني ژبه وژباړل شو، چې په سريزه کې يې يوه جغرافيه پوه وړانديز وکړ چې د وچې دا ټوټه دې، د هغه د کشف کوونکي په نوم امريکا ونومول.

شي. په لومړيو کې د امريکا نوم د استواد کرښې د جنوب برخې ته کارول کېده، چې کولمب هغه ځای ته سفر نه و کړی، خو وروسته يې شمالي برخه هم په برکې ونيوه او په جغرافيه کې لومړی ځل گردهارد مرکاتور په ۱۵۳۸ م کال کې په خپله مشهوره نقشه کې د امريکا نوم ټولې لوېديځې نيم کرې ته استعمال کړ. له هغه يې وروسته تر ننه پورې دا نوې لويه وچه د امريکو سپوچي په نوم، د امريکا لويه وچه نومولې ده.



## په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او لاندې پوښتنو ته دې ځواب ورکړي.

۱- کرستف کولمب ولې د هند د سفر لپاره د اروپا لوېديځه لاره غوره کړه؟

۲- مسلمانو جغرافيه پوهانو د امريکا په کشف کولو کې څه رول درلود؟

۳- جغرافيه پوهانو ولې دا نوې لويه وچه د امريکا په نوم ونوموله؟

## پوښتنې

۱- امريکا ته د کرستف کولمب د سفر موخه څه وه؟

۲- د امريکو سپوچي په خپل سمندري سفر کې کوم ځای کشف کړ؟

۳- لومړي ځل کوم جغرافيه پوه ، نوموړې نوې لويه وچه د امريکا په نوم ونوموله؟

٤- په لومړيو کې د امريکا کلمه د امريکا د لويې وچې کومې برخې ته کارول کېده؟

## له ټولگي بهر فعاليت

د امريکو د سفر لوری د نقشې له مخې رسم کړئ، او څرگنده کړئ چې هغه کوم لوی کار ترسره کړی دی.

# د امریکا سیاسي جغرافیه




د امریکا سیاسي نقشه

## د امریکا په لویه وچه کې څو خپلواک هېوادونه شته؟

د امریکا لویه وچه د ۴۲.۳ میلیونو کیلومترو مربعو په پراخوالي سره په دوو شمالي او سوېلي نیمو کرو کې موقعیت لري. دا لویه وچه په ۵۱ سیاسي واحدونو وېشل شوې ده، چې له هغې جملې څخه ۳۵ واحده یې خپلواک هېوادونه او نور پاتې یې لاتر اوسه د بهرنیو هېوادونو تر کنټرول لاندې دي. په شمالي امریکا کې چې د انګلوساکسون په نوم هم یادېږي د (امریکا متحده ایالاتونویا اتازوني او کاناډا) دوه هېوادونه پراته دي. د امریکا د متحده ایالاتو د ۹،۳۶۳،۰۰۰ کیلومترو مربعو په پراخوالي سره د نړۍ څلورم لوی هېواد دی چې له ۵۰ ایالتونو څخه جوړ شوې دی. له همدې امله یې د هېواد رسمي بیرغ ۵۰ ستوري لري.

د حکومت دولت یې فدرالي جمهوریت دی او جمهور رئیس یې د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

دکاناډا هېواد د (۹،۹۷۰،۶۱۰) کیلومترو مربعو په پراخوالي سره د روسیې له هېواد څخه

وروسته د نړۍ پراخه هېواد دی. دا هېواد له لسو ایالتونو څخه جوړ شوی، او لاتر اوسه یې ګورنر جنرال چې تشریفاتي بڼه لري، د انګلستان د ملکې له خوا ورپېژندل کېږي او د انګلستان د هم ګټو (مشترك المنافع)، هېوادونو له ډلې څخه ګڼل کېږي. د منځنۍ امریکا اته ګوني هېوادونه د سوېلي امریکا د هېوادونو په ګډون د لاتیني امریکا په نوم یادېږي. چې ډېر مهم ګډ خصوصیات یې لاتیني ژبه ده. چې په دغو زیاترو هېوادونو کې رسمي ژبه اسپانوي او په برازیل کې پرتګالي ده.

ډیر لوی هېواد یې برازیل دی چې پراخوالی یې ۸،۵٤۷،٤۰٤ کیلومتر مربع او پلازمینه یې د برازیلیا ښار دی او ډیر کوچنی هېواد یې ترینیداد او توباګو دی، مهم ښار یې د ارجنتاین هیواد کې بونس ایرس دی چې د امریکا د پاریس په نوم هم شهرت لری. دسوېلي امریکا د نفوسو ډک هېواد بیاهم برازیل دی چې ۱۸٤،۷ میلیونه تنه نفوس لري، او لږ نفوس لرونکی هېواد یې فالکلند تر استعمار لاندې هېواد دی چې ۲۰۰۰ تنه نفوس لري. د امریکا د لویې وچې شپږ هېوادونه فدرالي ۱۹ یې ولسواکه(جمهوري) او لس نور یې د انګلستان پخوانۍ مستعمرې دي، چې اوس یې خپلواکي په رسمیت پیژندل شوې ده، خو لاتر اوسه یې ګورنر جنرال د انګلستان د ملکې له خوا ټاکل کېږي او د انګلستان د هم ګټو هیوادونو څخه ګڼل کېږي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، د پخوانیو معلومات په پام کې نیولوسره دې د امریکايي هېوادونو د حکومتي جوړښت په هکله په خپل منځ کې بحث وکړي او پایلې دې ټولګیوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱ـ د امریکا د لویې وچې د سیاسي وېش نقشې ته په پاملرنې سره لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ؟

الف ـ د شمالي امریکا د دوو هېوادونو نومونه ووایاست؟

ب ـ د منځنۍ امریکا د یو هېواد نوم ووایاست؟

ج ـ د سوېلي امریکا د دریو هېوادونو نومونه ووایاست؟

۲ـ د سوېلي امریکا هېوادونه کومه ګډه فرهنګي وجه لري؟

۳ـ د امریکا د متحدو ایالات (اتازوني) له څو ایالتونو جوړ او د حکومت ډول یې څرنګه دی؟

### له ټولګي بهر فعالیت

زده کوونکي دې د امریکا د لویې وچې د یوه هېواد په هکله معلومات راټول او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې وړاندې کړي.

# د امريکا بشري جغرافيه

د امريکا په لويه وچه کې نژادونه




پورتنۍ نقشې ته وگورئ، چې د امريکا په لويه وچه کې د نژادونو وېش رابښيئ.

په امريکا کې کوم نژادونه استوگنه لري؟

دامريکا دلويې وچې خلك له ډول ډول نژادونو او څانگو څخه جوړ شوي چې ډېر غوره يې عبارت دي له:

### ۱- بوميان يا سره پوستکي

د امريکا پخواني او اصلي اوسيدونکي دي چې په متحده ايالاتو او کاناډا کې اوسيږي او هغوی ته هنديان هم وايي. د امريکا له کشفولو وروسته دې لويې وچې ته د سپين پوستکو اروپايانو په ورتگ سره چې د سره پوستکو د ځمکو د لاندې کولو په لټه کې وو. د بوميانو او اروپايانو ترمنځ ډيرې جگړې وشوې چې د هغو له امله نن ډير لږ سره پوستکي پاتې دي. د دې خلکو کار کرنه او د ژويو ښکار او د ونو له مېوو څخه يې هم خواړه برابرول وه. سره پوستکي د ژيړ پوستکو له نژاد څخه هم گڼې چې ډير پخوا يې د آسيا له لويې وچې څخه د بېرنگ د آبنا له لارې د امريکا لويې وچې ته مهاجرت کړی دی.

### ۲- سپين پوستکي

له ۱۶ز. پېړۍ وروسته اروپايي سپين پوستکي مهاجرين ورو ورو امريکا ته راغلل، هلته استوگن شول او ورځ په ورځ يې شمير ډېر شو نن د امريکا د لويې وچې ډېر وگړي دوه رگه دي چې د مختلفو نژادونو

او ملیتونو د اختلاط په پایله کې منځته راغلي دي.

**۳ـ تور پوستکي**: امریکایي تور پوستکي په واقعیت کې د افریقایي غلامانو او مریانو زامن او لمسي دي چې داستعمار په دوران کې د اروپایي سپین پوستکو په واسطه په کانونو او کروندوکې دکار لپاره په اجباري توګه دې لویې وچې ته راوړل شوي دي. نن ورځ یو زیات شمیر تور پوستکي په شمالي، منځنۍاو سوېلي امریکا کې ژوند کوي.

دامریکا په متحده ایالتونوکې توروپوستکي ددې هېواد په جنوب ختیځ او همدارنګه په لویو ښارونو لکه شیکاګو او نیویارک کې استوګنه کوي او د ژوند شرایط یې د سپین پوستکو په پرتله د اقتصادي او اجتماعي پلوه نا مناسب دي.

ایا پوهیږئ د امریکا په لویه وچه کې دوه فرهنګه او مروجې ژبې کومې دې؟

### الف ـ شمالي امریکا

په شمالي امریکا کې یعنې په متحده ایالاتو کې انګلیسانو د ۱۷ز. پیړۍ په لومړیو اوپه کاناډا کې د ۱۸ز. پیړۍ په وروستیو کې یو ډول انګلیسي فرهنګ منځته راوړ، چې لاتر اوسه شته. د کانادا وګړي په انګلیسي او فرانسوي او د متحده ایالاتو وګړي په انګلیسي ژبه خبرې کوي.

### ب ـ لاتینه امریکا

منځنۍ او سوېلي امریکا په ګډه د لاتیني امریکا په نوم شهرت لري. د دې سیمې نوم او دهغو د ژوند کړه وړه د لاتینی اروپا یعنې د اسپانیې او پرتګال د فرهنګ استازیتوب کوي چې اسپانوي ژبه د دې سیمې د ۲۰ جمهوریتونو څخه په ۱۸ جمهوریتونو کې مروجه ده، د برازیل خلک په پرتګالي او د هایتي خلک په فرانسوي ژبو خبرې کوي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې په لاندې مطلب بحث او خبرې وکړي.

ـ لاتینه امریکا د امریکا د لویې وچې کومې برخې ته ویل کیږي او ولې؟

ـ د تور پوستکو اصلي منشه چې نن ورځ په امریکا کې اوسیږي د کوم ځای څخه پیل کیږي؟

### پوښتنې

سم ځواب غوره کړئ.

۱ـ د انګلوساکسون فرهنګ په کوم یوه لاندني هېواد کې شته؟

الف ـ کاناډا ب ـ برازیل ج ـ ارجنټاین د ـ مکسیکو

۲ـ لاندې جملې بشپړې کړئ.

په سوېلي امریکا کې ............... فرهنګ رواج لري.

۳ـ لنډ ځواب ورکړئ.

ایا د امریکا د متحده ایالاتو توروپوستکي اقتصادي او اجتماعي مناسب شرایط لري؟

# امریکا نفوس او مذهبونه



د امریکا په لویې وچې کې د نفوسو د جغرافیایي وېش نقشه

د امریکا د لویې وچې د نفوسو د جغرافیایي وېش نقشې ته ځیر شئ چې په امریکا کې د نفوسو مېشته کېدنه راښیي.

د امریکا د نفوسو ډېره برخه د دوو لویو وچو یعنې د اروپا او افریقا مهاجرین چې په لویو ښارونو کې استوګنه لري، په خپله لمن کې رانغاړي. د دې لویې وچې له نفوسو ډکې سیمې شمالي او منځنۍ امریکا ده چې په ۲۰۰۰ز. کال کې یې تر ٤٨۰ میلیونو تنو څخه یې ډېر وګړي درلودل او په سوېلي امریکا کې هم د ۳٤٦ میلیونو تنو څخه ډېر وګړي اوسېدل. د امریکا د لویې وچې ټول نفوس ۸۲۷ میلیونو تنو ته رسېږي. په شمالي او منځنۍ امریکا کې له نفوسو څخه ډک ښار د نیویارک بندر دی چې نفوس یې په ۲۰۰۵ز. کال کې ۱۸،۵ میلیونو تنو ته رسېده.

د نیویارک یو انځور



د سوېلي امریکا په برازیل کې د سن پایولو د ښار د وګړو شمېر په ۲۰۰۵ز. کال کې

۱۸٫۳ میلیونو تنو ته رسېده. همدارنگه بونس ایرس د ارجنټاین پلازمینه له نفوسو څخه له ډکو ښارونو گڼل کېږی چې په ۲۰۰۵ ز. کال کې یې ۱۳٫۳ میلیونه تنه نفوس درلوده. د یادولو وړ ده چې د نفوسو وده په لاتینه امریکا کې د شمالي امریکا په پرتله ډېره ده. د شمالي امریکا وگړي له مکسیکو پرته ډېري د پروتستانت د مذهب پیروان دي او د امریکا د لویې وچې نور اوسیدونکي کاتولیک مذهبه دي. چې د سوېلي اروپا میراث دی. د کاتولیک مذهب لارویان په لاتینه امریکا کې استوگن دي او د نورو دینونو لارروپان لکه مسلمانان او یهودیان هم د امریکا په لویه وچه کې استوگنه لري.

دساو پائولو د ښار انځور



## په ټولگي کې فعالیت

دامریکا دنفوسو د جغرافیایي وېش نقشې ته په پاملرنې، د دې لویې وچې له نفوسو څخه ډک ښارونه له لیکنې پرته نقشه کې مشخص کړئ.

## پوښتنې

۱ـ د امریکا په کوم ښار کې ډېر تور پوستي استوگنه کوي؟
۲ـ د نفوسو وده په شمالي امریکا کې ډېره ده که په سوېلي او منځنۍامریکا کې؟
۳ـ د پروتستانت مذهب ډېر لارویان ددې لویې وچې په کومه برخه کې پراته دي ؟ نوم یې واخلئ.

# د امریکا اقتصادي جغرافیه



د شمالي امریکا (د امریکا د متحدو ایالتونو او کاناډا) اقتصادي انځوریزه نقشه

## کوم عوامل د شمالي امریکا د اقتصادي پرمختګ سبب شوي دي؟

### شمالي امریکا

په اوسنیو شرایطو کې د شمالي امریکا دوه هېوادونه (متحده ایالات او کاناډا) په مختلفو دلایلو د نړۍ له ډېرو پرمختللو هېوادونو څخه ګڼل کېږي، د بېلګې په توګه:

- شمالي امریکا تر ځمکې لاندې ډېر کانونه، طبیعي سرشاره زېرمې، پراخې ځمکې، له اوبو څخه ډک سیندونه او ډول ډول اقلیمونه لري.

- د امریکا د لوېې وچې له کشف وروسته، اروپایانو دې وچې ته مهاجرت کړی دی. هغوی خپلې پانګې هم له ځان سره راوړې وې. دغو مهاجرینو خپل مهارتونه او استعدادونه په کار واچول او د ځو پېړیو په اوږدوکې یې نوی تمدن منځته راوړ.

- د شمالي امریکا په اقتصادي پراختیا کې نورو عواملو هم اغېزه درلوده د بېلګې په توګه په دویمې نړېوالې جګړې کې د ډېرو اروپایي هېوادونو صنایع ړنګې شوې، خو متحده ایالاتونه د جګړې له سیمې څخه دلرې والي په سبب زیانمن نه شول او ویې کولای شول چې تر خپلو سیالانو وړاندې شي.

- شمالي امريکا د زياتو هيوادونو د پوهانو او متخصصانو په جذبولو سره يې هم وکولای شو چې پر مختللي اقتصاد ولري.

## کرنه او مالداري

شمالي امريکا طبيعي سرشاره او پراخه منابع لري، چې دا لاملونه په دې سيمه کې د کرنې او مالدارۍ د پرمختگ سبب شوي دي. په حاصل خيزو ځمکو کې په ډېره کچه غنم او جوار کرل کېږي.

کرنيز فعاليتونه د علمي لاروچارو څخه په گټې اخيستنې سره په ښه توگه سرته رسېږي. مالداري د امريکا په مختلفو سيمو کې، له هغې جملې په متحده ايالاتو او کانادا کې ځانگړې ارزښت لري. په دغو هېوادونو کې د غوبانو، پسونو او وزو د لويو رمو او آسونو روزنه کيږي.

## کانونه او صنايع

د امريکا په ټوله لويه وچه کې د نفتو ځاگانې او د اوسپنې او ډېروسکرو کانونه پيدا کېږي. همدارنگه د دې لويې وچې نور غوره کانونه سره زر، سپين زر، مس، نکل او داسې نور دي.

د امريکې متحده ايالاتو د صنعتي توليداتو کارخانې په لويو ښارونو لکه نيويارك او د امريکا د پنځه گونو جهيلونو په شاوخواکې جوړې شوي دي.

د شمالي امريکا د يادولو وړ صنايع د فلزاتو د ويلې کولو، درندو صنايعو، د پولادو برابرولو، کرنيزو ماشينونو، لارو جوړلو، د وسلې توليدولو، موټر جوړولو، بېړۍ جوړولو، الوتکو جوړولو او بالاخره کيمياوي صنايعو، د نفتو د چاڼولو له صنايعو او نورو څخه دي.

### په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او هره ډله دې د لاندې جدول په پام کې نيولو سره هغه طبيعي او بشري عوامل چې د شمالي امريکا د پرمختگ سبب شوي، په دوو ورکړ شوو ستونونو کې واضح کړي.

| طبيعي عوامل | بشري عوامل |
|---|---|
| حاصل خيزه پراخه ځمکې<br>....................................<br>.................................... | له جگړې څخه لرې والې<br>....................................<br>.................................... |

### پوښتنې

۱. د شمالي امريکا د څو غوره کرنيزو پيدا وارو نومونه واخلئ؟
۲. د امريکا دمتحده ايالاتو مهمې صنايع کومې دي بيان يې کړئ؟
۳. د شمالي امريکا د غوره کانونو نومونه واخلئ؟
٤. د شمالي امريکا د صنايعو په هکله څه پوهېږئ؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

د شمالي امريکا له ليکنې څخه پرته (سپينې) نقشې کې د شمالي امريکا د صنعتي ښارونو ځايونه مشخص کړئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې ټولگيوالو ته وښيئ.

# لاتینه امریکا




د منځنۍ او سویلي امریکا انځوریز نقشه




## د لاتینې امریکا اقتصاد پر کومو بنسټونو ولاړ دی؟

د لاتینې امریکا هېوادونه د متحده ایالاتو او کاناډا په څیر پرمختللي نه دي، بلکې د هغو اقتصاد زیات په کرنیزو محصولاتو او د کاني موادو په را ایستنې ولاړ دی.

**کرنه**

د شلمې پېړۍ په لومړیو کې چې د کرنې په برخه کې کوم بدلونونه منځته راغلي دي، لاتینې امریکا وکولای شو چې د نړۍ په کرنیز اقتصاد کې مهم مقام خپل کړي. لکه چې اوس کولای شو د سوېلي امریکا د هېوادونو په غوره کرنیزو محصولاتو کې د پنبې، ګنیو، ککاو، قهوې، کیلې او ربړ نوم واخلو. سربېره پردې د دې سیمې په ځینو هېوادونو کې غلې دانې په ځانګړي ډول غنم او جوار هم په ډېره اندازه کرل کېږي. لکه چې دارنګه ارجنټاین د غنمو او جوارو مهم تولیدوونکې هېواد دی، او برازیل د نړۍ د قهوې مهم صادروونکي دی. همدارنګه د امازون د ځنګلو نو اومه ربړ ددې لوېې وچې غوره شتمني ګڼل کېږي. په منځنۍ امریکا او د کارابین په ټاپوګانو کې کېله، قهوه، ککاو، ګني، ډول ډول مرکبات او اناناس او همدارنګه سربېره پر هغو په ټوله سوېلي امریکا کې چغندر، قند،

کتان او په ځنګلی سیمو کې له ځنګلونو څخه دګټې اخیستنې محصولات د پاملرنې وړ دي.

## مالداري

مالداري د سویلي امریکا په مختلفو سیمو له هغو جملې په برازیل او ارجنټاین کې ځانګړی ارزښت لري. په دغو هېوادونو کې د شنو او پراخو د ښتو د شتون له امله د رمو ساتنه او مالداري په ځانګړې ډول د غوا ګانو روزنه ډېر رواج لري، لکه چې په ورستیو کلونو کې د غوښو د کنسرو او ساتنې لپاره پوره وسایل برابر شوي چې دغه حالت د مالدارۍ د ډېرې ودې سبب شوی دي.

## کانونه او صنایع

سویلي امریکا د طبیعي منابعو له پلوه بډایه لویه وچه ده. په دې لویه وچه کې د نفتو، سروزرو، سپینو زرو، مسو او اوسپنې کانونه شته . دا سیمه د نفتي منابعو د درلودلو له پلوه هم د پاملرنې وړ ده. یو له هغو عواملو څخه چې هسپانویانو او پرتګالیانو د دې لویې وچې د نیولو لپاره پام را واړاوه، هغه د قیمتي فلزاتو لکه سروزرو او سپینو زرو شتوالی و، چې د سپینو زرو زیاتره کانونه په مکسیکو او د بوکسیتو (د المونیمو د تولید لپاره استعمالیږي) په جامیکا کې دي.د نفتو صنعت او ډول ډول کانونه، د فلزاتو ویلي کول او د مسو مهم کانونه هم د چیلي په هېواد کې د یادونې وړ دي. په سویلي امریکا کې د صنایعو پراختیا خپل لومړني پړاوونه وهي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د شمالي امریکا او سویلي امریکا اقتصاد د کرنې، مالدارۍ کانونو او صنایعو له پلوه سره پرتله کړي او پایله دې ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱. د سویلي امریکا اقتصاد ډېر په کومو شیانو ولاړ دی؟
۲. د سویلي امریکا ډیر مهم صادراتي محصولات کوم دي؟
۳. د لاتیني امریکا په هېوادونو کې د مالدارۍ او رمو ساتنو د پراختیا دلایل ولیکئ؟
٤. د سویلي امریکا د مهمو کانونو نومونه واخلئ؟

### له ټولګي بهر فعالیت

لاتیني امریکې ته د هسپانویانو او پرتګالیانو د مهاجرت په هکله یو مطلب د ښوونځي له کتابتون او یا نورو سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره په ځوکړښو کې ولیکئ، او د جغرافیې د لوست په راتلونکي ساعت کې یې ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

# د امريکا مواصلاتي جغرافيه




د شمالي امريکا مهمې لويې لارې

## ستاسې له نظره د شمالي امريکا د مواصلاتي لارو اهميت په څه کې دی؟

مواصلاتي جغرافيه د سوداګريزو مهمو بندرونو، ښارونو او سيمو ترمنځ د اړيکو له مطالعې څخه عبارت ده، چې په دغه تګ لورې باندې د سوداګرۍ مالونه (واردات او صادرات) او د مسافرينو تګ او راتګ کيږي او مختلف ډولونه لري.

د امريکا مواصلاتي لارې کولای شو تر دوو بېلو سرليکونو لاندې مطالعه کړو.

### ۱- شمالي امريکا

### الف- ځمکني مواصلات

شمالي امريکا د اوسپنو او لويو لارو ډېرې ګڼې کرښې لري، چې ټول ښارونه، دکانونو د راايستنې مرکزونه، صنعتي او لګښتي مرکزونه او د هېوادونو بندرونه يې سره نښلولي دي، يعنې د شمالي امريکا د هېوادونو د اوسپنو کرښې او لويې لارې په خپلو منځو اوهم د منځنۍ امريکا د بحر الکاهل دغاړې هېوادونو سره نښتي دي، چې له هغو څخه په ګټه اخيستنې سره کولای شو له ټولوهېوادونو سره سوداګريزې او سفري اړيکې ټينګې کړو.

### ب- داوبو مواصلات

د آرام او اتلانتيک د سمندرونو ترمنځ د شمالي امريکا جغرافيايي مناسب موقعيت او ساحلي

مناسبې وتلې او ننوتلې برخې ددې سبب شوې ترڅو، بندرونه، سوداګري او د بېړۍ چلونې فن په دغو سیمو کې پرمختګ وکړي، او د نړۍ له سلو ډېر هېوادونو سره سوداګري وکړي. همدارنګه د سیندونو د اوبو له لارو په ګټې اخیستنې سره کولای شو دهېواد په دننه او هم دهغو له لارې د اوبو د نړیوالو لارو سره اړیکې پیدا کړو.

## ج- هوایي مواصلات

له دې ټرانسپورټ څخه ډېر په لیرې واټنونو د مسافرینو او هغو مالونو د وړنې لپاره چې درانده نه وي او ارزښت يې ډېر وي، ګټه اخیستل کېږي. د امریکا د متحدو ایالاتو او کاناډا د هېوادونو لویې ټرانسپورټي کمپنۍ د ډېرو لویو او وړو الوتکو په لرلو سره د هېواد په دننه اوبهر کې په ټرانسپورټي برخه کې فعالیت کوي.

## د- د پایپ لین په واسطه وړل

د دې وسېلې په واسطه ډېر مایعات له ضایعاتو پرته په ډېره چټکۍ سره د لګښت مرکزونو ته وړل کېږي. دې وسیلې ډېر د شمالي امریکا په هېوادونو کې پراختیا موندلې او د نفتو، ګازو او اوبو د وړلو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. د تکزاس ـ نیویارک د ګاز پایپ لین د امریکا د متحده ایالاتو ډیر اوږد او مهم پایپ لین دی. په کاناډا کې هم د هېواد د لویدیځ یعنې د البرتا د ایالت او دهغه د شاوخوا سیمو څخه نفت او ګاز د پایپ لینونو په واسطه د لګښت مرکزونوته وړل کېږي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې تنظیم شي او له ورکړ شوې نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره دې له یو بل سره مشوره وکړي، چې د امریکا په متحده ایالاتو کې د شیکاګو سوداګریزه صنعتي ښار(د مشیګان د جهیل په جنوب لویدیځه غاړه کې) د اوسپنو د کرښو او لویو لارو په وسیله له کومو بندرونو او ګاونډیو هېوادونو سره نښلول شوي، او د خپل فعالیت پایلې دې ټولګي والوته ووایي.

### پوښتنې

۱ـ مواصلاتي جغرافیه تعریف کړئ.

۲ـ د متحده ایالتونو د اوسپنې کرښې د کومو هېوادونو د اوسپنو له کرښو سره نښلول شوي دي؟

۳ـ د شمالي امریکا جغرافیایي موقعیت د دریو سمندرونو ترمنځ د کوم ډول ټرانسپورټ د پرمختیا سبب شوی دی؟

٤ـ د شمالي امریکا کوم لوی سیندونه د بیړۍ چلولو وړ دي؟

۵ـ له هوایي ټرانسپورټ څخه ډېر د څه لپاره کار اخیستل کېږي؟

٦ـ د پایپ لین د اوبلنو شیانو په وړلو کې څه ارزښت لري توضیح يې کړئ؟

### له ټولګي بهر فعالیت:

له ورکړ شوې نقشې څخه په ګټه اخیستنې سره که وغواړو د امریکې متحده ایالاتو د الاسکا له ایالت څخه د لویو لارو په وسیله د پانامې هېواد ته سفر وکړو، له کومو هېوادونو څخه باید تېرشوو، په دې هکله خپل معلومات ولیکئ.

# ۲ـ سوېلي امريکا




د سوېلي امريکا مهمې لويې لارې

**ولې د سوېلي امريکا په لويه وچه کې ځمکني ټرانسپورټ ښه وده او پرمختګ نه دی کړی؟**

- په دې لويه وچه کې طبيعي عوامل د ارتباطي لارو خنډ ګرځي. د انديز د غرونو لړۍ له يوې خوا او د امازون پراخو ځنګلونو د بلې خوا د ګډوګټو لرونکو هېوادونو د ټرانسپورټي لارو پراختيا لړه ممکنه کړېده. د سوېلي امريکا هېوادونه دځمکنيو لارو له پلوه بې وزلي دي.

### الف ـ ځمکني مواصلات

په سوېلي امريکا کې د اوسپنو کرښې ډېرې په دوو ګڼ ميشتو سيموکې يعنې د برازيل د قهوې په توليدي سيمو د ريود ژانيرو په شاوخوا او د پامپاس په حاصل خېزه سيمو د بونس ايرس په شاوخواکې پراختيا موندلې.

**د سوېلي امريکا د اوسپنو مهمې کرښې په لاندې ډول دي:**

۱ـ د ارجنټاين او چيلي د هېوادونو ترمنځ د اوسپنو سراسري ليکه.

۲ـ د بوليويا هېواد ته د ارجنټاين د هېواد د اوسپنې ليکه.

۳ـ له ارجنټاين څخه برازيل ته د ختيځوسواحلو د اوسپنې لار.

٤ـ چيلي ته د بوليويا د اوسپنې کرښه.
د پان امريکن په نامه لويې لارې چې د سوېلي امريکا د ډېرو هېوادونو پلازمېنې يې سره نښلولې دي، د سوېلي امريکا له مهمو لويو لارو څخه گڼل کيږي.

## ب ـ د اوبو مواصلات

د سوېلي امريکا هېوادونه داوبو د لارو له پلوه شتمن دي، ځکه ډېر سيندونه يې په ډېر اوږده واټن د بېړيو د چلولو وړ دي. د بېلگې په توگه د امازون سيند د ٤٠٠٠ کيلومترو په واټن د بېړيو چلولو وړ دی. له بلې خوا د سوېلي امريکا ښه جغرافيايي موقعيت د آرام او اتلانتيک د سمندرونو ترمنځ د سمندري ترانسپورت د پراختيا سبب شوی دی. د پانامې کانال چې د اتلانتيک او آرام سمندرونه سره نښلوي، اوږدوالی يې ٨٢ کيلومتره دی چې ځانگړې استراتېژيکې او اقتصادي ارزښت لري.

## ج ـ هوايي مواصلات

د ځمکنيو لارو د پراختيا ستونزې د دې سبب شوی چې د سوېلي امريکا ډېر هېوادونه هوايي لاروته ډېره پاملرنه وکړي. پر نړېوالو هوايي کرښو سربېره چې ورڅخه گټه اخيستل کېږي د دننيو اړيکو زياته برخه هم په ځانگړې ډول د برازيل او ارجنټاين په هېوادونوکې چې پراخوالی يې ډېر دی، د هوا له لارې سرته رسيږي.

### په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې په پنځه کسيزو ډلو کې تنظيم او هره ډله دې د سوېلي امريکا د ځمکني ترانسپورت د ستونزو په هکله په خپل منځ کې بحث وکړي او د خپل بحث پايلې دې ټولگي والوته وړاندې کړي.

### پوښتنې

١ـ هغه طبيعي عوامل چې د سوېلي امريکا د ځمکنيو لارو د پراختيا په مخ کې خنډ گرځيدلي وواياست؟
٢ـ د سوېلي امريکا د اوسپنو ليکې ډېرې په کومو سيمو کې جوړې شوې دي؟
٣ـ ولې په سوېلي امريکا کې د اوبو ترانسپورت د ځمکني ترانسپورت په پرتله پرمخ تللی دی؟
٤ـ په سوېلي امريکا کې د هوايي ترانسپورت د ډېرې پرمختيا لاملونه کوم دي؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

د سوېلي امريکا ترانسپورتي نقشه په غور سره مطالعه کړئ او وواياست، که وغواړو د ارجنټاين د هېواد د پلازمېنې بونس ايرس څخه د چيلي پلازمېنې سانتياگو ته سفر وکړو له کومو مواصلاتي کرښو څخه گټه اخيستلای شو.

**جدول: د امریکاېي هېوادونو جغرافیاېي ځانګړتیاوې (د مطالعې لپاره)**

| ګڼه | هېوادونه | پلازمېنه | پراخوالی په کیلو متر مربع | نفوس په ۲۰۰۲م کال کې | موقعیت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ارجنټاین | بوئنوس آیرس | ۲۷۸۰۰۹۲ | ۳۸۹۷۱۰۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۲ | آنټي ګوا باربودا | سنت جونز | ۴۴۲ | ۷۸۲۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۳ | اروګوای | مونته ویدئو | ۱۷۶۲۱۵ | ۳۲۶۶۰۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۴ | اکوادور | کیتو | ۲۷۲۰۴۵ | ۱۳۴۱۹۰۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۵ | السلوادور | سان سالوادور | ۲۱۰۴۱ | ۶۹۹۱۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۶ | د امریکا متحده ایالتونه | واشنګټن ډي سي | ۹۳۶۳۳۶۴ | ۲۹۹۳۳۰۰۰۰ | شمالي امریکا |
| ۷ | بارباډوس | بریج ټاون | ۴۳۰ | ۲۷۰۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۸ | بهاما | ناسائو | ۱۳۹۳۹ | ۳۲۷۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۹ | بلیز | بلموپان | ۲۲۹۶۵ | ۳۰۱۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۱۰ | بولیوی | لاپاز اوسوکر | ۱۰۹۸۵۸۱ | ۹۳۵۴۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۱۱ | پاراګوای | اسون سیون | ۴۰۶۷۵۲ | ۵۹۹۳۰۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۱۲ | پانامه | پانامه ستي | ۷۵۵۱۷ | ۳۱۹۱۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۱۳ | پیرو | لیما | ۱۲۸۵۲۱۶ | ۲۷۵۴۴۳۰۵ | سوېلي امریکا |
| ۱۴ | ترینیداداو توباکو | پرت آو اسپاین | ۵۱۲۸ | ۱۳۰۱۰۰۰ | سوېلي امریکا |
| ۱۵ | جامایکا | کینګستون | ۱۰۹۹۱ | ۲۶۶۷۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۱۶ | دومنیکا | روسو | ۷۵۱ | ۶۹۵۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۱۷ | دومینکن | سانتودومینګو | ۴۸۶۷۱ | ۹۰۲۱۰۰۰ | منځنۍ امریکا |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | سنت کیتس ورنویس | باستر | ۲۶۱ | ۴۹۱۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۱۹ | سنت لوسیا | کاسترس | ۶۱۷ | ۱۶۵۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۰ | سنت وین سنت وگرنادین | کنګزټاون | ۳۸۹ | ۹۶۸۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۱ | سورینام | پاراماریبو | ۱۶۳۲۶۵ | ۵۰۲۰۰۰ | سویلي امریکا |
| ۲۲ | چیلی | سانتیاګو | ۷۵۶۶۲۶ | ۱۶۴۳۶۰۰۰ | سویلي امریکا |
| ۲۳ | کاستاریکا | سان خوزه | ۵۱۱۰۰ | ۴۲۷۴۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۴ | کاناډا | اوتاوا | ۹۹۷۰۶۱۰ | ۳۲۵۴۷۰۰۰ | شمالي امریکا |
| ۲۵ | کلمبیا | بوګوتا | ۱۱۴۱۷۴۸ | ۴۳۵۹۳۰۰۰ | سویلي امریکا |
| ۲۶ | کیوبا | هاوانا | ۱۱۰۸۶۱ | ۱۱۲۹۴۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۷ | ګرینادا | سنت جورجز | ۳۴۴ | ۱۰۷۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۸ | ګواتیمالا | ګواتیمالاسټي | ۱۰۸۸۸۹ | ۱۳۰۱۹۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۲۶ | ګویان | جورج ټاون | ۲۱۴۹۶۹ | ۷۵۶۰۰۰ | سویلي امریکا |
| ۳۰ | مکسیکو | مکسیکو سټي | ۱۹۵۸۲۰۱ | ۱۰۴۰۳۸۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۳۱ | نیکاراګوا | ماناګوا | ۱۳۰۷۰۰ | ۵۲۳۳۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۳۲ | وینزویلا | کاراکاس | ۹۱۲۰۵۰ | ۲۷۲۱۶۰۰۰ | سویلي امریکا |
| ۳۳ | هایتي | پورتوپرنس | ۲۷۷۵۰ | ۸۸۰۸۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۳۴ | هاندوراس | تیګوسیګالپا | ۱۱۲۴۹۲ | ۷۳۲۷۰۰۰ | منځنۍ امریکا |
| ۳۵ | برازیل | برازیلیا | ۸۵۴۷۴۰۴ | ۱۸۶۷۷۱۰۰۰ | سویلي امریکا |

# درېیمه برخه: مدني زده کړې

## لومړی څپرکی

په دې څپرکي کې لاندې درسونه لولئ:

- ولې د اقتصاد علم زده کوو؟
- د اقتصاد علم د کومو موضوعگانو په اړه بحث کوي؟
- د اقتصاد اهمیت:
- د شیزونو او خدمتونو اقتصادي مفهوم؛
- مصرفي او پانگه ییز شیزونه؛
- تولید، وېش او مصرف؛
- عرضه او تقاضا؛
- د پیسو اهمیت او دندې؛

# د ښپړکي موخې

زده کوونکي به د دې ښپړکي ترلوستلو وروسته لاندې موخې ترلاسه کړي:

- د اقتصاد د علم، موضوعگانو او اهمیت د زده کړې په تعریف به وپوهېږي؛
- د اقتصاد د علم په مفهوم باندې به وپوهېږي؛
- تولید، وېش،مصرف، عرضه، تقاضا، د پیسو اهمیت او دندې به بیان کړای شي؛
- د اقتصاد د علم د لوستلو اړتیا او اهمیت به تشریح کړای شي؛
- خدماتي، مصرفي او پانگه ییز ښیزونه به یو له بله ښخه توپیر کړای شي؛
- تولید، وېش او مصرف به بیان کړای شي؛
- د عرضې او تقاضې تر منځ به توپیر وکړای شي؛
- د پیسو اهمیت او دندې به بیان کړای شي؛
- د اقتصاد له علم، موضوعگانواو ارزښت سره به مینه پیدا کړي؛
- د خدماتي، مصرفي او پانگه ییزو ښیزونو، تولید او توزیع په اړه به مثبت ذهنیت پیدا کړي؛
- د تولید، وېش، مصرف، پیسو او د هغو له دندو سره به مینه پیدا کړي؛

# ولې د اقتصاد علم زده کوو؟

كُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ( الأعراف : ۳۱)

ژباړه: وخورئ او وڅښئ، خو اسراف مه کوئ ځکه چې خدای تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

تېرکال ډېر بحثونه د اړتیاوو او د کورنۍ د اړتیاوو په اړه وو. البته اقتصاد پخپله د ټولنې له بنسټیزو اړتیاوو، په ځانګړې توګه د کورنۍ اړتیاوو له جملې څخه دی. له همدې امله ده چې د مدني زده کړو د سږ کال اساسي موضوع مو د اقتصاد پېژندنه ټاکلې ده. د نن ورځې لوست د دې پوښتنې په وړاندې کولو سره چې: ولې د اقتصاد علم زده کوو؟ پیل کوو.

## خبرې پرې وکړئ

انسان پخپل مادي ژوند کې ډېرې اړتیا وې لري. د خپل ژوند د دوام لپاره اړ دی چې دغه اړتیاوې پوره کړي. دغې موضوع ته په پاملرنې سره:

- انسان دغه اړتیاوې څرنګه پوره کوي؟
- د دې اړتیاوو سرچینه څه شی ده؟ څه رنګه کولای شو چې هغه اړتیاوې له منځه یوسو.

د دغو اړتیاوو د پوره کولو سرچینه هغه امکانات دي چې طبیعت د انسان په واک کې ورکړي دي. دغې موضوع ته په پاملرنې سره له دوو مفهومونو چې: د انسان اړتیاوې او سرچینې یا امکانات دي، سره مخامخ کېږو. له دې امله لازمه ده چې هغه وپېژنو؛

## ۱- دانسان اړتیا وې:

د انسان مادي اړتیاوې، هغه د اقتصادي فعالیت لپاره هڅوي. کله کله انسان داسې فکر کوي چې د وخت په تېرېدو سره، د هغه ټولې اړتیاوې پوره کېږي، خو داسې نه ده. په واقعیت کې د هرې اړتیا له تر سره کېدوسره، بله اړتیا را پیدا کېږي او په دې ترتیب سره، د نوې اړتیا له رابرسېره کېدو سره جوخت انسان د خپل ژوندانه د کچې د لوړېدو لپاره زیات فعالیت تر سره کوي. د بېلګې په توګه: ځینې خلك د ژوندانه له ډېرو لومړنیو امکاناتو څخه بې برخې دي. د دوی بنسټیزه اړتیا، استوګنځی دی چې په هغه کې له یخنۍ، ګرمۍ او د ځیروونکو حیواناتو څخه په امان کې وي او یو څه عادي خواړه ولري چې په هغو سره خپله لوږه لرې کړي، خو کله چې دغه اړتیاوې تر سره شوې، نو همدغه انسانان بیا داسې احساس کوي چې د ښه ژوندانه لپاره له دې لوړو او ښو امکاناتو ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه: د پخواني استوګنځي په پرتله ښه او بهتر کور ولري. همدارنګه نورې نوې اړتیاوې ورته پیدا کېږي او دی په ډېر شوق او مینې سره د دغو اړتیاوو په پوره کولو پسې خپل لستوڼي را نغاړي.

❁ د خپلو ټولګیوالو په مرسته د یوې کلیوالې کورنۍ او یوې ښاري کورنۍ د اړتیاوو لست برابر کړئ او بیایې نورو ټولګیوالوته د خپل استازي په واسطه واوروئ.

## ۲- سرچینې او امکانات:

په نړۍ کې د موجودو سرچینو او امکاناتو په هکله چې انسانان له هغو څخه د خپلو اړتیاوو په پوره کولو کې کار اخلي، دوو مهمو ټکو ته اشاره کولای شو. لومړی ټکی دا چې دغه امکانات او سرچینې محدودې دي او د انسان د نامحدودو اړتیا وو د پوره کېدو قدرت نه لري. په دې ترتیب سره انسان له دو ولارو سره مخ کېږي چې یوه یې باید غوره کړي. په واقعیت کې هغه نشي کولای چې خپلې ټولې اړتیاوې له شتو امکاناتو څخه پوره کړي. له دې کبله هغه خپلې هغه اړتیاوې چې د ده په نظر لومړیتوب لري، ترسره کوي. دویم ټکی دا دی چې د انسان په لاس کې موجود امکانات په مختلفو طریقو سره وکارول شي او په دې هکله خپله تصمیم ونیسي.

لکه څرنگه چې وویل شو، د انسان اړتیاوې نامحدودې دي او محدود امکانات او سرچینې د هغو د پوره کولو وس نه لري. دلته پوښتنه پیدا کېږي چې: له سرچینو او امکاناتو څخه د گټې اخیستنې ډېره ښه لار کومه ده چې د انسانانو لپاره د ژوندانه په زړه پورې شرایط برابر کړي؟ په یقین سره ویلی شو چې په زړه پورې لاره داده چې له دغو سرچینو څخه په معقولې گټې اخیستنې سره کولای شو چې زیاته اندازه تولید لاسته راوړو او د انسان د لوړ او ډېرښه ژوند شرایط برابر کړو. انسان د ژوند په اوږدوکې له خپلې فکري قوې څخه په کار اخیستلو سره، تل د یوې ښې لارې د موندلو په لټه کې و. د دغې فکري هڅې لاسته راوړنه، اقتصادي نظر او مفکوره ده. د بشري تمدن له پرمختگ سره جوخت، د بشر اقتصادي مفکورې هم تکامل وکړ او د اقتصاد د علم نوم د بشر د زده کړو یوه برخه وگرځیده.

❁ په سرچینو او امکاناتو کې کوم ټکي مهم دي؟ په لنډه توگه یې بیان کړئ.

### د لوست تکرار

• -----------------------------------------------------------

• -----------------------------------------------------------

• -----------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- استوگنځی ولې د انسانانو لپاره بنسټیزه اړتیا ده؟

۲-د انسانانو په لاس کې د شتو سرچینو نمونه واخلئ؟

۳- له سرچینو او امکاناتو څخه د گټې اخیستنې ډېره ښه لار کومه ده؟

### کورنۍ دنده

د اقتصاد د ښېگڼو په باره کې خو کرښې ولیکئ.

# د اقتصاد علم د کومو موضوعگانو په اړه بحث کوي؟

اَلْاَقْتِصَادُ فِی النَّفَقَةِ نِصفُ الْمَعِیْشَةِ( البیهقي و طبراني).

د خدای رسول فرمايي: په نفقه کې اقتصاد او منځگړی حد ( میانه روي) نیمايي ژوند دی.

په تېر درس کې مو د دې په هکله چې ولې د اقتصاد علم زده کوو، معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې په دې اړه چې د اقتصاد علم د کومو موضوعگانو په باره کې بحث کوي، بلدتیا پیدا کوئ.

## خبرې پرې وکړئ



## آیا پوهېږئ چې د اقتصاد علم څه شی دی؟

اقتصاد د تولید، توزیع او شیزونو د مصرف، شېرنې او څرنګوالی همدارنګه د دې ډول فعالیتونو د پایلو د څېړنې علم دی. د دغې علم موخه انسان ته له خپلو سرچینو او امکاناتو څخه د ښې ګټې اخیستنې لارښوونه ده.

د اقتصاد علم هم د هر بل علم په څېر، د ټاکلو موضوعگانو په اړه بحث کوي، یا په بل عبارت ځانګړو پوښتنو ته د ځواب ورکولو په خاطر، طرحه شوی دی.

د هغو موضوعگانو د پېژندګلوي لپاره چې د اقتصاد علم یې څېړي، د ټولنې د اقتصاد یو ساده انځور په پام کې نیسو: د ټولنې خلک د کورنی په چوکاټ کې د خپلو اړتیاوو د لرې کولو لپاره ځانګړو شیزونو او خدمتونو ته اړتیا لري. دوی د خپلې اړتیاوړ شیزونو او خدمتونو برابرولو او ګټې اخیستنې لپاره پیسې ورکوي. د فابریکو تولید وونکي د ګټې په خاطر، د خلکو د اړتیاوړ شیزونه او خدمتونه تولید او عرضه کوي. دغه شیزونه او خدمتونه بازار ته وړاندې کوي او پلوري یې. کله چې د اقتصاد دغه ساده انځور ته پام وکړو، ګڼ شمېر پوښتنې را سره پیدا کېږي چې له هغې جملې څخه کولای شو لاندې ټکي په ګوته کړو.

- خلک څرنګه د یو څیز د اخیستو او یا نه اخیستو په اړه تصمیم نیسي او څرنګه د هغه څیز اندازه چې باید وایي خلي، ټاکي؟

- تولید وونکي څه ډول د یو څیز د تولید او یا د تولید د کچې په اړه تصمیم نیسي؟

- ولې د ځینو څیزونو اندازه په بازار کې زیاته او ځینې ډېر لږ وي، په سختۍ سره پیدا کېږي؟

- ولې ځینې تولیدي فابریکې زیاته ګټه کوي، ځینې یې تاوان کوي او له ماتې سره مخ کېږي؟

- ولې په ځینو ټولنو کې تولید فوق العاده زیات او په ځینو کې لږ دی؟

- ولې د ځینو هېوادونو د پیسو قیمت ثابت او د ځینو په بدلون کې دی؟

دغه پوښتنې او دغو ته ورته نورې ډېرې پوښتنې د اقتصادي څېړنو په چوکاټ کې صورت نیسي. د اقتصاد علم هڅه کوي چې دغو هرې یوې پوښتنې ته مناسب ځواب پیدا او وړاندې کړي.

په لنډه توګه ویلی شو چې تولید، وېش، راکړه ورکړه، لګښت، د شتمنۍ سیما او پس انداز څېړل او داسې نور د اقتصاد د علم موضوعګانې جوړوي.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- د اقتصاد د علم موضوع ولیکئ.

۲- د اقتصاد علم تعریف کړئ.

۳- د اقتصاد د علم موخه بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

هغه پوښتنې چې د اقتصادي مطالعاتو په چوکاټ کې لوستل کېږي، په خوکرښو کې ولیکئ.

# د اقتصاد اهمیت

په تېر درس کې مو  په دې هکله چې د اقتصاد علم په کومو موضوعگانو باندې بحث کوي، معلومات ترلاسه کړل. په دې لوست کې د اقتصاد له اهمیت سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

## د اقتصاد  اهمیت څه شی دی؟

په اوسنۍ نړۍ کې د اقتصادي مسایلو د ورځ په ورځ زیاتېدونکي اهمیت له لاملونو څخه یو هم د ملتونو د ژوندانه پر ټولو برخو، په ځانګړې توګه پر ټولنیزو، سیاسي او فرهنګي اړخونو د اقتصادي لاملونو اغېز دی.

کوم هېواد چې اقتصادي حالت یې ښه نه وي، د هر اړخيز پرمختګ پر لوري حرکت نه شي کولای او له سیاسي او ټولنیز پلوه له سترو ستونزو مخامخ کېږي.

د اقتصاد د علم اهمیت پدې کې دی چې په اقتصادي مسایلو کې انسان ته ښه او ګټوره لار ورښيي. انساني ټولنې د دغه علم په مرسته کولای شي چې له محدودو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې مناسبې لارې چارې ترلاسه کړي او د غوره او په زړه پورو پایلو په ترلاسه کولو کې ترې کار واخلي.

الله (جل جلاله) پخپل کتاب قرآن کریم کې پدې هکله داسې فرمایلي دي: **وَلاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا** د اسراء سورة ۲۹.

ژباړه: لاسونه دې په خپله غاړه پورې مه بندوه او مه یې ډېر خلاصوه په ټولو خلاصولو سره، چې په دې صورت کې به ملامت کېنې (د شومتیا له مخې) او ستړی به پاتې شې (د ډېر لګښت له مخې).

الله تعالی پدې مبارک آیت کې مسلمانانو ته په اقتصاد او لګښت کې د منځلاریتوب امر کړی دی. بخل یا بخیلي یې بده بللې ده، اسراف او له حده زیات خرڅ او مزې چړچې یې منعه کړېدي.

اسلام د رحمت او عدالت دین دی. د شتمنۍ د ساتنې لپاره یې انډول (توان) په پام کې نیولی او مسلمانانو ته یې لارښوونه کړې چې د کورني لګښت او له اړو خلکو سره په مرسته کولو کې له منځلاریتوب څخه کار واخلي. بخیلي، اسراف او مزې چړچې په اسلام کې جواز نه لري. د اسلام ستر پیغمبر مسلمانان د اقتصاد په لور داسې هڅولي او فرمایي چې: **(مَاعَاَلَ من اقتصد)** هر هغه څوک چې په اقتصاد کې له منځلاریتوب څخه کار واخلي، اړ او محتاج کېږي نه.

اسلام نیستي هغه خطر بولي چې د انسان اعتقادات ګواښوي؛ زموږ ستر پیغمبر پدې اړه داسې فرمایلي دي: (**كاد الفقر آن يكون كفرا**) (**بيهقى**).

ژباړه: فقر یا نیستي انسان کفر ته نږدې کوي.

د اسلام سپېڅلی دین د فقر او نیستۍ د له منځه وړلو او هوسا ژوند ته د رسېدو په لار کې هڅه او هاند ښه بللی دی او هغه څوک چې د خپلې کورنۍ د ژوندانه د ښه کېدو په لار کې کوښښ کوي، د هغه چا غوندې دي، کوم چې د الله (جل جلاله) په لار کې جهاد کوي او د درنښت وړ دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «**من سعى على عيالهِ ففى سبيل الله**» ( **بيهقى**)

ژباړه: څوک چې د خپلې کورنۍ د اړتیاو د پوره کولو لپاره کوښښ کوي هغه داسې دی لکه چې څوک د الله جل جلاله په لاره کې قدم پورته کوي.

- د خپلو ټولګیوالو په مرسته د اقتصاد د اهمیت په اړه یوه څلور کرښیزه مقاله ولیکئ.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- د اقتصاد علم ولې اهمیت لري؟ یو دلیل یې ولیکئ.

۲- د اسلام پیغمبر محمد ﷺ هغه حدیث شریف چې مسلمانان یې په کې اقتصاد ته هڅولي دي له ژباړې سره بیان کړئ.

۳- د غریبئ (فقر) په هکله چې موکوم حدیث شریف لوستلی دی، له ژباړې سره یې ولیکئ.

## کورنۍ دنده

د اقتصاد په اړه د اسلام له نظره څو کرښې معلومات ولیکئ.

# د ځیزونو او خدمتونو اقتصادي مفهوم

( نعم العون علی تقوی الله عزوجل الغنی) (مسند ابن الجعد جزء۱،۲۵۵ مخ)

ژباړه: د الله تعالی د تقوی په حاصلولو کې غنا (شتمنی) ښه مرسته کوونکې ده.

په تېر لوست کې مو د اقتصاد د اهمیت په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې د ځیزونو اوخدمتونو له اقتصادي اهمیت سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

## ځیزونه څه شی دي؟

د انسان ځیني مادي اړتیاوې د هغو محصولاتو او مختلفو توکو د مصرف کولو له لارې تر سره کېږي کوم چې تولید وونکي يې تولیدوي او بازار ته یې عرضه کوي د بېلګې په توګه: انسان خپله خوراکي اړتیا د خوراکي مختلفو توکو د خوړولو له لارې پوره کوي. کتاب، کتابچه، قلم، لباس، د لوبو شیان، توپ، دستکش، کمیس او ډول ډول مېوې، دا واړه ځیزونه دي. په بله ژبه ټول هغه وسایل چې بنسټیزې اړتیاوې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول دفعه کوي، ځیزونه ورته وېل کېږي. د دغو ځیزونو د لاسته راوړو لپاره باید د هغو تولید وونکو او یا عرضه کوونکو ته پیسې ورکړو.

❁ د خپلو ټولګیوالو په مرسته د لسوځیزونو نومونه ولیکئ او نورو زده کوونکو ته یې واوروئ.



## آیا پوهېږئ چې خدمتونه څه شی دی؟

هر هغه څه چې انسان يې په پیسو اخلي او د هغو پواسطه خپله اړتیا پوره کوي، یوازې په فزیکي ځیزونو کې نه خلاصه کېږي. د بېلګې په توګه: انسان زده کړې ته اړتیا لري او د دې اړتیاد لرې کولو لپاره د زده کړې مختلفو کورسونو ته

ورځي او د پیسو په بدل کې د خپلې اړتیا وړ زده کړې ترلاسه کوي.

زده کوونکي د کانکور د ازموینې د تیارې لپاره د الجبر، کیمیا او مثلثاتو د تیاري نیولو کورسونو ته ورځي او د پیسو په بدل کې د خپلې اړتیا وړ زده کړې، زده کوي. په دې مثالونو کې یې د لمس وړشیان نه دي رانیولي، بلکې د هغو پیسو په بدل کې چې ورکړې یې دي، خپله پوهه یې زیاته کړې ده. هغه خدمتونه چې طبیبان یې تر سره کوي، هم له همدې ډلې څخه دي.

د لوست په ټولګي کې د ښوونکو کار او فعالیت، په دولتي ادارو کې د مامورینو کارکول او داسې نورې بیلګې له هغو اقتصادي فعالیتونو څخه دي چې په پایله کې یې د خدمتونو په نامه څیز عرضه کیږي.

❀ د خپلو ټولګیوالو په مرسته د ښارو خدمتونو نومونه لست کړئ او نورو زده کوونکو ته یې واوروئ.

## د لوست تکرار

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

## پوښتنې

۱- کالي څه شی دي؟

۲- د څیزونو او خدمتونو څو بیلګې بیان کړئ.

۳- خدمتونه څه شی دي؟ له مثال سره یې واضح کړئ.

## کورنۍ دنده

هغه څیزونه چې تاسي پخپل کور کې ترې ګټه پورته کوئ، څومره یې زموږ د خپل هیواد او څو مره یې د بهرنیو هیوادونو دي؟ لست یې کړئ.

# مصرفي او پانګه ييز څيزونه

الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا (الکهف: ٤٦)

ژباړه: شتمني او اولاد د دنيا د ژوندانه ښکلا او سينګار دی.

په تېر درس کې مو د څيزونو او خدمتونو د اقتصادي مفهوم په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې د مصرفي، پانګه ييزو، ضروري او تجملي څيزونو سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

### مصرفي او پانګه ييز څيزونه کوم دي؟

هغه څيزونه چې د خرڅلاو په خاطر بازارته وړاندې کېږي، امکان لري چې د مصرف کوونکو له خوا واخيستل شي او په مصرف ورسېږي، يا دا چې نور توليدوونکي د نورو مختلفو څيزونو د توليد لپاره هغه واخلي او ګټه ترې پورته کړي. د بېلګې په ډول: هغه خواړه او کالي چې کورنۍ او د ټولنې خلک يې برابروي او مصرفوي يې، مصرفي څيزونه ورته ويل کېږي.

پانګه ييز څيزونه هغه دي چې د توليد په بهير کې ( د څيزونو د توليد لپاره) په کارول کېږي او په غير مستقيم ډول مصرفېږي. د پانګه ييزو څيزونو له توليد څخه موخه ماشينونه او په وروستۍ پايله کې، مصرف دی.

❁ د خپلو ټولګيوالو په مرسته مصرفي څيزونه له واسطه يې څيزونو سره پرتله کړئ.

## اړين (ضروري) او تجملي څيزونه



هغه څيزونه چې لومړنۍ اړتياوې پوره کوي، لکه: خواړه، کالي، استوګنځی او داسې نور، د اړينو څيزونو په نامه يادېږي.

تجملي څيزونه: هغه ګران او غير ضروري څيزونه، لکه: ګاڼې، لوړبيه موټران، ښکلې ماڼۍ او ډولې کورونه، د سينګار سامانونه او داسې نور... وي.

## د مصارفو هزينه

کله چې له موجودو زيرمو او امکاناتو څخه

چې په مختلفو ډولونو د مصرفولو ورتیا لري یوازې د یوه کار په ترسره کولو کې کار واخلو په واقعیت کې مو له نورو مصرفونو اوهغو پایلو څخه چې له دې لارې ترلاسه کیدای شول، صرف نظر کړی دی. د بېلګې په توګه: که چېرې مو کومه ځمکه د پنبې د کرلو لپاره ځانګړې کړې وي، عملاً مو د هغو غنمو له کرلو څخه چې له دې ځمکې څخه مو ترلاسه کولای شول، صرف نظر کړی دی او یا که چېرې مو خپلې پیسې د پتلون او کمیس لپاره ځانګړې کړې وي، د کتاب، کتابچې له اخیستلو او هغه ګټې څخه چې له هغو مو ترلاسه کولای شوه بې برخې شوي یو. له لاسه وتلي د فرصت مصارف هغه څه را په ګوته کوي چې له هغه څخه مو صرف نظر کړی دی او یا دا چې هغه مو له لاسه ورکړي دي.

د پنبې په مثال کې د پنبې کرلو په هکله پرېکړې سره، د غنمو له حاصل څخه محروم شوي یو، د پنبې کرلو د فرصت مصارف د هغې غنمو په اندازه دي چې له هغو څخه مو صرف نظر کړی دی.

## د لوست تکرار

- --------------------------------------------------------
- --------------------------------------------------------
- --------------------------------------------------------
- --------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- د پنځو مصرفي څیزونو نومونه واخلئ.

۲- ضروري یا اړین څیزونه څه شی دي؟

۳- لازمي او یا هم د لګښت پیسې څه معنا لري؟

## کورنۍ دنده

د پانګه ییزو او تجملي څیزونو په اړه څو کرښې د مثال په وړاندې کولو سره ولیکئ.

# تولید، توزیع او مصرف

**وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى** (النجم: ۳۹)

ژباړه: او دا چې د انسان لپاره هېڅ ګټه نشته بېله هغې څه چې خپله يې کړي وي او د هغې لپاره يې هڅه کړې وي.

په تېر درس کې مو د مصرفي او پانګه ييزو شيزونو په اړه معلومات حاصل کړل. په دې لوست کې د توليد، توزيع او مصرف له اقتصادي اصطلاحګانو سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

لکه څرنګه چې پوهېږئ، انسان ډېر کارونه، د خپلې مادي هوساينې او اړتياوو د پوره کولو لپاره سرته رسوي. د بېلګې په توګه: د خوړو، کاليو، استوګنځي، پيسو او شتمنۍ پيدا کول د مادي هوساينې لپاره ترسره کېږي، له دې کبله:

- آيا کولای شو له هغو سرچينو او امکاناتو څخه چې په طبيعت کې شته، نېغ په نېغه ګټه ترلاسه کړو؟
- دغه سرچينې او د استفادې وړ شيان د چا له خوا، په کوم ځای کې تيارېږي؟

## توليد څه شی دی؟

توليد له هغو فعاليتونو څخه عبارت دی چې په پايله کې د جوړونې، شيزونو او مطلوبو خدمتونو د لاس ته راوړلو لامل ګرځي. توليد د بشر د اړتياوو په پام کې لرلو سره صورت نيسي. د دې لپاره چې وکړای شو د خپلې اړتيا وړشيزونه او خدمتونه له شتو امکاناتو او سرچينو څخه په ګټې اخيستنې سره ترلاسه کړو، کار او زيارته اړتيا لرو. په بل عبارت، دغه سرچينې څرنګه چې دي، نشي کيدای چې په همدې ډول زموږ د استفادې وړ وګرځي او زموږ اړتياوې پوره کړي، بلکې کولای شو چې هغه د يو لړ کارونو او فعاليتونو په سرته رسولو سره د خپلې اړتياوړ شيانو باندې واړوو. دا ډول فعاليتونه چې په سرچينو باندې د اړتياوړ شيانو د بدلېدو لپاره ترسره کېږي، له توليد څخه عبارت دي.

د توليدي فعاليتونو له لارې، د بشري ټولنې د اړتياوړ شيزونه او خدمتونه، ترسره کېږي. کرنيز، صنعتي او کاني محصولات او ورو‌ستني خدمتونه، دا ټول د توليدي فعاليتونو لاسته راوړنه ده.

## وېش څه شی دی؟

وېش د خلکو په منځ کې د ملي عايداتو له تقسيم او هغو ته له سپارلو څخه عبارت دی.

ملي عايدات د اقتصادي شيزونو او خدمتونو هغه مجموعه ده چې په يوه ټاکلې زمانه کې مثلاً: د يو کال په موده کې په يو هېواد کې توليدېږي او په ټوليز ډول هغه د پيسو د معيار له مخې څرګندوي.

په ډېرو هېوادونو کې ډير خلک په هغو ډلو کې شاملېږي چې لږ عايد ترلاسه کوي او لږ

شمېر خلک، په هغو ډلو کې ګډون لري چې زیات عاید لاسته راوړي او د عاید وېش یې نابرابره وي. کله چې د یوې ټولنې د خلکو د هوساینې کچه ټاکو، لازمه ده چې د هغې ټولنې د فقر یا نیستي له وضعي او د هغې د عاید له وېش څخه معلومات لاسته راوړو. څکه په هغه ټولنه کې چې فقر لږ او د عایداتو وېش عادلانه وي، د وګړو هوساینه به یې ډېره وي.

د دې لپاره چې یو څیز د مصرف لپاره تیارشي، کوم پړاوونه باید ووهي؟

## لګښت څه شی دی؟

لګښت د موجودو اسانتیاوو څخه ګټه اخیستل دي چې د اوسنیو او روانو اړتیاوو له رفع کولو څخه عبارت دی: تولید وونکي باید د فابریکې په نامه کوم ځای واخلي او یایې اجاره کړي؛ ماشینونه او نور د اړتیا وړ وسایل او یوه اندازه لومړني مواد واخلي او یو شمېر مامورین او کارګران هم په کار وګماري. هغه پیسې چې تولید وونکي یې د تولید په خاطر لګوي، د تولید لګښت یې بولي. کله چې تولید وونکي د څیزونو او وسایلو عرضه کولو ته تیاری ولري او په بازار کې هغو څیزونو ته تقاضا وي، تقاضا کوونکي د څیزونو په بدل کې د پیسو ورکړې ته چمتو وي، په دې صورت کې ویلی شو چې نوموړي څیزونه او وسایل لګښت ته تیار دي.

❁ د خپلو ټولګیوالو په مرسته د مصرف نور ډولونه بیان کړئ.

### د لوست تکرار

• ---------------------------------------------------------

• ---------------------------------------------------------

• ---------------------------------------------------------

• ---------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- د تولید په واسطه زموږ کومې اړتیاوې پوره کېږي؟

۲-که ملي عایدات په عادلانه توګه توزیع نه شي، څه به پېښ شي؟

۳- لګښت څه شی دی؟

### کورنۍ دنده

تولید، توزیع او لګښت یو له بله سره څه اړیکې لري؟ په دې اړه څو کرښې ولیکئ.

# عرضه او تقاضا

**وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا** ( القصص: ۷۷)

ژباړه: او له دنیا څخه دې هم خپله برخه مه هېروه.

په تېر درس کې مو د تولید، توزیع او مصرف په هکله معلومات حاصل کړل. په دې درس کې د عرضې او تقاضا له اقتصادي اصطلاحاتو سره بلدېږئ.



## تقاضا څه شی دی؟

## خبرې پرې وکړئ

لکه څرنګه چې په تېر درس کې وویل شول، انسان یو اړ موجود دی. دغه اړتیاوې له طبیعت څخه چې یوه خدایي ډالۍ ده، پوره کوي، دلته دا پوښتنې پیدا کېږي چې:

۱- ایا د دغو اړتیاوو د پوره کولو خیزونه او وسایل له کوم زیار پرته په وړیا توګه د انسان لاسته ورځي؟

۲- څه ډول دغه د اړتیا وړ څیزونه او وسایل لاسته راوړای شو؟

که څه هم اړتیا د ټولو اقتصادي فعالیتونو اصلي لامل دی، خو اړتیا په یوازې توګه د اقتصادي ماشینونو څرخونه نشي څرخولی، بلکې مخکې له دې چې تولید پیل شي او شتمنۍ او یا مال لاسته راشي، اړتیا یا غوښتنه باید د تقاضا په شکل را جوته شي.

د اخیستلوواراده، مثلاً: په یو هېواد کې یو میلیون کسه ګړندیو موټروته اړتیا او یا غوښتنه لري، خودګړندیو موټرو تولیدوونکي دومره موټران نه تولید وي بلکې دوی د هغو خلکو د شمېر او تعداد په کچه موټر تولیدوي، کوم چې نو موړی موټرونه هم اخیستلي شي او هم د هغو د اخیستلو اراده ولري.

له دې امله تقاضا **هغه ډول اړتیا یا غوښتنه ده چې د اخیستلو وس ولري او اخیستل یې اراده وي**، نو ویلی شو چې په اقتصاد کې هر کله چې د تقاضا نوم اخیستل کېږي، موخه یې داوي چې اخیستونکي حاضر دي چې د اړتیا وړ شیانو یوه برخه په مناسب قیمت سره واخلي.

**د تقاضا ارتجاعیت**: تقاضا ته هغه وخت ارتجاعي وایي چې د یوه شي په قیمت کې لږ تغییر په بازار کې د تقاضا قوت ته ډېر تغییر ورکړي؛ د بېلګې په توګه: که چېرې د اعلی و ریښمین او یا وړین ټوکر بیه ډېره لوړه شي، د خلکو تقاضا د هغه د اخیستلو لپاره را ټیټېږي او د هغې پر ځای به ارزان بیه ټوکران واخلي. د هغې پر عکس د قیمتونو د ټیټېدو په صورت کې به د هغو د اخیستو لپاره د خلکو تقاضا ډېره شي. نو دا ډول تقاضا ته چې د څیزونو د قیمت د پورته او ښکته تلو په اثر ډېره جګه او ټیټه کېږي، ( ارتجاعي تقاضا) وایي. د دې پرعکس که د یوه څیز د نرخ د زیات ښکته او پورته تللو په اثر د ېېرلو غوښتنه (تقاضا) ډېر توپیر ونه کړي، نو وایي چې غوښتنه ارتجاعي نه ده.

د بېلګې په توګه: دا وړو نرخ که ډېر هم پورته لاړ شي، بیاهم خلك اړ دي چې اوړه وپېري، له دې امله د اوړو د بیې د ډېر جیګېدلو په اثر په غوښتنه کې څه ځانګړی توپیر نه راځي. همدارنګه که د اوړو بیه ډېر ټيټه هم شي، خو خلك د خپلې همغې یوې اندازې څخه زیات نه اخلي.

**عرضه**: عرضه په اقتصاد کې د یوه شیز هغې اندازې ته ویل کېږي چې په یوه وخت او یوه ټاکلي نرخ د پلورلو لپاره تیاروي. لکه څنګه چې ( اړتیا او خواهش) له غوښتنې ( تقاضا) څخه توپیر درلود، عرضه هم ( د شیزونو دغونډولو او برابرولو) څخه توپیر لري، په دې ډول د شیزونو غونډولو ته هغه وخت عرضه وایي چې د هغو خاوند د هغو د پلورلو اراده وکړي.

**د عرضې ارتجاعي والی**:د تقاضا په شان په عرضه کې هم چې کله په بیه کې بدلون راشي، په دې معنا چې نرخ جګ شي، عرضه زیاتېږي. کله چې نرخ را ټیټ شي، عرضه لږېږي. نو دې ته وایي چې عرضه ارتجاعي ده. خو که د نرخ د بدلېدو سره عرضه سمدلاسه توپیرونه کړي، نو عرضه غیر ارتجاعي بولي، لکه اوړه چې په بازارکې یې د بیې په پورته او ښکته تللو سره د هغو عرضه ډېر توپیر نه کوي او اخیستونکي مجبور دی، خپل د اړتیا وړ اوړه اخلي.خو په عمومي ډول د صنعتي ډېرو شیزونو عرضه د هغو د نرخ په بدلیدو سره توپیر کوي. یعنې که بیه یې پورته شي عرضه یې ډیرېږي او که بیه ټيټه شي بازارته یې راوړل لږېږي. خو د اومو او کرنیزو شیزونو عرضه دومره ژر توپیر نه کوي. بلکې د بنسټیز بدلون لپاره یې ډېر وخت ته اړتیا وي.

## د لوست تکرار

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- تقاضا څه شی ده؟

۲-عرضه څه شی ده؟

۳- د عرضې ارتجاعي والی څه شی دی؟

## کورنی دنده

کله چې د شیزونو بیې لوړېږي، عرضه او تقاضا څه حالت ځانته غوره کوي؟

# د پیسو اهمیت او دندې

په تېر درس کې مو د عرضې او تقاضا په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې د پیسو له اهمیت او دندو سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

کله چې تولیدوونکي او توزیع کوونکي خپل تیار شوي څیزونه بازارته وړاندې کوي، موږ څه ډول او د څه شي په بدل کې کولای شو چې د خپلې اړتیاوړ څیزونه تر لاسه کړو؟

## پیسې څه اهمیت لري؟

پیسې هغه وسیله ده چې د مبادلې د واسطې رول لوبوي او په اوسني اقتصاد کې مهم او اساسي نقش لري. د اقتصادي ډګر فعالان، تولیدوونکي او توزیع کوونکي د خپلو هغو خدمتونو په بدل کې چې وړاندې کوي یې، پیسې ترلاسه کوي او مصرف کوونکي د پیسو په ورکړې سره هغه څه چې اړتیا ورته لري، اخلي. له پیسو پرته له پورتنې ذکر شوي ډلې څخه هر یوبې له ستونزو سره مخ کېږي. پیسې د خپل حساس او څرګند نقش په اجرا کولو سره، د اقتصادي فعالیتونو شرایط او د هغو د پراختیا لاره برابروي.

کېدای شي دغه ټکی ستاسې په فکر کې راوګرځي چې د شیانو یو له بل سره د بدلېدو له لارې کولای شو چې راکړه ورکړه ترسره کړو. په دې ترتیب سره په اقتصادي ډګر کې د پیسو موجودیت ته اړتیا نشته. باید دېته پام ولرو چې جنس په جنس راکړه ورکړه له ستونزوسره مل ده؛ د بېلګې په توګه: داسې څوک چې یوه اندازه اضافي غنم لري او غواړي چې هغه په وریژو بدل کړي، باید هغه څوک پیدا کړي چې اضافه وریژې ولري او په ضمن کې دېته حاضروي چې هغه په غنمو بدلې کړي. دغه کار ډېر ستونزمن دی او د پوره کېدو لپاره یې زیات وخت ته اړتیاده. سربېره پردې د ارزښت د سنجولو لپاره کوم معیار وجود نه لري. که څوک وغواړي چې خپلې وریژې له غنمو سره بدلې کړي، نو په بشپړتوګه به نه پوهېږي چې څومره وریجې له څو مره غنمو سره بدلې کړي؟ څرنګه چې د جنس په جنس راکړه ورکړه له ستونزو سره مل ده، نو بشر د هغې ستونزې د له منځه وړلو لپاره پیسې د مبادلې د وسیلې په نامه ، و ټاکلې.

❁ د خپلو ټولګیوالو په مرسته په اقتصادي فعالیتونو کې د پیسو د رول په هکله خپل نظر بیان کړئ.

## د پیسو د دندو په هکله څومره پوهېږئ؟

۱- **پیسې د راکړې ورکړې وسیله**: کله چې یو څوک کوم څیز پلوري، نو د هغې په بدل کې پیسې ترلاسه کوي. د پیسو په وسیله کولای شئ چې د خپلې اړتیا وړڅیزونه واخلئ. خلک پخپلو معاملو او راکړو ورکړو کې پیسې مني، ځکه نور خلک به هم د راکړې ورکړې پر مهال هغه ومني. په راکړه ورکړه کې د پیسو اصلي اغیز، د راکړې ورکړې اسانول دي.

۲- **پیسې د ارزښت د ارزولو وسیله**

د پیسو په وسیله کولای شو د څیزونو ارزښت مشخص کړو؛ د بېلګې په توګه: یو من کچالو په سل افغانۍ، یو من ښې وریژې په درې سوه پنځوس افغانۍ؛ اوس کولای شو د هغوی نسبي ارزښت وسنجوو. د پیسو دغه عمل د مختلفو څیزونو پلورلو او رانیولو کار اسانوي. هر هېواد ځانته د پیسو ځانګړې واحد لري. د بېلګې په توګه: اروپایي هېوادونه ایرو، د امریکا متحده ایالتونه ډالر، زموږ د خپل هېواد د پیسو واحد افغانۍ ده.

## ۳- پیسې د سپما او ارزښت ساتلو وسیله

خلک ډول ډول اړتیاوې لري چې د پیسو په ورکړې سره هغه پوره کوي. ځینې اړتیاوې ورځنۍ وي او ځینې نورې د وخت په تېرېدو سره را منځته کېږي. سرې د تل لپاره یوه اندازه پیسې د هغو د پوره کولو لپاره له ځان سره ساتي. په ورځنیو لګښتونو سربېره ځینې نور نا ځاپي لګښتونه هم شته چې په ځانګړو وختونو کې رامنځته کېږي. خلک له پیسو څخه په مناسب وخت کې د ارزښت ساتلو د وسیلې په نامه ګټه اخلي.

## ۴- پیسې د سمدستي ورکړې وسیله

په هغه صورت کې چې پیسې ارزښت وساتلی شي، کولای شي چې د سمدستي ورکړې لپاره هم مناسبه وسیله شي، ځکه چې ډېرې سوداګریزې معاملې د سمدستي ورکړې په مقابل کې ترسره کېږي. په قسطونو اخیستل او د بانکي حوالو رد او بدل کول له همدې ډول څخه شمېرل کېږي.

- په پورتنیو دندو سربېره، د پیسو په وسیله زموږ نورې کومې اړتیاوې پوره کېږي؟ لیست یې ترتیب او ملګروته یې واوروئ.

### د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- پیسې څه شی دي؟
۲- د پیسو اهمیت بیان کړئ.
۳- د پیسو د دندو یوازې نومونه واخلئ.

### کورنۍ دنده

د پیسود ارزښت سنجولو وسیله څه مفهوم لري؟ په دې هکله خپل معلومات ولیکئ او نورو ته یې واوروئ.

## د لومړي څپرکي لنډیز

- **اقتصاد، د تولید، توزیع او مصرف د څیزونو د مصرف اړوند څېړنې او څرنګوالي علم او همدارنګه د دا ډول فعالیتونو د بررسي، علم دی.**
- **د انسان مادي اړتیاوې، د هغه د اقتصادي فعالیت هڅوونکي دي.**
- **د څیزونو او خدمتونو تولید، د بشر د اړتیاوو په پام کې نیولو په صورت کې عملي کېږي.**
- **په هغه ټولنه کې چې غریبي لږه او د عایدو ویش عادلانه وي، د هغې ټولنې د خلکو ژوند به هوساوي.**
- **مصرف یو مقدار پیسې دي چې باید له لاسه یې ورکړو ترڅو وکولای شو د هغې په بدل کې کوم بل شی لاسته راوړو او یا یې تولید کړو.**
- **تقاضا د جنس اخیستنې له وس لرلو څخه عبارت ده، په داسې حال کې چې د اخیستنې غوښتنه (اراده) هم موجوده وي.**
- **عرضه په اقتصاد کې د څیزونو له هغې اندازې څخه عبارت ده چې په یوه وخت او ټاکلې قیمت سره، خرڅلاوته تیاروي.**

# دویم څپرکی

## (ښووونه او روزنه)

په دغه څپرکي کې لاندې درسونه لولئ:

- ښوونه او روزنه څه ته وايي؟
- په افغانستان کې د ښوونې او روزنې لنډ تاریخ
- په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ رول
- په ښوونه او روزنه کې د مدرسې رول
- په ښوونه او روزنه کې د چاپېریال رول
- اخلاقي او ټولنیز تربیت؛
- د اړینو پوهنیزو او مهارتي موخو زده کول
- د ابتکار د روحیې روزنه

# د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي له لوستلو وروسته په لاندې موضوعگانو پوه شي:

- په ښوونه او روزنه او د هغې په تاریخچه به وپوهیږي؛
- په ښوونه او روزنه کې به د کورنۍ، مدرسې او چاپېریال په رول پوه شي؛
- په اخلاقي، ټولنیزې روزنې او اړینو پوهنیزو او مهارتي موخو به پوه شي؛
- د ابتکار یا نوښت د روحیې روزنه به تشریح کړای شي؛
- ښوونه او روزنه به یو له بله بېل کړای شي؛
- د ښوونې او روزنې تاریخچه به بیان کړای شي؛
- په ښوونه او روزنه باندې د کورنۍ، مدرسې او چاپېریال رول به یو له بل څخه بیل کړای شي؛
- اخلاقي او ټولنیزه روزنه او اړینې پوهنیزې او مهارتي موخې به یو له بله څخه توپیر کړای شي؛
- د نوښت د روحیې روزنه به توضیح کړای شي؛
- له ښوونې او روزنې سره به مینه پیدا کړي؛
- پر ښوونه او روزنه کې به د کورنۍ، مدرسې او چاپېریال د اغیز له پېژندلو سره به مینه پیدا کړي؛
- له اخلاقي او ټولنیزو روزلو، اړینو پوهنیزو او مهارتي موخو په باب به مثبت ذهنیت پیدا کړي؛
- د نوښت د روحیې له روزنې سره به مینه پیدا کړي؛

# ښوونه او روزنه څه ته وايي؟

**يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ** ( المجادله: ۱۱)

ژباړه: خدای تعالی مومنو او د پوهې لرونکو کسانو ته لوړ مقام او درجې وربخښي.

په تېر درس کې مو د پیسو د اهمیت او د هغو د کارونې په هکله معلومات لاسته راوړل. په دې درس کې د ښوونې او روزنې په باره کې معلومات ترلاسه کوئ.



## خبرې پرې وکړئ

- انسان ولې د ژوند د پایښت لپاره ښوونې او روزنې ته اړتیا لري؟
- که چېرې انسان ونه روزل شي، په ژوندکې له کومو ستونزو سره مخامخ کېږي؟

انسان د ژوند د پایښت لپاره ښوونې او روزنې ته اړتیا لري. د هغه لپاره له ښوونې او روزنې څخه پرته بله هېڅ با ارزښته کلمه نشته.

ښوونه او روزنه د بشر د خلقت له پیل څخه له هغه سره ملګرې ده، دلته پوښتنه رامنځته کېږي چې: ښوونه څه ته وايي؟ روزنه څه ته وايي؟

## ښوونه څه ته وايي؟

ښوونه په لغت کې یو چا ته د پوهې او یا مهارت ورزده کولو ته وايي. په اصطلاح کې له هغه هڅې او زیار څخه عبارت ده چې ښوونکي یې زده کوونکو ته د پوهې او معلوماتو د لېږدولو په موخه سرته رسوي یا په بل عبارت: ښوونه د پوهې، مهارت او ذهنیت څخه عبارت دی.

## تربیت یا روزنه څه ته وايي؟

په ټولنه کې د ښې ښوونې او روزنې په موخه د کوچنی چمتو کول او یا په هغه کې د مثبت بدلونونو راوستلو ته روزنه وايي.

راتلونکی نسل باید د اسلام د سپیڅلي دین د لارښوونو په رڼا کې سره داسې وروزل شي چې د دیني ارزښتونو او د عصر او زمان له غوښتونو سره سم خپل خیر او ښېګڼه د اسلام د مقدس دین په رڼا کې ولټوي. د ماشوم شخصیت ته درناوی د اسلامي روزنې له اصولو څخه ګڼل کیږي چې دا چلند د ماشوم په تربیه او روزنه کې ډېره اغیزه لري.

## د ښوونې او روزنې تر منځ توپیر

ښوونه او روزنه د علمي مفهوم له پلوه یو له بله سره نېږدې او یو د بل لازم او ملزوم دي. د خبرو کولو پر مهاله ښوونه پر روزنه باندې لومړیتوب لري خو په عمل کې روزنه لومړنی ده ځکه چې روزنه د پراخې معنا درلودونکې ده، خو د ښوونې کلمه د مفهوم له نظره د روزنې لپاره وسیله ده.

## آیا پوهېږئ چې ولې ښوونې او روزنې ته اړتیا لرو؟

په دې وروستیو کې د ښوونې او روزنې مسایل نه یوازې د هېوادونو مسؤلینو او چارواکو د پام وړ گرځیدلي، بلکې هرڅومره چې وخت تېرېږي، د ټولنیزې، فرهنگي او اقتصادي پراختیا په برخو کې د نوي ښوونې او روزنې اغېزې راښکاره کېږي.

بې سوادي او په زده کړه کې نیمگړتیاوې اقتصادي وده ورو کوي او د ټولنیز پرمختگ پر وړاندې خنډ گرځي. نو ویلی شو چې ښوونې او روزنې ته ډېره اړتیا ده، ترڅو د هغې په رڼا کې بشري ټولنې وکړای شي چې خپلې سیاسي، فرهنگي ټولنیزې او اقتصادي اړتیاوې په ښه توگه پوره کړي. همدا لامل دی چې د اسلام سپیڅلي دین نارینه او ښځې د علم زده کړې ته هڅولي دي، آن تر دې که زده کړه په چین کې هم وي، په اسلام کې زده کړه له زانگو څخه تر لحده پورې ده. د ښوونې او روزنې مسئله د انساني نسل له لوړو معیارونو څخه گڼل کېږي او هغه انسان چې له علم او پوهې څخه برخمن وي، له لوړ مقام څخه هم برخمن وي، تردې پورې چې د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ په یوه حدیث کې پوه او عالم سړي ته پر عابد باندې زر ځله ترجیح ورکړې ده.په دې اساس پر ټولو لازمه ده چې د علم او پوهې د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې وکړو.

### د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- ښوونه څه ته وایي؟
۲-روزنه څه ته وایي؟
۳- د ښوونې او روزنې ترمنځ توپیر څه شی دی؟
٤- د حضرت پیغمبر ﷺ یو حدیث شریف د علم په باره کې بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

د اسلام له نظره د علم په اړه درې کرښې ولیکئ.

# په افغانستان کې د ښوونې او روزنې لنډ تاریخ

په تېر درس کې مو د ښوونې او روزنې د ماهیت او هغو ته د انسان د اړتیاوو د لاملونو په اړه معلومات حاصل کړل. په دې درس کې په افغانستان کې د ښوونې او روزنې له تاریخچې سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

زموږ په هېواد کې ښوونه او روزنه څه وخت پیل شوه؟

زموږ گران هېواد چې پخوا د آریانا په نامه، په اسلامي دوره کې د خراسان او په نولسمه پېړۍ کې د افغانستان په نامه نومول شوی دی، د علم او تمدن زانگو وه. د اسلام د سپیڅلي دین له ځرگندېدو د مخه په پخوانۍ آریانا کې ویدي دود او دستور او بیا را وروسته د اوستا مدنیت رواج درلود. هغه مهال ښوونه او روزنه محدوده وه. په عبادت ځایونو کې به د محدودې ډلې لپاره تدریس کېده. کله چې زموږ خلک د اسلام په سپیڅلي دین مشرف شول، زده کړه ټولیزه شوه او ټولو خلکو کولای شول چې علم زده کړي. کوچنیانو ته به جوماتونو کې د دیني عالمانو له خوا لوست ورکول کېده. درسي کړۍ په جوماتونو کې په کوچنۍ او لویه کچه جوړېدې. په هر جومات کې له یوې څخه نیولې تر ډېر شو پورې درسي کړۍ جوړېدې . په هره درسي کړۍ کې ځانگړې موضوعگانې تدریس کېدې.د جوماتونو ترڅنگ مختلفې مدرسې جوړېدې او زده کوونکو د خپلې زمانې متداولې زده کړې د استادانو او پوهنې د کار پوهانو له خوا زده کولې. د څوېږیو په اوږدو کې د هرات، بلخ، غزني، بُست او کابل ښارونه د پوهې او پوهانو د مرکزونو په توگه پېژندل کېدل او ډېر لوی لوی پوهان لکه: امام رازي، ملا علي قاري، ابن سینا، جلال الدین بلخي اونورو پکې زده کړې کړې دي.

- د خپلو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او ترې وپوښتی چې: ستاسې په جوماتونو کې د علم طالبانو ته کوم ډول موضوعات تدریس کېږي؟ له لست کولو وروسته یې خپلو ټولگیوالو ته بیان کړئ.

## آیا پوهېږئ چې مدرسې څه وخت په افغانستان کې جوړې شوې؟

د امیر شیرعلي خان په زمانه کې دوه ښوونځي په نوي ډول یویې ملکي او بل یې پوځي، جوړشول.
ملکي ښوونځی د کابل په بالاحصار کې پرانیستل شو چې په هغه کې د امرانو او لویانو او لادونو درس وایه.
حربیه یا پوځي ښوونځی د کابل په شیر پور کې پرانیستل شو.

د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کې د چوب فروشي بازار په جومات کې یوه مدرسه جوړه شوه چې په هغه کې فقه او نور مضمونونه تدریس کېدل.

د امیر حبیب الله خان په زمانه ۱۲۸۲لمریز کال کې چې له ۱۹۰۳ زیږدیز کال سره سمون خوري، هغه ښوونځي چې درې درجې ( ابتدایي، رشدیه او اعدادیه) یې درلودې، پرانیستل شول. وروسته په ۱۲۸۷ لمریز کال کې چې له ۱۹۰۹زیږدیز کال سره سمون خوري، حربیه ښوونځی چې درې اعدادیه ټولگي او درې

پوځي ټولګي يې درلودل، پرانيستل شول او مختلف مضمونونه پکې تدريس کېدل.

په ۱۲۹۶لمريز کال کې چې له ۱۹۱۸زېږديز کال سره سمون خوري، يو طبي ښوونځی پرانيستل شو. د دغه ښوونځي پروګرام په عملي او نظري دواړو طريقو ترسره کېده. د امان الله خان، محمدنادر خان او محمد ظاهر شاه په پاچاهيو کې په مرکز او د هېواد په ګوټ ګوټ کې د نجونو او هلکانو لپاره ښوونځي او پوهنتونونه جوړشول چې له معياري او مرکزي تعليمي نصاب څخه يې کار اخيسته.

د محمد داود خان د جمهوريت په وخت کې تعليمي مؤسسو پراختيا مونده او د وخت له غوښتنو سره سم تعليمي نصاب ورته برابر شو.

له ۱۳۵۷ لمريز کال نه تر ۱۳۸۱ لمريز کال پورې کوم سياسي رژيمونه چې واکمنی ته رسيدلي، له خپلې پاليسۍ سره سم يې په تعليمي نصاب کې بدلونونه راوستي دي. په وروستيو لسوکلونو کې د ښوونې او روزنې په ډګر کې آغېزمن ګامونه اخيستل شوي لکه: واحد او مرکزي تعليمي نصاب چې موخه يې په ښوونځيو کې د زده کړې د ښو شرايطو برابرول دي.

- د خپلو ټولګيوالو په مرسته د نوي تعليمي نصاب د موخو، طرحې او تدوين په اړه معلومات ورکړئ.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- په جوماتونو کې کوچنيانو ته د تدريس ډول څرنګه و؟ بيان يې کړئ.

۲- د امير حبيب الله خان په زمانه کې کوم ښوونځي جوړ شويدي؟ يوازې نومونه يې واخلئ.

۳- د نوي تعليمي نصاب په جوړېدو د زده کړې لپاره څه ډول شرايط برابر شويدي؟

## کورنۍ دنده

د نوي تعليمي نصاب په اړه خپل معلومات وليکئ.

# په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ رول

په تېر درس کې مو په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د تاریخچې په اړه معلومات حاصل کړل. په دې درس کې په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ د رول په هکله بلدتیا پیدا کوئ.

## خبرې پرې وکړئ



کورنۍ له ټولنیزو بنسټونوڅخه یوبنسټ دی چې د ټولنیز ژوند بنسټ ګڼل کېږي. په کورنۍ کې د ماشومانو په پیداکېدو سربېره څینې نورې دندې لکه: اقتصادي، ټولنیز فعالیتونه او د کوچنیانو روزنه هم ترسره کېږي. دلته پوښتنه مطرح کېږي چې:

## په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ رول څه شی دی؟

پر کوچنیانو د کورنۍ اغېز زښت ډېر دی او ویلی شو چې د کوچني د زده کړو او شخصیت بنسټ په کورنۍ کې اېښودل شوی دی. له همدې امله ده چې کورنۍ تربیه د کوچني په ژوندانه کې ځانګړی مقام لري. کوچنی د ژوند کولو لومړني اسباب او طریقې په کورنۍ کې زده کوي، آن ویلی شو چې د کوچني اعتقادي بنسټ په کورنۍ کې جوړېږي حضرت پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

**(کُلُّ مَوْلُوْدٍ یُوْلَدُعَلَی فِطْرَةٍ الاسلام فَاَبَوَاهُ یَهوِّدَانِهِ أَوْ یُنَصّرَانِهِ أَوْ یمَجِّسَانِهِ)** رواه البخاري/ فتح الباري دریم جلد شلم مخ.

ژباړه: هر نوی زېږېدلی ماشوم د اسلام په فطرت سره پیدا کېږي.وروسته مور او پلار یې له هغه څخه یهودي، نصراني او یا مجوسي جوړوي.

کورنۍ د اخلاقي ښېګڼې بنسټ ږدي، څکه چې هغه اخلاقي ارزښتونه، له رښتیا سره مینه، له دروغو نه کرکه او له خپل همرنګ سره مرسته، همکاري او په پای کې له ښیګڼو او نېکیو سره مینه او د ناوړو او ټیټو کارونو خلاف مبارزه، له کورنۍ چاپېریال څخه زده کوي.

په ماشوم کې ذهني قوه د الفاظو، د داستانونو او پېښو د اورېدو له لارې او یا د لیدو کتو طریقه لکه د کتابونو، مجلو، ورځپاڼو کتل او کوچني ته د منطقي او قانع کوونکو ځوابونو

د ورکولو له لارې را پيدا کېږي، چې دغه ټول ياد شوي موضوعات د کوچني د ودې، مينې او علاقې جوړوونکي دي.

**❁ په پورتنيو يادو شوو موضوعګانو سربېره نور کوم مطلبونه د اخلاقي ښېګڼو بنسټ جوړوي؟ لست يې کړئ.**

کورنۍ د ټولنې د بنسټيز واحد په توګه د ټولنې د ترقي او پرمختګ په بهيرکې جوړوونکی اغېز لري. د ټولنې د سلامتيا کچه د کورنۍ د سلامتيا له کچې سره مستقيمه اړيکه لري، د اختلافونو او ناخوالو د پېښېدو ډېر لاملونه له شرعي او قانوني اصولو څخه د بې خبرۍ، ښوونې او روزنې د ټيټې کچې يا بېسوادۍ څخه را پورته کېږي.

لنډه دا چې کورنۍ د ماشوم په ژوندکې بنسټيز رول لري. کورنۍ ده چې ماشوم ته د علم د زده کړې او فکرکولو لارې چارې ورښيي، ماشوم په کورنۍ کې ګډ ژوند، اخلاقي پو خوالي او د کمال پړاو ته رسېدل زده کوي.

## د لوست تکرار

- -----------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-هغه مبارک حديث چې د کورنۍ د اغېز په اړه مولوستلي دی، بيان يې کړئ؟

۲-د زده کوونکي ذهني قوه له کومې لارې څخه په هغه کې هڅول کېږي؟

۳- کورنۍ د اساسي واحد په توګه په ټولنه کې کوم رولونه لوبوي؟

## کورنۍ دنده

پر ښوونه او روزنه د کورنۍ د رول په باب خپل نظر په دريو کرښو کې وليکئ.

# په ښوونه او روزنه کې د مدرسې ونډه

په تېر درس کې مو په ښوونه او روزنه کې د کورنۍ د رول په باب معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې په ښوونه او روزنه کې د مدرسې له اغېزې سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

مور، ولې په مدرسه کې شاملېږو او هلته کوم شیان زده کوو او د کومو شیانو سره نوي بلدېږو؟



مدرسه د ښوونې او روزنې له مؤسسې یا بنسټ څخه عبارت ده چې په شعوري ډول د ټولنې د راتلونکي نسل روزنه او ټولنیز کېدل یعنې وګړنیز کولو دنده ور د غاړې ده.

دلته پوښتنه پیداکېږي چې: په ښوونه او روزنه کې د مدرسې اغېزه څه ده؟

مدرسه له کورنۍ وروسته، د زده کړې هغه لومړنۍ واحد دی چې کوچنیان هلته د زده کړې لپاره ځي او له یوې لویې ټولنې سره بلدېږي. په مدرسه کې هم لکه نور ټولنیز نظامونه، سلسله مراتب، د دندو وېش، مسؤولیت منښه، د خپل ځان او نورو اداره کول، اړیکې او همغږي وجود لري.

همدارنګه په مدرسه کې زده کوونکي د عمر له مخې ډلې، ډلې په ټولګیو کې تنظیمېږي او په ځینو دندو او مسؤلیتونو کې لکه:

د مدرسې د مقرراتو رعایتول او په هنري، سپورټي فعالیتونو او علمي کنفرانسونو او انجمنونو کې برخه اخلي، د زده کوونکو انجمن د دوي ستونزې د ښوونکو په واسطه حل کوي.

په مدرسه کې مختلف مضمونونه لکه: دیني علوم، ژبې، ساینس، ټولنیز علوم او داسې نور د زده کوونکو د پوهې د کچې د لوړېدو لپاره تدریس کېږي.

له دې کبله ویلی شو چې مدرسه هغه ځای دی چې د کوچنیانو د روزنې او په ټولنیزو فعالیتونو کې د برخې اخیستو لپاره پرانیستل شوی دی. په واقعیت کې مدرسه هغه هینداره ده چې د ټولنې د ټولنیز نظام ځانګړتیاوې پخپل ځان کې انځوروي.

لکه څرنګه چې مدرسه ټولنې ته د خدمت کولو، د پوهې او شعور د لوړولو لپاره کوښښ کوي، موږ هم باید ځینې دندې او مسؤولیتونه په غاړه واخلو او په ښه ډول یې ترسره کړو. د مدرسې لایحې او مقررات رعایت کړو؛ د خپلو ښوونکو پندونو او خبروته غوږ ونیسو؛ خپلې درسي ستونزې د مهربانو استادانو په مرسته حل کړو؛ مدرسه د خپل کور په څېر وګڼو، د درسي ټولګیو، میزونو، څوکیو او دِ ښوونځي د چاپېریال په پاک ساتلو کې هڅه او هاند وکړو.

❁ پر پورتنیو موضوعګانو سربېره، تاسو د مدرسې په وړاندې نور کوم مسؤولیتونه لرئ؟ لست یې کړئ.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- مدرسه څه شی دی؟

۲- د زده کوونکو دنده د مدرسې په وړاندې څه ده؟

۳- په مدرسه کې کوم مضمونونه لوستل کېږي؟ بیان یې کړئ.

## کورنی دنده

د هغو مسؤولیتونو او دندو په اړه چې په مدرسه کې یې لرئ، څو کرښې معلومات ولیکئ.

# په ښوونه او روزنه کې د چاپېریال اغېزه

په تېر درس کې مو په ښوونه او روزنه کې د مدرسې د رول په اړه معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې په ښوونه او روزنه کې د استوګنې د چاپېریال له رول سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

**ایا له مدرسې او کورنۍ پرته کوم بل عامل شته چې د کوچني په ښوونه او روزنه کې اغېزمن وي؟**

هغه څه چې له کوچني څخه یې په راتلونکي کې طمعه کوو، باید چې نیالګی یې په کورنۍ کې کېنوو، اوبه ورکړو او پالنه یې وکړو. لکه چې په لاندې شعرکې دا خبره ښه څرګندېږي.

**لنده لښته هـره خوا باندې تاوېږي چې شي وچه تاوېدل یې ماتېدل دي.**
**انسان هم که وړکتوب کې په لارنه شي زلمیتوب کې ماتول یې رنځېدل دي**

سربېره په کورنۍ، ماشومان باید له ټولنې سره هم اړیکه ولري. هغه ماشومان چې د کورنۍ په چاپېریال کې د دا ډول رول لوبولو لپاره تیارېږي، ورو ورو د ټولنیزو سترو دندو د ترسره کولو لپاره هم تیارېږي او د ټولنې له نورو وګړو سره د مرستې او خوا خوږې روحیه پکې پیدا کېږي.

هغه همزولي کوچنیان چې له کورنۍ څخه د باندې له نورو سره په اړیکه کې وي، زیات اغېز وربادې کوي. کوچنیان باید د خپلو ملګرو په ټاکلو کې له پوهې او پېژندګلوۍ څخه کار واخلي. هېڅکله هم د بدو انسانانو په پله پل کېښېږدي او له ناوړو فکرونو، عملونو او نظریو څخه یې پیروي و نه کړي. د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ دې ټکي ته پام کړی او خپل لارویان یې دې مهم ټکي ته ځیر کړی دي لکه: چې فرمایي: «هر کس په دین او د ژوند پر چاپېریال کې د خپل دوست پر لاره وي، ځکه ستاسو د ټولو باید دې ته پام وي چې د کوم سړي سره د دوستی او ملګرتیا ژمنه تینګوئ؟».

چاپېریال د کوچني پر ژوند ډېر اغېز کوي. له دې کبله هغه ټولنیز مراسم او ټولنیز پروګرامونه چې د هغو د ترسره کېدو په پایله کې د همغې سیمې یو زیات شمېر خلک سره را غونډېږي، د کوچني پر شخصیت هم اغېز کوي.

* **خپلو ټولګیوالو په مرسته په خپل شخصي ژوند باندې د چاپېریال اغیزې بیان کړئ.**

آیا چاپېریال یا استوګنځي کېدای شي چې د کوچني په زده کړه کې یو اغېزمن عامل شي؟

د هغو څېړنو او مطالعاتو له مخې چې څېړونکو ترسره کړې دي، څرګندېږي چې د کورنۍ د استوګنې ځای نه یوازې دا چې د کوچني د بریالیتوب پر کچه باندې اغېزکوي، بلکې د هغه د فکر په زیاتوالي، شخصیت او اخلاقي ځانګړتیاوو، د خبرو کولو په طریقه، اعتقاداتو، نظریو، غوښتنو، احساساتو او عواطفو، ... چې کوچني به یې په راتلونکي کې خوښ کړي، ډېر اغېزمن دی.

امکان لري چې د یوه هېواد د لویو او کوچنیو ښارونو او نورو مختلفو سیمو زده کوونکو او محصلانو ترمنځ د زده کړې د بریا په کچه کې ډېر تفاوت وي.

همدارنګه د مور او پلار د تحصیل درجه، کار او طبقاتي دریځ، د کوچنیانو په زده کړه او روزنه باندې ډېره اغېزه لري.

* ایا د کلي او ښار د زده کوونکو په زده کړه کې د بریا په هکله توپیرونه موجود دي؟ په دې اړه خپل نظر څرګند کړئ.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-کوچنیان له کومې لارې له چاپېریال سره اړیکه پیداکوي؟

۲- کله چې یو دوست ځانته غوره کوو، کوم صفتونه باید ولري؟

۳- ایا د مور او پلار د زده کړې درجه د کوچنیانو د زده کړې په بریا اغېز لري؟

## کورنۍ دنده

د ښه دوست صفتونه فهرست کړئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

# ښوونیزه او اخلاقي روزنه

**وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً** ( البقره: ۸۳)

ژباړه: او خلکوته نېکې خبرې وکړئ.

په تېر درس کې په ښوونه او روزنه باندې د چاپېریال په رول وپوهېدئ. په دې درس کې له ښوونیز او اخلاقي تربیت سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

- کوچنیان مخکې له دې چې په مدرسه او ښوونځي کې تربیه کړو، چېرته تربیه کېږي؟
- ایاکولی شئ ځینې هغه ښوونیز او اخلاقي اصول چې په کورنۍ کې یې زده کوي، نوم واخلئ؟

زموږ د ښوونیزو مهمومسایلو له جملې څخه یوه یې هم په کور کې د کوچنیانو روزنه ده. اولاد مخکې له دې چې په مدرسه او ښوونځي کې وروزل شي، کور او کورنۍ یې روزي. موږ پخپله کورنۍ کې هم د مور، پلار او ورونو له خولې څخه په زره پورې نصیحتونه اورېدلي دي. دوی موږ د ښوعملونو د ترسره کولو په مقابل کې نازولي یو او د ناوړو کارونو په کولو سره یې ترټلي یو. دغه نازول او ترټل د دې لپاره وي چې له کوچنیوالي څخه د اخلاقي قواعدو لاروي واوسو، ځکه چې میندې او پلرونه زموږ خیرښېګڼه غواړي او دېته پام کوي چې له همغه کوچنیوالي څخه سم او صحیح تربیه شو.

کله چې په کور کې د مور او پلار، خویندو او ورونو ترڅنګ ژوند کوو، ځینې اخلاقي او ښوونیز اصول د کورنۍ لویان موږ ته زده کوي. د بېلګې په توګه: تاسې ته وایي هغه وخت چې کورته ننوځئ، سلام واچوئ، د خپلې مور، پلار، د مشروخویندو او ورونو درناوی وکړئ: د ډوډۍ خوړلو پر مهال خپل لاسونه ومینځئ، خو کله چې تاسې ښوونځي او مدرسې ته ځئ، له نوو ښوونیزو شرایطوسره مخ کېږئ. له داسې نوو کسانو سره مخ کېږئ چې د مخه مونه وو لیدلي او نه یې هم پېژنئ. د بېلګې په توګه: ښوونکي، سر ښوونکي ، د ښوونځي مدیر او داسې نور. تاسې په مدرسه او ښوونځي کې دا باید زده کړئ چې له هغو کسانو سره چې په دغو دندو او مقامونو کې کار کوي، څه ډول راشه درشه وکړئ.تاسې ورو ورو دا زده کوئ چې باید له قانون او مقرراتو څخه اطاعت وکړئ، هم زده کوئ چې څه ډول د ښوونځي نظم او مقررات مراعات کړئ. څه ډول له دغو مقرراتو سره ځانونه روږدي کړئ، څرنګه له مدیر، ښوونکي او ټولګیوالو سره مرسته وکړئ. له پورته ویل شوو خبرو څخه دې پایلې ته رسېږو چې په ښوونځي او مدرسه کې له درس ویلو څخه اصلي مقصد دا دي چې له یو پلوه علم او پوهه زده کړئ او له بله پلوه ښه او سالم تربیه شئ، تدریس او اخلاقي قواعد رعایت کړئ.

زموږ ښاغلو ښوونکو هر یوه د تدریس پر مهال تل موږ ته د اخلاقي قواعدو خبرې کړې دي، موږ یې د ښوکارونو کولو ته هڅولي یو او له ناوړو کارونو څخه یې منع کړي یو چې د استادانو

د ښو لارښوونو له برکته په ډېرو اخلاقي رازونو باندې پوه شوي يو. د بېلګې په ډول: پر دې پوه شوي يوو چې صداقت او رښتينولي ښه ده. صادق او رښتينی سړی د درناوي وړوي. پرعکس دروغ يو ناوړه عمل دی، دروغجن سړی د خلکو په نزد بې قدره او بې اعتباره وي لکه چې په لاندې شعر کې راغلي دي.

**که يوټکی د توحيد غواړې چې يادکړې**

**د وړو ښـوونځي کې ياده الفبا کړه.**

په ټولنيز ژوند کې که چېرې انساني اداب رعايت شي، ژوند به له يو مخه مينه او ګرانښت وګرځي، بغض او کينه به خپل ځای مينې او مبحت ته خوشی کړي. د مطلب حقيقت په دې کې دی چې ترڅو د انسانانو ترمنځ اړيکې د متقابل درناوی پر بنسټ ټينګې نشي، له ژوندانه څخه خوند نه اخېستل کېږي او هغه ژوند به انساني ښه ونه لري.

د اسلام په اخلاقي ښوونو کې، د ادب او درناوي ساتنه د يوه مسلمان سړي له حتمي دندو څخه ده. د احترام ساتنه، يووالی او بشر پالنه په ټولنه کې د خلکو ترمنځ د بغض او کينې د مخنيوي لامل ګرځي. رښتينی مسلمان ښه فکر کوي، ښې خبرې کوي او په ادب سره غږېږي، چې د هغه د دين لارښوونې دي. ښه خبره، د ښه تربيت اونيکو اخلاقو ميوه ده. له ښو اخلاقو څخه ښه دوستان لاسته راځي چې په ټولنيز ژوند کې لويه معنوي پانګه ده.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-په مدرسه او ښوونځي کې په علم او پوهې سرېبره، نور څه شيان زده کوئ؟

۲- نيک کلام څه شی دی او زموږ په ژوندانه کې څه ارزښت لري؟

۳- که چېرې په ټولنيز ژوندانه کې اخلاق او انساني اداب رعايت نشي، څه به پېښ شي؟

## کورنی دنده

د ښه تربيت او نيکو اخلاقو په اړه يوه مقاله وليکئ چې له شپږو کرښو څخه لږه نه وي.

# د اړینو پوهو او مهارتونو زده کول

**مَنْ خَرَجَ فِیْ طَلَبَ الْعِلْمِ فَهُوَ فِیْ سَبِیلِ اللهِ حَتّٰی یَرْجِعَ** (ترمذي)

ژباړه: څوک چې د علم په زده کړه پسې ووزي، ترڅو پورې چې بېرته راګرځي، ټول کارونه يې د خدای (جَلَّ جَلاٰلُه) په لارکې حسابيږي.

په ړومبني درس کې مو په ښوونه او روزنه کې د چاپېريال د رول په هکله معلومات ترلاسه کړل. په دې درس کې د اړينو پوهو او مهارتونو له زده کړې سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

لاندې پوښتنې په ځير ولولئ او بيا ځواب ورکړئ

- ستاسې په نظر، زده کوونکي په ښوونځي کې کوم، کوم شيان زده کوي؟
- څرنګه کولای شو چې د ژوند پوهې او وړتياوې زده کړو؟

## زده کړه څه ته وايي؟

زده کړه يوازې د کتاب د محتوياتو حفظ کول نه، بلکې د هغو زده کول او له هغو څخه ګټه پورته کول، د زده کړې موخه ده. کله چې په يوه درس باندې پوه شوئ، ذهن ته مووسپارلو او له هغه څخه مو په ژوند کې ګټه واخيستلای شوه، پوهې صورت نيولی دئ.يا دا چې هغې ته پوهه ويل کېږي.

## پوهه څه ته وايي؟

پوهه د حقيقتونو پېژندنه او د نظر يو او مفاهيمو پوهېدنه ده.د بېلګې په توګه: احمد شاه بابا د افغانستان يو ملي زعيم او مقتدر پاچاو. کابل د افغانستان پلازمېنه ده: دغه حقيقتونه دي. که چېرې دغه پوهه د مفاهيمو په عمومي نظريه کې هم موجوده وي د مثال په ډول:

د شپې او ورځې د دلايلو پوهه، د اسم او فعل د ګرامري توپير پوهه. دا ډول پوهه، ساده پوهه نه، بلکې مفاهيم دي.

- د خپلوټولګيوالو په مرسته د پوهې يو څو نمونې لست کړئ او نوروته يې واوروئ.

## آيا پوهېږئ چې وړتيا يا مهارت څه شی دی؟

د يوه کار ترسره کولو قابليت ته وړتيا وايي. وړتيا په دوه ډوله ده:

۱- **فزيکي وړتيا لکه**: د رياضي په مضمون کې د شمېرلو په اړه وړتيا، د يوې ښې مقالې د ليکلو وړتيا يا قابليت او د يوې موضوع په هکله د يوه منطقي بحث کولو وړتيا.

۲- **ذهني وړتيا لکه**: توپيرکول، پرتله کول او قضاوت کول؛

## ذهنيت يا طرز تلقي څه شی دی؟

د مهمواو معنا لرونکو مسايلو په اړه احساس لکه: د ادب او مرستې زده کړه د پوهې له لارې. همدارنګه زغم،

ځیرنه، د نورو د احساساتو پر وړاندې د حساسیت درلودل او په ماشومانو باندې مهرباني کول، په فکر کې له مثبت بدلون څخه استازیتوب کوي.

ټول پوهېږو چې د کوچنیانو او نویو ځوانانو د ښوونې او روزنې د ودې لپاره د ټولنې د اړتیاوړ ځانګړې پروګرامونه ضروري دي.

د انسانانو اوسنی ژوند د تېرو پېړیو د انسانانو د ژوندانه په پرتله ډېر پېچلی دی. هغه څوک چې غواړي په نننی نړۍ کې بریالی ژوند ولري، باید اړینې پوهې او وړتیاوې لکه: دیني زده کړې، کیمیا، ریاضي، تاریخ، جغرافیه، ژبه، او ټولنیزې چارې زده کړي.

ښوونځی هغه ځای دی چې زده کوونکي پکې پوهه، وړتیاوې او مثبتې زده کړې زده کوي، ترڅو د خپل ځان لپاره بریالي انسانان او د خپلې ټولنې لپاره ګټور غړي وګرځي. له دې کبله موږ ټولو ته لازمه ده چې زموږ د ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ په دغه حدیث شریف کې چې فرمایلي یې دي:

(**طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ**) **ژباړه**: د علم زده کړه پر هر مسلمان باندې فرض ده).

عمل وکړو او کوښښ وکړو ترڅو پوهې، وړتیاوې او د تلقي طرز او اړین معلومات زده کړو. له هغو څخه پخپلو ورځنیو چارو کې ګټه واخلو او د خپلې ټولنې لپاره د ډېرو خدمتونو مصدر وګرځو.

- د خپلوټولګیوالو په مرسته د زده کړې د ځو مثبتو پایلو نومونه ولیکئ او نوروته یې بیان کړئ.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-زده کړه څه شی ده؟

۲- پوهه یا دانش څه شی دئ؟

۳- وړتیا څه شی ده؟

## کورنۍ دنده

د اسلام له نظره د علم په اړه څلور کرښې مقاله ولیکئ.

# د نوښت د روحیې روزنه

په تېر لوست کې له پوهې او ورتیاوو سره بلد شوی. په دې درس کې د نوښت د روحیې له روزنې سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ



۱- هغه وخت چې په کورنۍ کې یې د خپلې کورنۍ له غړوسره تېروئ او له هغو سره د کور په کارونو کې مرسته کوئ، او هغه وخت چې په ښوونځي کې یاست، درس لولئ. د خپل ښوونکي پوښتنو ته سم ځوابونه ورکوئ؛ او د ښوونځي مقررات عملي کوئ، آیا دغو ټولو کارونو ته چې ترسره کوئ یې، نوښت ویلی شو؟ د دې پوښتنې ځواب په دې درس کې چې د نوښت په تعریف سره یې پیل کوو، پیدا کولی شئ.

## نوښت څه ته وایي؟

ابتکار یا نوښت په لغت کې د یو عمل د ترسره کولو یا د یوې بې سابقه حل لارې پیدا کولو او یا د یوې نوې طریقې څخه کار اخیستلو او استعمالولو ته ویل کېږي.

د نوښت د روحیې په روزنه کې باید کوښښ وشي ترڅو زده کوونکي د خپلو ستونزو د حل لارې د موندلو د لوری پرخوا وهڅول او وستایل شي ترڅو فردي فکر کولو ته یې پام واړول شي. وروسته له هغوی څخه پوښتنه وشي او پرې یې بردې چې خپل نظریات د رسم کولو، لیکلو او یا د رول بازي کولو په واسطه څرګند کړي. همدارنګه د سؤالونو د ورکولو له لارې، زده کوونکي د خپلو ستونزو د حل کولولار پیدا کوي. له کلمو او عددونو څخه د ګټې اخیستلو طریقه پیدا کوي او د افغانستان او نورو هېوادونو تاریخي او جغرافیاوي لاملونه درک کوي. هغه

زده کوونکي چې سم ځوابونه یې ورکړي وي د هغوی ځوابونه دې په ځیر سره وکتل شي او کومو زده کوونکو چې سم ځوابونه ورکړي وي د شاباش او آفرین په ویلو سره دې وستایل شي.

دغه د آفرین او شاباش کلمې د دې لامل ګرځي چې دغه د بریالیتوب روحیه چې د زده کوونکو د نوښت پر روحیه ډېر اغېز ولري، د ژوند تر پایه پاتې شي. زده کوونکي باید وهڅول شي ترڅو له خپلو فکرونو او تصورونو څخه ګټه واخلي او له هغو څخه کیسې (قصې) ولیکي او انځورونه وکاږي.

- ستاسې په آند: په اوسنۍ زمانه کې ښوونه او روزنه د ځلمیانو او کوچنیانو د نوښت د روحیې په روزنه کې څه رول لوبوي؟

په اوسني وخت کې، د ښوونې او روزنې موخه داده چې هر هغه څه چې کوچنی یې زده کوي، له هغو په عملي او نظري توګه ګټه واخلي او داسې انسانان وروزي چې په راتلونکي کې له کاري اسانتیاوو څخه بشپړه ګټه ترلاسه کړي. له چټکو ټولنیزوبدلونونو، د عملي تفکر له اهمیت، د اړیکو له آسانتیاوو او نویو مرستو او امکاناتو څخه خبر وي، ځکه چې دغه هم د کوچنی د نوښت د روحیې د ودې لامل ګرځي.

- دغه په ټکنالوژۍ او انساني اړیکو کې بدلونونه او پرمختګونه له کومه ځایه رامنځته کېږي؟

ځینې داسې فکر کوي چې ښوونځی او مدرسه یوازې د زده کړې ځای دی. ښوونکي درسي کتابونه زده کوونکو ته ورښیي او زده کوونکي باید هغه حافظې ته وسپاري، په داسې حال کې چې موږ وینو په بشري ټولنه کې هره ورځ بدلونونه تر سترګو کېږي.

طبیعي خبره ده چې په مختلفو ډګرونو کې د پوهانو نوښتونه د بدلونونو، او اقتصادي، علمي او ټولنیزو پرمختګونو سبب ګرځي. نو ویلی شو چې ښوونځي او مدرسه، سربېره پر دې چې د زده کړې ځایونه دي، همدا شان هغه ځایونه هم دي چې د زده کوونکو د استعدادونو غوټۍ پکې غوړېږي او مناسب شرایط ورته برابروي، ترڅو هغوي زده کړي چې څه ډول ابتکار او نوښت باید ولري او څرنګه یې نوروته ورښکاره کړای شي.

- په اوسني وخت کې د ښوونې او روزنې موخه څه ده؟

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-څرنګه کولای شو چې په کوچني زده کوونکي کې د نوښت روحیه پیدا کړو؟

۲- ټکنالوژي او ټولنیز، علمي او اقتصادي پرمختګونه د نوي نسل پر روحیه څه اغېز کوي؟

۳- ایا کولای شو یوازې په ارادې سره یو کار یا عمل تر سره کړو؟

## کورنۍ دنده

په دې اړه چې ښوونځي او مدرسه د نوښت د روحیې په وده کې څه رول لري، شپږ کرښې مقاله ولیکئ.

## د څپرکي لنډیز

- ښوونه یو چاته د پوهې، وړتیا او زده کړې د انتقال په معنا ده.
- روزنه زده کړې او پالنې ته د کوچني له تیارې یا په هغه کې له مطلوب او مثبت بدلون څخه عبارت ده.
- د کوچني د روزنې بنسټ په کورنۍ کې اېښودل کېږي. مدرسه یا ښوونځی د ښوونې او رزونې له هغه بنسټ څخه عبارت دي چې د ټولنې د راتلونکي نسل روزنه په شعوري ډول ترسره کوي او د هغوی په اجتماعي کېدو بوخت وي.
- پر کورنۍ او مدرسه سربېره، چاپېریال، استوګنځی، له همزولو او دوستانو سره اړیکه د کوچني پر روزنه ډېرې اغېزې لري.